د پسرلي موسم و. هرڅه خوشاله او روښانه ښکارېدل ، شنه باغونه،لوی غرونه ،خړي دښتي ،پراخي کروندې شنې اود سپینو غوټیو څخه ډکي وني ، ښایسته او له خونده ډکي ښکاریدې،هر پلو د مرغیو اوازونه اوریدل کیدل چي تا به ویل کاشکي تل داسي موسم وای.

زه به چي ماپښین له کوره را ووتم تر ماښامه به په شنو دښتو کي ګرځېدم او د کایناتو څه به مي خوندونه اخستل،دخدای(ج) قدرتونو ته به حیران تللی وم. یوه ورځ ماښام ډېر ناوخته وو چي کورته راغلم، ګورم چي د کور ومخ ته یو موټر ولاړ دی. ورته ومي کتل چي زموږ ګاونډی شیر ګل دی. ما سلام ور واچوی، دوی هم زما سلام علیک کړ، وروسته مي پوښتنه ځني وکړه چي خیر خو دئ ؟

شیر ګل راته وویل :

مور کی مي ناروغه ده اوس یې ډاکټر ته بیایم .

ما ورته وویل:

ولي څه په وسول، ډیره خوبه نه وي په تکلیف ؟

شیر ګل راته وویل:

مخکي هم یوڅه مریضه وه ، خونن یوه حمله ورباندي راغله،بیسده سوه او سخته تبه یې و سوه .

ما ورته وویل:

ولي دي مخکي دوا نه په کول،هله ژرسه چي ډاکټر ته یې بوزو.

شېر ګل راته وویل :

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



مننه زه يې بيايم تانه په تکليفه وم .
زه ورته ټينګ سوم چي يا زه هم حتماً درسره ځم، د شېرګل مورکۍ مو،چي ما به ورته شين خالۍ خاله ويل په موټر کي سپره کړه او شفاخانې ته مو بوتله . هلته يو ډاکتر شين خالۍ خاله معاينه کړه دوا يې ورکړه او مونږ ته يې وويل چي دومره مريضي يې نه ده يوڅه کمزورې سوې ده. انشاالله له دې دوا سره به جوړه سي ،تاسي کولای سی چي کورته يې بيرته بوزی ،موږ هم شين خالۍ خاله له شفاخاني څه بيرته کورته راوسته، په لاره کي شين خالۍ خاله راته وويل:
زويه ته ناحقه راسره په تکليف سوې؟
ما ورته وويل:
چي بيخي نه يم په تکليف سوی،ته خومي خپله خاله يې ولي داسي راته وايې.
شين خالۍ خاله هم دعا راته وکړه چي خدای دي کاميابه لره ، دوی خپل کور ته ولاړل زه هم خپل کورته راغلم کور ته چي راغلم مور مي پوښتنه راڅخه وکړه:
څو مره ډېر وځنډې دې چيري تللی وې ؟
ما ورته وويل:
شين خالۍ خاله مريضه وه له هغې سره روغتون ته تللی وم،ځکه راباندي ناوخته سو.
ماته مي مور بيا وويل:
ولي څه په سوي وه؟
ماورته وويل:
دتشويش خبره نه ده ،ډاکتر ورته وويل چي يوازي کمزورې سوې ده ،نوره کمه خبره نه وه، کيدای سي چي سهارته به ښه سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مورمي ماته ډوډۍ ساتلې وه ډوډۍ مي و خوړه چای مي هم وڅښلې لمونځ مي وکی وروسته نو بیده سوم سهار وختي راکښېښستم، ترلمانځه وروسته د شیر ګل کورته راغلم او شین خالۍ خاله هم راغله ،ماته یې وویل:

چي زویه زه خو جوړه سومه .

ما ورته وویل :

ښه سو چي جوړه سوې ، زه هم ستا پوښتني ته راغلم چي شین خالۍ خاله به څنګه سوې وي ،جوړه سوې به وي که یا،چي ته مي جوړه ولیدې خوشحاله سوم.

شین خالۍ خاله هم خوشحاله سوه او راته وه یې ویل:

خدای دي د یو ښه کوزدې خاوند کړه چي زما دي پوښتنه وکړه ،ماښام هم راسره په تکلیف سوې کور دي ودان . ماته چي شین خالۍ خاله دکوزدی نوم رواخیستی، نو د کوزدې نوم ډیر ښه خوند راکی، او په زړه کي مي وویل :

چي کاشکي د کوزدې خاوند سوی وای، نو د شیرګل سره مي د سهار چای هم وڅښلې او ځني را رخصت سوم .

کورته راغلم له ځانه سره چورت وهم چي اوس خو ځوان سوي یې باید چي دکوزدې غم وخورې،نو مي له ځان سره دا تصمیم ونیوی چي باید کوزده وکړم .نو د ځوانۍ زړه دې چي هر څوک راته وایي د پلاني ښه لور ده نو ما به له ځانه سره ویل چي داغه به زه کوم ، اخیر ته مي د نظرجان اکا لور په دې خاطر چي د هغې صفتونه ترنورو ډېر کیدل او ښایست ساري یې نه وو انتخاب کړه ،ما ویل که یې را کوله نوله دې سره به واده کوم . اوس نو په دې چورتو کي غرق یم چي خپل کور خو نه سې ویلای چي د نظر بابا لور به راته کوی ، یا زه هغه نجلۍ کوم ځکه

(c) ketabton.com: The Digital Library

شرمېږم اوخپل شرم راته دا جاېز نه ګڼل چې ورته و وایم،حیران وم چې څه به کوم تر څو مې دا فیصله له ځان سره وکړه چې شرم به شاته کوم اول به شین خالۍ خاله ته وایم که یې همکاري راسره وکړه خوبیخي به ښه وي ، خیر په ډېر کم جرت سره د شین خالۍ خاله کورته ورغلم هغې ته مې وویل:

چې خاله زه یوه خبره درته کوم خو چې خپل زوی شېرګل ته به لا هم نه وا یې.

شین خالۍ خاله راته وویل:

چې دا څنګه پټه خبره ده چې شېرګل به لاهم نه په خبروم ؟

ما ورته وویل :

چې هو هغه به هم نه خبروې ځکه ډېره مخصوصه خبره ده .

شین خالۍ خاله راته وویل:

صحیح ده راته و وایه چې هره خبره وي زه یې منم اوهیچاته نه وایم.

ما ورته اول دنظرجان اکا کور و ښودی،بیامې د نظرجان اکا لور ور و ښوده،چې هغه مې خوښه کړې ده ،هغه به څنګه د ځان کړم،خپل کور خو چاته نه سم ویلای ،حیران یم چې څه وکړم خو ته به په دغه کار کې مرسته راسره کوې.

شین خالۍ خاله راته وویل:

ښه دا خبره ده ،داسې و وایه چې مین سوی یې؟

ما چې ویل څه به راته وایې دا خو ډېر اسانه کاردی ،اوس ته راته و وایه په مرکه ورسم که څه وکړم ؟

ما ورته وویل:

چې هو ورسه چې دوی څه درته وایي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

شین خالۍ خاله راته وویل:

چي زما خو داسي خوښه ده چي اول يې لور و وینم وروسته به مر که ورته وکړو، کیدای سي تاته چا ویلي وي خوښایسته نه وي .

ما ورته وویل:

چي زه نور نه په پوهېږم ،ته پوه سه اوکار دي ،خو دومره درته وایم که دي دا کار سرته ورسوی ډیره غټه شریني به درکړم .

شین خالۍ خاله راته وویل:

چي ته خو مي لکه زوی داسي یې ستا څه شریني واخلم .

ما ورته وویل:

چي که داسي وي نو بیا بیخي ښه ده .

شین خالۍ خاله راته وویل :

ته دا خبري پرېږده اصلي خبري به را واخلو زه به نن ماپښین ورسم او تا ته به سبا ټول معلومات درکړم ،دا کارنو اوس ماته پرېږده،زما سره ته ډېر ستړی سوې چي روغتون ته دي بوتلم، زه به هم دغومره ستاپه کار کي ځان ستړی کوم .

نو مي شین خالۍ خاله ته کار ور وسپاری او ځني را رخصت سوم ،زړه مي ډیر دربېدی چي څنګه به سي دا کار به سره ورسيږي که یا، بس توکل په خدای مي وويل چي خدای خو مهربانه دی ګوندي سره ورسېږي، خير دا دی سبا سو ورغلم د شين خالۍ خاله کورته . شیرګل له کوره را ووتی او راته و یې ویل:

په خیر راسې راځه کورته ولي ولاړ يې ؟

ما ورته وویل :

چي ستامورکۍ مي په کار ده .

شیرګل خپلې مورته ور بږغ کړل او ما ته يې وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



زه ځمه یو ځای کار لرم مورکۍ راځي. شیرګل ته مي رخصت ورکړ شین خالۍ خاله هم راغله او راته و یې وویل:

چي زویه ښه ځای خو دي انتخاب کړی دی،ډیره ښایسته نجلۍ وه ته غم مه کوه ډېر ژر به ستا سي. دا خبره چي یې را ته وکړه ډېر خوشاله سوم ما ورته وویل:

څه دي وکړه حال راکه.

شین خالۍ خاله راته وویل:

چي زه پرون ماپښین دهغوی کورته ورغلم ،هلته مي یوه ښایسته نجلۍ ولیده او ورته ومي ویل زه له یوه لیري ځایه راغلې یم ډېره ستړې سوې یم، که دي یو ګیلاس یخې اوبه را کړې ثواب به دي سي. دغه نجلۍ کوم چي تا انتخاب کړې وه ماته یې اوبه راوړلې ،ما پوښتنه ځني وکړه چه کور مو نور څوک سته ؟ نو دې راته وویل :

چي یانن زه یواځې یم او مور مي یوځای تللې ده کیدای سي وروسته راسي .

ما ورته وویل :

چي نوري خوندي هم لرې ؟

دې راته وویل:

چي یا په کور کي یوه زه یم،یو مي پلار دی او یوه مي مور ده .

ما ورته وویل :

داغه تاسي دري تنه په کور کي اوسېږی نور څوک نسته؟

دې راته وویل:

چي هو موږ په کور کي داغه درې تنه اوسیږو .

ما ورته وویل :

کولای سم له تا یو څو پوښتني وکړم او ته ځواب راکړې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

دې راته وويل:
ولې نه سل پوښـتـنـې خو وکړه .
ما ورته وويل:
نوم دې څه شی دی؟
دې راته وويل :
زرغونه.
ما چې د شين خالۍ خاله له خولې دا نوم وا ورېدې و لړزېدم چې نوم يې لا ښايسته دی دا به څومره ښايسته وي نو ورته غوږ سوم ما ورته وويل:
ښه نور.
شين خالۍ خاله راته ويل ته لکه چې اوس لا په چورته کې ډوب سوې .
ما ورته وويل:
يا ته کيسه کوه تا ته مې غوږ نيولی.
شين خالی خاله وويل :
بيا مې پوښتنه څنې وکړه ښه زرغونې جانې واده دې کړی دی که يا ؟
زرغونې وويل :
واده! تراوسه مې کوزده لاهم نه ده سوې .
ما ورته وويل :
ولې يې نه کوې ؟
زرغونې وويل:
وبه يې کړم تر اوسه خومې عمر هم لږدی او بل داسې زماپه خوښه څوک هم نه دی راته پيدا سوی .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ورته وويل:
که پيدا سو بيا خو به يې کوې؟
زرغونې وويل :
ولي نه ژوند بې واده څه خوند کوي او چي زماپه زړه وي بياخويي بيخي کوم .
ما ورته وويل :
که داسي وي نو زه راغلې په همدې خاطر يم ته مي ور وښودې او ستاسو کور،چي ډيره ښه کورنۍ ده ښه خلک دي ښه ځای دی اوستاسو سره يې زړه دی چي دوستي وکړي .
زرغونې راته وويل:
خاله داڅنګه کيسې کوې زه خودرڅه شرميږم هم،خيردا چي ته وايې نو هغه څنګه ځوان دی او کمال لري نې لري؟
ما ورته وويل:
ډير ښايسته ځوان دی دومره ښايسته چي تر تا ډير ښايسته،کاريګرهم دی او دښه کمال خاوند هم چي ته وائي هغه خوی پکښې کي دی ،چي ستا هرکمال خوښ وي هغه کمال پکښې دی،نور نو ته څه غواړې.
زرغونې وويل:
که داسي وي څنګه به هغه ووينم .
زه ورته حيرانه سوم او پوښتنه مي ځني وکړه چي ورسره ليدلای سې؟
زرغونې وويل :
چي وو ولي نسم ورسره ليدلی ته دومره حيرانه ولي شوې .
ما ورته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوربه درته اجازه درکړي چي له هغه سره ووينې .
زرغونې وويل:
ولي نه د يو ساعت لپاره خو اجازه راکوي يو بهانه نه يو بهانه به ورته وکړم اوله هغه سره به ووينم.
ما ورته وويل:
چي دا خو بيخي صحي ده زه له هغه سره خبري کوم چي هغه څه وايي اوس ماته اجازه راکړه زه ځمه سبا انشالله درته راځمه .
زرغونې وويل :
دومره ډير وخت تيروې،يوڅه خوژر راسه .
ما ورته وويل :
زه کوښښ کوم چي ډيرژر راسمه کنې سبا خوبيخي راځمه.
نو زرغونې رخصت راکړ او راغلمه کورته ستاسو کره درغلم ته نه وې، اوس نو ته په دې کي څه وايې ورسره وينې ، نه ويني څه ورسره کوې .
ما ته چي کله شين خالی خاله دا خبري وکړې لاسونه مي ورمچ کړل او ورته ومي ويل چي ولي نه ورسره وينم چيري به ورسره ووينم، تر څو زوړ ميدان مي په نظر کي راغی، چي په زاړه ميدان کي به سره ووينو ځکه زوړميدان مشهوره ميدان وو اوهرچا پېژندی هلته هيڅوک هم نه وي ،هلته خوراتللی سي.
شين خالی خاله راته وويل:
هغه ځای زما هم درسره خوښ دی زه به نن ورسم د سبا لپاره به هغه ځاي ور وښيم چي هلته راسي .
ما ورته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

سبا دسهار نهه بجې ور و ښیه صحي وخت دی ، شین خالۍ خاله وویل:

بیخي صحي ده زه هم همداسي ورته وایم.لکه چي کارمي درته سم کی زویه.

ما ورته وویل:

ډیره مننه زه دي وګټلم زما څومره وار ورته خطا وو، تا څومره اسانه کی ستاشریني پرماپور ده.

شین خالۍ خاله راته وویل:

دا خو بـیخي اسانه کار وو،هسي ته ورته وارخطا وې .له شین خالۍ خاله څخه رخصت سوم  او د سبا د نهو بجو په انتظار وم چي زرغونه جانه به راځي، نوم مي هم زده کی په دغه ورځ ماځیګر وو چي کور ته راغلم،او شین خالۍ خاله هم زموږ په کور کي ناسته وه .

سترې مه سې مي ورسره وکړه .اوپه اشارو یې و پوهولم چي هغه کار سرته ورسیدی سبا به هغه ځای ته ورسې .

ډېر خوشاله سوم چي کله به سهارسي،خیر شپه سوه او دا شپه راباندي دومره اوږده سوه لکه پوره یو کال ،په هیڅ رقم نه تېرېده چورتونه مي وهل چي داسي به کوې، داسي به کوې ،دابه کوې ، دابه ورته وایې ، دابه نه ورته وایې زر رقمه پلان جوړ کړم بیرته راڅخه خراب سي څه وڅه وکړم خو بیا هم په هیڅ رقم شپه نه تیریږي، شپه نه وه یو کال و چي تیر سو، سهار نهه بجې به لانه وې زه زاړه میدان ته ولاړمه  او د زرغونې انتظار مي کوی یوې خوا او بلي خوا  ګورم ترڅو په یوه شنه چادري کي مي یوه ښځه تر سترګو سوه چي زماوطرف ته راروانه وه ډېر خوشحاله سوم ما له ځان سره وویل که وه داغه به وي. رښتیا هم هغه خپله زرغونه وه اوراغله زما خواته ،کله چي  را ورسېده

(c) ketabton.com: The Digital Library

نوزه داسي رېږدېدم داسي رېږديدم لکه د ملاريا تبي چي نيولی وم،بيخي مي ځان نسو کنټرولولای، تر هغه وخته مي ليدلې هم نه وه مګر ډير رېږدېدم کله چي ښه را نيږدې سوه او زما له څنګه سره ودريده نو لړ مي ريږديدل ارام سول ،ما سلام نسوای ور اچولای ،لومړی زرغونې سلام را واچا وه .ما يې سلام عليک کړ او ورته و مي وويل:

په خير راغلې ؟

زرغونې وويل:

خير دی په نصيب سه په خير راغلم .

ما ورته وويل:

کور دي څه بهانه وکړه ؟

زرغونې وويل:

بهانه پرېږده دا دې درته راغلمه راغوښتې دي وم. ما ورته وويل:

ښه سو چي راغلې نو بوغره دي له مخه نه ايسته کوې داغسي په پټ مخ خبري راسره کوې ؟

زرغونې وويل :

څومره بې صبره يې دا دی اوس به يې ايسته کړم چي ته خوشاله سې .

زرغونې چي له مخه بوغره ليري کړه ما يې چي مخ ته وکتل،داسي مخ يې وه لکه تازه چي غوټۍ ګل سوې وي ، داسي ښايست الله(ج)ورکړی وو،چي زه يې د مخ جلوې ته حيران تللی وم چي څومره ښايسته ده او کوم چا چي ماته ده دې په باره کي صفت کړی وو، له هغه نه هم ډيره ښايسته ده ، زه ده دې دښايست په چورت کي ورک سوم،

(c) ketabton.com: The Digital Library



داسي وم لکه په خوب کي چي يوڅوک وينم،يا کوم ښايسته تصوير ته چي ګورم ،زه لا د دې ښايست ته حيران وم، چي زرغونې راته وويل:

که داغسي راته ګورې نو وخت خوبه زماپه ليدلو تېرسي، ښه ځنګه يې څه حال دي دئ زما عاشقه ؟

ما ورته وويل:

چي حال مي مخکي له دېنه ښه وو، مګر پس له دينه زما حال نورښه مه غواړه زه دي په درياب کي غرق کړم، او ته وايې څه حال دي دئ دغه مي حال سو ستا په لومړي ليدلو باندي چي ته يېويني ځنګه حال مي دی ته مي ويني ښه دي که بد ؟

زرغونې وويل:

بد حال دي خدای نه درباندي راولي ښه حال دي دئ .

ما ورته وويل :

ښه او بد حال مي اوس ستا په لاس دی ما دي صفت له خلکو اوريدلی وو چي ترتا ښايسته په دا کلي کي نسته ،ترتا ښايسته خو په دې کلي کې نه بلکي په دنيا کي نسته.

زرغونې وويل:

مسخرې مه راسره کوه ته برعکس خبري کوې تر ما بدرنګه په دنيا کي نسته، او ته وايې چي ښايسته يم.

ما ورته وويل:

داسي مه وايه اخير زما په خاطر خو مه وايه،څه درته و وايم د ميني او محبت خبري وې چي نه خلاصيدې ډير وخت مو په خبرو تير کې، اخير ته زرغونې وويل:

زه اوس ځمه ډير ناوخته سو سبا به بيا همدلته سره وينو .

ما ورته وويل: دومره ژر ځې يو څه وخت خو لا پاته سه .

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرغونې وويل:

ډیر وخت تیر سو هسي تاته نه معلومیږي، پخواني خلک وایي چي اوګره په تلوارنه سړیږي او ته دومره تلوار کوې وایې چي دومره ژرځې . ما ورته وويل:

چي ځې نو په مخه دي ښه سه سبا به پر همدغه وخت دواړه دلته راځوخوچي هیر دي نسي.

زرغونې وويل:

هو دا صحي وخت دی نه مي هیریږي بېرېږه مه راځمه.

ما هم ورسره خوښه کړه او سره رخصت سوو، زه چي کورته راغلم، چي هرشي ته ګورم زرغونه راته پکي معلومیږي ،په هرشي کي راته د دې خندا ،د دې خبري د دې ښکلا ښکاري، لنډه دا چي زرغونه مي په سترګو سترګو کي وه، دغه ورځ او شپه مي ټوله له دې سره په چورتونو کي تیره کړه، خوب خو مي بیخي کړی نه دی او د سبا راتلو په انتظار ومه چي ژر سهار سي او زرغونه ووینم چي لږ کرار راته حاصل سي، خوسهار سو او اته بجې سولې له کوره مي حرکت را وکی او زاړه میدان ته راغلم هلته انتظار ومه له ځانه سره مي ویل چي نن به ورته څه وایم څه به نه وایم ،داسي نه وي یوه خبره مي ترخولې و وزي او راڅخه خوابدې سي،بیابه ټول عمر پر اورګرځمه او س خو مو سره لیدلي هم دي ،خیر دغه چورتونه دي وهم یې چي زرغونه راغله،اوزه بیخي په خبرسوی هم نه وم، سلام یې روا چوی او بوغره یې له مخه لیري کړه ،ما یې سلام ته علیک و وایه اودا وارمي په لاس سترې مسې ورسره وکړه،ما چي یې لاس په لاس کي ونیوی دومره خوشاله سوم ما ویل له ډیري خوشالۍ نه مي زړه ونه دریږي ښه پوښتنه مي ورسره وکړه او دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

هم راسره ښه خبري وکړې . بیا مو د میني خبري شروع کړې په اخیر کې زرغونې راته وویل :

سبا شپې ته مي زموږ کره میلمه یې او میلمه هم خاص زما یې .

ما ورته وویل:

کور لکه چي څوک نسته چي میلمه کوې مي که څنګه؟ او میلمستیا به زه درته کوم ته یې څنګه راته کوې.

زرغونې وویل:

اول ما درته ویلي دي زما میلمستیا وخوره وروسته زه ستامیلمستیا خورم ،او کور مي هم پلار سته هم مي مور .

ما ورته وویل:

دومره ژر راته خواشینې سوې په هغوی مي لکه چي وژنې، او هغوی به بیا تا ته څه وایي چي دا پردی سړی دلته څه کوي بدنامه کوې مي . زرغونې وویل:

داسي مه وایه ما خپله زما مور او پلار ته دا خبره کړې وه چي زه سبا ته یو میلمه لرم ته مي ورښودلی یې او ستا صفت مي هم ډیر ورته کړی دی، زما مور او پلار راسره ومنله .چي ستا خوښه وي زموږ هم درسره خوښه ده .

زه یقیني ډیر وارخطا سوم چي دا څنګه کیسه سوه او ورته ومي ویل :

دا نه درسره منم، بل چی هر څه راته وایې پر دواړو ستر ګو یې درسره منم ،خو زرغونې جانې دا کار ډیر راته ګران ښکاري.

زرغونې وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

وارخطا کېږه مه ،ما خپل مور او پلار ته ويلې دي چي زه له تا سره مينه لرم او دوی هم ما ته د خپلي ميني اجازه راکړې ده . او بل زه درسره يم ستا ولي وارخطا دی ،حتماً به راځې .

ما ورته وويل: چي ته دومره ټينګار کوې نو صحي ده که مرم هم در سره ځمه .

زرغونې وويل:

ولي داسي وايې خدای دې مه وژنه، زه درسره يم هر څه سم دي،دهيچا پروا مه کوه، اوس رخصت راکه سبا شپه لږ وختي راسه زه دي انتظار کومه، اوهلته به ډيري خبري وکړو .

ما هم رخصت ورکې،کله چي زرغونه راڅخه تله ،لکه زمازړه چي يې هم ورسره وړی،ترهغو مي ورته کتل ترڅو چي له سترګو مي پناه سوه، او بيازه هم کورته راغلم ؛حيران تللی وم چي څنګه مور او پلار يې دي هغوی هيڅ نه ورته واي او د دې زړه څومره غټ دی يوه هفته نه کيږي چي سره شناخته سوي يو او بيا مي ميلمه کوي،خير دا ټولي خبري مي پرېښودې او ومي ويل :

که هر څه پېښيږي پيښ دي سي زماد زرغونې د سترګو له خاطره قبول دي، خير دی که ورباندي بدنامه هم سم پروا نه کوي ،پرته له دېنه خو نور ژوند هيڅ خوند نه کوي ،دا دی سبا ماښام وختي د زرغونې د کور پر خوا ور روان سوم ، پښې مي رېږدې دې وارخطا هم وم څو کور ته يې ور ورسېدم د کور دروازه مي سوکه ور وټکوله که ګورم دروازه د زرغونې پلار راخلاصه کړه او راته و يې ويل: راځه زويه ولي ولاړ يې .

ما سلام ور واچوی او ده زما سلام عليک کی او زه هم سرای ته ورسره ننوتلم دزرغونې پلار راته ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته د زرغونې جاني میلمه یې ؟
ما ورته وویل:
چي بلې هو هغه زه یم زما په زړه نو یو الله خبر و چي څومره وارخطا وم او څومره په وارخطایي مي ځواب ورکوی ،خو ولاړلو په یو خونه کي کښېنستو او دزرغونې مور او زرغونه هم راغله ستړې مسې یې راسره وکړه ،زه نو دومره وارخطا وم چي یواځي زرغونه په ما پوهیده،مور او پلار یې نه دي راپوهیدلي ، زرغونې راته وویل:
یخي اوبه درته راوړم .
ما ورته وویل:
هو رایې وړه.
زرغونې اوبه راته راوړي. اوبه مي وڅښلې لږ څه ارامه سوم. دزرغونې پلار پوښتني راڅخه کولې. ما یې ځوابونه ورکول.ترڅو د ډوډۍ خوړلو وخت سو؛ ډوډۍ مو وخوړله چای مو هم وڅښلې،ټول شیان چي خلاص سول،نو د خوب کولو وخت سو، دزرغونې پلار راته وویل :
چي زویه موږ خوبیدیږو ته به هم بیده سې که چیري یواځي بېرېږې ي نو زه به درسره پرېوزم ؟
ما ورته وویل:
یا زه یواځي نه بېرېږم همیشه یواځي بدېږم ،تاسو بیغمه بیده سی .نو ټولوته مي اجازه ورکړه او زه هم په ځای کي بیده سوم ،له ځان سره دا چورت راولویدی چي نه یې پلار وزرغونې ته څه وویل نه یې مور ورته وویل څنګه خلک دي څنګه رواج یې دی، حیران تللی ومه ماویل څنګه ژرسره شناخته سوو،زه څومره بختوریم چي دزرغونې دکورنۍ په رقم کورنۍ مي ترلاسه کړه، په دغه فکرونو کي ومه چي خوب وړی

(c) ketabton.com: The Digital Library

وم ،یوساعت به نه وو تېرسوی چي د خوني دروازه راخلاصه سوه او یوڅوک خوني ته راغلل.

ما ورباندي ږغ کړل څوک یې ؟

زرغونې وویل:

ببرېږه مه زه یم،تاخو ویل چي زه نه ببرېږمه .

ما ورته وویل:

ته په دا توره شپه کې څه کوی، ولاړه سه مور او پلار که دي خبر سول قیامت به جوړ کړي ځه ولاړه سه او زما مینه مه بدنامه وه .

زرغونې وویل:

ببغمه اوسه هیڅ نه کیږي هغوی دواړه بیده سول او زه ځني را و وتلمه .

ما ډېري زاری ورته کولې چي ولاړه سه خو زرغونه مي ځای ته راغله، اوله څنګ سره مي کښېنسته، ټینګ یې په غېږ کي ونیولم زه چي یې په غېږ کې ونیولم وریښتان مي ټول جګ جګ ودرېدل، ما ورته وویل:

څه کوې ؟ خوب وینې که څه ، ځان ته دي پام سته .

زرغونې وویل:

یاخوب نه وینم ،تا وینم یواځي تا،ته چي مي له څنګه سره یې ځان ته څه جهان ته مي هم پام نسته . ببرېږه مه زما زړه یې ، زه درسره یم ، اوس به تا ما ته دلاسایي راکوله چي نارینه یې او نارینه خو له هیڅ شي څخه نه بیریږي، ته څومره بې زړه یې او بې زړه انسان کله مینه کولای سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ته چي زرغونې دا خبري وکړلې لږ ننګ راته ودرېدی ،چي رښتيا هم دابڅه ده نه بېريږي زه څنګه وبېرېږم، نو ما هم په غيږ کي ټينګه کړه او ورته ومي ويل:

ستا خبري مي ومنلې، چي بې زړه انسان مينه نسي کولای،له دينه وروسته به زه له هيڅ شخه ډار و نه کړم؛ تر ډېره وخته پوري مي په غېږ کي نيولې وه وروسته مي له غيږي ليري کړه او خبري مو شروع کړې ،ماورته وويل:

چي پلاراومور دې څه نوميږي؟

زرغونې راته وويل:

پلار جان مي نظرجان نوميږي،اومورمي مورنوميږي.

ماورته وويل:

ولي دي د مورنوم نه رابښې.

زرغونې وويل:

چي دهغې نوم نه دربښيم،ځکه دمور نوم يې ترهرنامه ښه خوندراکوي .

ماهم بيا پوښتنه نه ده ځني کړې ، وخت ناوخته سو ،نو ما زرغونې ته اجازه ورکړه چي بالا نو ولاړه سه سهار سو، مور او پلار به دي راکښېنستلي يي . زرغونې راته وويل:

په يوه شرط ځمه که يې راسره منې ځمه کنې تر سهار به درسره يم.

ماورته وويل:

ستا هر شرط مي قبول دی خو اوس ولاړه سه بيا به سهار راته و وايې .

زرغونې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

سهارېې بيا نسم درته ويلای اوس درته وايم او اوس به يې
اورې .

ما هم ورته وويل:

و وايه هرڅه چي راته وايي زماقبول دي .

زرغونې وويل:

شرط دا دی چي سبا به هم راځې بيا مي ميلمه يې.

ما ورته وويل:

پلار به دي پوه سي چي دا ولي هر ورځ راځي له هغوی څخه بد کار دی ،يو څو عمروروسته به راسمه .

زرغونې وويل:

هغوی ما ته پرېښی ده ته راسه هغه مسوليت يې زما.

ما هم ورسره ومنله ،چي ته وايې نو بيا راځم ،ما خو له خدايه غوښتل چي راسم نو مي زرغونه په زور له خوني را و ايستله او زه بيده سوم .

سهار ناوخته راکښېنستم لمونځ قضا سوی وو ځکه ډېر بې خوبه ومه وروسته بيا دزرغونې پلار نظرجان اکا راغی ما ته يې وويل:

زويه سهار دي په خير ،ماښام به دي خوب کړی وي که يا ؟

ما ورته وويل:

چي ډېر ښه خوب مي کړی وو بيخي لمونځ راڅخه قضا سو .

نظرجان اکا وويل:

که دي خوب کړی نو ښه به يي خبري مو ډېري سره وکړې ترڅو زرغونه او مورئې هم راغلې چای مو په ټولو سره يو ځای وڅښلې،تر ډېره وخته پوري هلته وم بيا مي له ټولو څخه اجازه را واخيسته چي زه ځمه خدای په اماني مي له ټولو سره وکړه او له کوره يې

(c) ketabton.com: The Digital Library

راووتلم ،او د راتلونکي شپې په انتظار وم، ورځ تیره سوه او شپه سوه نو زه بیادتیري شپې په څېر د هغوی کورته ورغلم  په هغه خونه کي کښېنستم ،په کومه کي چي مي تیره شپه تیره کړې وه ، له نظرجان اکا او کوروالا څه یې ډېر شرمېدمه،بیخي مي ورته کتلای نسوای،بیامي ویل چي خیردی په مینه او جنګ کې هر څه پېښیږي ،تر هر څه وروسته زه بیا لکه د تیري شپې په څېر یواځې بیده سوم او ټوله راڅخه ولاړل،اوس نو خوب هم نه راتلی ځکه پوهېدمه چي زرغونه خو راځي بیا به ټوله شپه په خبرو تیره وو ،په همدې فکر کي وم چي زرغونې دروازه راخلاصه کړه ، دا وار نو زه هم ډېر دلاوره وم ور ولاړسومه په غېږ کي مي ونیوله؛تر ډېر ساعته مي په غېږه پوري نیولې وه. وروسته مي ورته وویل:

چي خدای مو دي تل سره یوځای لري خدای(ج)مودي نه سره جلاکوي .

زرغونې هم وویل:

چي خدای (ج) سره یوځای کړي یو او همشه به سره یوځای یو .  همداسي ډېري خبري مو ترسهاره پوري وکړې او د سهار وخت را نږدې وو چي زرغونه راڅخه ولاړه .لنډه دا چي پوره یوه میاشت دغسي مینه او محبت زما اود زرغوني سره جاري وو. تر څو ما او زرغونې دواړو همدا تصمیم ونیوی چي نور په میلمستیا یا په بله بهانه څه نه جوړیږي،واده به سره وکړو او د همېشه لپاره به سره یوځای سو، ما ورته وویل:

سبا شپه زه راځمه ستادپلار او ستا له مور سره خبري کوم چي هغوی څه وا یي خوښه یې ده که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

زرغوني هم را سره ومنله چي بيخي صحي ده.سهارسو او د زرغونې له کوره را و وتلم په دا سبا شپه بيا ورغلم تر هر څه له مخه مي دا خبره ورسره ياده کړه چي ما خو داسي تصميم نيولی چي له زرغونې سره واده وکړم او د تل لپاره سره يوځای سو ستاسو څنګه راسره خوښه ده ؟ زه نور له دې پرته يوه ثانيه هم ژوند نسم کولاي دا مي لکه وينه په رګونو کي بهيږي او زما د ژوندنوره خوشالی د دې په لاس کي ده اوس نو تاسي څه راته واياست ستاسو خوښه ده چي موږ واده سره وکړو؟ نظرجان اکا چي زما خبري وا وريدې له خولې نه يې يوه سړه ساه و ايستله او راته و يې ويل:

چي زويه ما به د خدای(ج) بل ارمان نه درلودی چي ته مي زوم سوی وای موږ به له تا بل ښه ځوان چيري پيدا کړو ،ښه خوش اخلاقه او مهربانه ځوان يې خو خبره دا ده چي زرغونه خو ماله يو بل چا سره قول کړې ده زويه . او زه په خپل قول ولاړيم ،بې قولي نه کوم زرغونه خو د بل چا امانت ده .زه يې تا ته نسم درکولای.

ما ورته وويل:

چي دا خبره خو ما ته نه زرغونې کړې ده او نه هم تاسو راته ويلې د، دا بيا څه عجيبه کيسه ده .

نظرجان اکا راته وويل:

چي رښتيا هم داغسي ده ما ستا زړه نه خپه کوی ما دا فکر کوی چي ته به د زرغونې دوست يې نو په همدې دليل مي نه درته ويل اوس پوه سوم چي ته د زرغونې سره مينه کوې او کيدای سي چي د زرغونې هغه بل نفرکوم چي ما ورسره قول کړی دی ،نه وي خوښ او تاته يې نه دي ويلي ، په دې کي نو زما څه ګناه ده .

ما ورته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي د زرغونې هغه نه وي خوښ نو بيا تاسو ولي دهغې ژوند ورتباه کوی،دا خو دزور خبره نه ده دا خو د خوښي کار دی، زه خو اوس پرته له زرغونې څخه ژوند نه غواړمه ،او نه هم دا غواړم چي پرته لمانه زرغونه دبل چاسي ، خير ته ما ته د هغه نفر ادرس راکړه زه به خبري ورسره وکړم ګوندي زما پر حال يې زړه وسوځي او زرغونه ما ته راپرېږدي او په بدل کي به زه ورته دوه برابر د ولور پيسې ورکړم ،ته اوس ماته دهغه نفرادرس را وښه يه.

نظرجان اکا نه غوښتل چي دهغه ادرس راکړي ،دا پلمه يې راته کول چي زه په خپل قول ولاړ يم ،بې قولي نه کوم ماله هغه سره قول کړی دی .

ماډير مجبوره کی ترڅو د هغه ادرس راکي ، ما ورته وويل چي زه به له هغه سره خبري وکړم ،چي هغه لا څه وايي که يې نه وه خوښه نو زه به له دې کاره تيرسم ، اخير ته يې ادرس راکی ماهم ادرس ځني واخيستی اوله ځان سره مي وساتی،وروسته د ډوډۍ خوړلو وخت سو ډوډۍ مو وخوړه،ماخو بيخي د ډوډۍ څه خوند هم وانه خيستی،بيخي له ژونده بيزاره سوم چي اوس به څه کوې په هرصورت دډوډۍ وخت هم تيرسو او د خوب کولو وخت سو، نظرجان اکا اجازه راڅخه وغوښته ؛ماهم اجازه ورکړه ،دوی ولاړل بيده سول او زه په خپل ځای کي پرېوتلم ډير فکر مي خراب وو ، چي دا څنګه کيسه جوړه سوه،که هغه سړي ما ته زرغونه نه راکوله، زه به بياڅه کوم څه حال به مي وي ليونی به سم،مړ به سم صحرا ته به ولاړسم څه به سم ، بيا مي خپل ځان ته تسلي ورکوله چي خير دی خدای(ج) خو هميشه د ميئنانو مل وي ،بس توکل مي پر خدای تعالیٰ کئ او په دغه وخت کي زرغونه هم راغله راته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



بیده سوی خوبه نه یې ؟

ما ورته وویل:

ستا فکر مي اوس لا هم خوب ته نه پرېږدي،تا خو ماته هیڅ هم د هغه بل سړی په باره کي نه دي ویلې،هغه څوک دی او څه کارو بار کوي؟

زرغونې راته وویل:

چي زه له تاپرته له هیچا سره واده نه کوم ،نه مي ستاپر ته بل څوک په کاردي،زما خپله هغه سړی نه دی خوښ او پلار مي په زور هغه ته ور کوي، ته بیغمه اوسه زه ستاوم او ستا به یمه.

ماورته وویل:

دا چي تا راته دا ډاډ را کی نو زه به هم بیغمه سم ،ښه کچیري ته زمانسوې بیا څه کوې ؟

زرغونې وویل:

که مي نور څه په وس نه و پوره ځان وژنه کوم.

ما ورته وویل:

درواغ خوبه نه راته وایې ؟

زرغونې وویل:

بیا به هغه ساعت سره ګورو او خبر به سې.

ما ورته وویل:

تاد دې کیسې په باره کي ولي اول نه راته ویل.

زرغونې وویل:

ماته نه خفه کولې، هسي هم زه ستایم هغه خو بیخي په کارهم نه لرم که هر رقم وي او ته زما مینه یې نو ما په دې خاطر تا ته نه ویل ځکه ناحقه خفه کیدل هم صیحح کارنه وي،ما دا فکر کوی که

(c) ketabton.com: The Digital Library

درته و وايم نوته به راځخه خفه سې او ستا خفه کيدل راته ډير ګران ښکاريدل.

ما ورته وويل:

بېغمه اوسه سهار زه ورځم په هر رقم چې وي تا د ځان کوم،ته زما يې زما لپاره وې او زما به سې .

زرغونه خوشاله سوه او سوکه موسکی سوه او و يې ويل:

خدای دي وکړي چې ته زما اوزه ستا سم.

ما ورته وويل:

که ته ملګرتيا را سره وکړې بيا مو هيڅوک نسې سره جلا کولای .

زرغونې وويل:

زما سر تر تا قربان دی ،ته چې هرڅه راته وايې زه يې کوم،لنډه دا چې دا شپه مو هم په دغو خبرو باندي تېره کړه . زرغونې ته مي اجازه ورکړه او زه په ځای کې بيده سوم،بيخي خوب نه راتی خوا مي ډيره بده وه ،ناحقه چورتونه را لوېدل،تر څو سهار سو لمر را وختلی او زه په ځای کي ويښ پروت وم،سهار ټوله راغلل چای يې هم تياري کړي وې ،د سهار چاي مي هم د زرغونې په کور کي وڅښلې ،تر نهو بجو پوري هلته وم او وروسته يې له کوره را و وتلم او د بازار پر خوا روان سوم د هغه سړي ادرس راسره دی پوښتنه پر پوښتنه تر څو چې هغه نفر مي پيدا کړی کوم چې نظرجان اکا ورسره د زرغونې قول کړی وو ،هغه نفر يو دوکاندار وو او يو دوکان يې درلودی دپرچون دوکان يې کوی او په دوکان کي ورسره نور ملګري هم ناست وه، ما ورته سلام وا چوی، دوی هم په ټولو زما سلام عليک کي، وروسته مي ورته وويل:

چي دوکاندار په تاسو کي څوک دی؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو جګ ځوان را ولاړ سو راته و يې ويل:

خيرت خوبه وي؟ زه دوکانداريم څه دي ويل.

ما ورته وويل:

ډير مهم شی مي په کار دی، خو په دوکان کي درسره نسته.

احمد راته وويل:

چي دا څنګه مهم شی دی چي په دوکان کي نسته، چي زما په دوکان کي نه وي نو له يو بل ځای به يې در ته راوړم.

ما ورته وويل:

په دوکانو کي هغه شي نه پيداکيږي.

هغه راته وويل:

زه پوه نه سوم اصلي موضوع څه ده سر مي را خلاص کړه.

ماو رته وويل:

ته را يو ګوښې ته سه نو به درته وايم.

احمد هم راسره ومنله او له دوکانه راکښته سو انډيوالانو يې وويل کچيري ډيرضروري کار وي نوموږ به له دوکانه ولاړ سو.

ماورته وويل:

نه ديو څو دقيقو لپاره مي يوائې د احمد سره كاردی،موږ دواړه له دوکانه راګوښې ته سولو او يو غلی ځای کښېنستو ، لومړی ما ځان ورته معرفي کی، وروسته احمد هم خپل ځان راته معرفي کي او هم يې انډيوالان، چي انډيوالان ترخپلو وروڼو څخه هم راتير دي، دغه زما دوکان دی بوره، پلمېټ او نور دغسي شيان پکښې خرڅوم.

ما ورته وويل:

ډير ښه زه د يو کار لپاره راغلی يم، ستا نه په ډير عجز يو شی غواړم. خدای دي وکړي چي را يې کړې ډير زيات ضرورت ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library

لرم ،بې له هغه څخه ورځ مي شپه وي شپه مي ورځ، زه لمن هم درته نيسم ، په ښو کي دي لوېږم پښې در مچوم،تر خپل ژوند راته ډېر ارزښت لري.

احمد وويل:

چي دا څه شي دی چي ته دومره ضرورت ورته لرې، راته و وايه چي زما سر دي هم په کاروي تر تا به يې قربان کړم .چي ته پر ته له هغه څه هيڅ نسې کولای.

ما هم دستي زرغونه ور وښوله او خپله ټوله کيسه مي ورته وکړه چي ما مينه ورسره کړې ده اوس يې هم ورسره کوم او زرغونه هم له ما سره مينه کوي ،تا به تر اوسه پوري هغه ليدلې هم نه وي،خو د هغې پلار نظرجان اکا له تا سره قول کړې ده ،ما ته يې نه راکوي او پرماباندي ئې پلار او مور هم راضي دي ،صرف خبره تر تا پوري معطله ده ،که ته هم راسره راضي سوې نو زه به ستا د ټول عمر احسان منونکی او نيکي ومنم .

کله چي ما دا کيسه احمد ته وکړه .نواحمد راته وويل:

د خدای ساده ته هم په همدې دام کي ګير راغلی يې، زه خو پکښي ګير ومه ، که ته په خبر وې نو تا څه کول.

ما ورته وويل:

څنګه دام څنګه کيسه ده زما ستا په خبرو سرخلاص نسو .

احمد راته وويل:

چي زه ټوله کيسه درته کوم ته به غوږ راته نيسې، کله چي مي کيسه درته خلاصه کړه بيا به پوښتنه راڅخه کوې، تر هغو چي مي کيسه نه وي خلاصه کړې يوه پوښتنه به لاهم نه کوې .

ماهم ورسره ومنله چي صحي ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمد خپله کیسه داسي و کړه :

دغه مي دوکان دی پخوا مي پلار هم دغه دوکان کوی او د پلاره اوس ماته پاته دی زه یې خپله کوم پلارمي سپین ږیری شوی دی خپله ګزاره مو ښه باندي کیږي او له خپل ژوندڅخه ډیر خوشاله یو، د خدای تعالیٰ شکر ګزاره یو څه ښه ده،خو چي له کله راهیسي د زرغونې پلار دوکان ته راغلی دی له هغې ورځي تر اوسه مي بیا خوشاله ورځ نه ده لیدلې، یوه ورځ ماپښین تقریباً څلور بجې به وې چي د زرغونې پلار مي دوکان ته راغلی او د کور لپاره یې سودا را څخه یو وړل، جیب ته یې لاس کی چي دسودا پیسې راکړي ،چي ګوري پیسې ئې په جیب کي نسته ،نو راته و یې ویل چي پیسې خو مي کور پاته سوي دي اوس خونسته سبا به یې انشاالله درته راوړم کور مي هیري سولې ما چي دا ده سپیني ږیري ته وکتل نومي ورته وویل پروا نه کوي سبا به یې راته راوړې، بابا هم کور ودانی راته وویل او سودا یې راڅخه یوړه ،په دا سبا ورځ بیا راغی لس بجې به وې دوکان ته سلام یې را واچوی . بابا دغه نظرجان اکا درته یادوم په دوعاوو یې شروع وکړه دومره دعاوي یې راته وکړې چي خپلي مور به هم تر اوسه نه وې راته کړي، دا یې راته وویل:

چي پرون هیڅا پورنه راکوی او تا پور راکی ستا کور دي ودان وي ،ما دا خبره کور هم وکړه چي داسي یو ښایسته ځوان راباندي مهربانه سو او پور یې راکی په کورکي هم ټولو دعاوي درته کولې چي خدای دي یې ښاد لري په نه شناخت کي یې درته پور درکړی، دغه دي پیسې دي کوردي سل ځله ودان .

ما هم خپلي پیسې ځني واخستلې خپل انډیوالان هم را سره وه ،نظرجان اکا راته وویل:

نن ماښام ته مي میلمه یې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما له ځان سره سوكه وخندل چي پروا نه كوي بابا زه میلمستیا څه كوم پور خو زه هر چا ته وركوم او هر دوكاندار چي چاته پور ورنكړي كله یې دوكان چلیږي او هر وخت خو له چا سره پیسې نه وي ګای كریاب ګای دریاب ،دا خو ډیر عادي كار دی.

خو نظرجان اكا ډیر راته ټینګ سو چي په هر رقم وي راسره ځې به، تر څو زه یې ډیر مجبوره كړمه او انډیوالانو هم راته وویل:

ورسره ولاړسه میلمستیاده میلمستیا ښنګه پرېږدې ،نو مي د نظرجان اكا سره وعده وكړه چي درسره ځمه ، ته ماځیګر ناوخته راسه ،ماته خوستاسو كورنه دی معلوم نو به سره ملګري سو .

د نظرجان اكا هم همدا خبره راسره خوښه كړه او راڅخه ولاړي، انډیوالانو مي ویل چي دا رښتیا ده چي سپین بږیری لكه كوچنیان داسي وي چي ښه ورسره وكړې ښه درسره كوي، تا پرون پور وركړ نن یې ملمستیا درته كړې ده، موږ ته خو پردي پرېږده خپلو میلمستیا نه ده كړې، ټولو انډیولانو دا راسره خوښه كړه چي ورسره ولاړسم.

ترڅو چي ماځیګر سو او نظرجان اكا راغلی،په هغه ورځ مي دوكان هم وختي قلف كئ او له نظرجان اكا سره راغلمه د دوی كور ته ، نظرجان اكا كورته ننوتی او زه یو څو دقیقې دباندي ولاړ وم، ترڅو نظرجان اكا بیرته راغی او زه یې كورته بوتلم او په یوه خونه كي كښېنستو اول یې چای راته روړلې چای مي وڅښلې او د ماښام د لمانځه وخت سو د ماښام لمونځ مو وكی، نظرجان اكا پوښتني راڅخه كولې اوما جوابونه وركول ،ترڅو اخیرته یې د واده پوښتنه راڅخه وكړه چي تا واده كړی دی؟

ما ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

تر اوسه مي نه دی کړي، وروسته يې کومه ما چې دا خبره ورته وکړه نو نظرجان اکا سوکه له ځان سره موسکی سو زما يې په موسکي کيدو باندي سر نه سو خلاص چې دی په کوم خاطر باندي موسکی سو، سر مي پسي و نه ګرځوی د ډوډۍ خوړلو وخت سو ډوډۍ يې راوړله او ډير ښه خوند يې هم وکی، څو رقمه شيان يې راته پاخه کړي وه ډير تکليف يې ايستلی وو، ډوډۍ مو وخوړله بيا يې چای راته راوړلې وروسته تر چايو ما دماخوستن لمونځ وکی او د خوب کولو وخت سو، ما نظربابا ته وويل زه ځمه يوځل تشناب ته.

نظرجان اکا هم زه تشناب ته بوتلم وروسته تر تشنابه راغلم خوني ته، که ګورم د نظرجان اکا لور هم په خونه کې ناسته ده زه چې کله خوني ته ورداخل سوم ،دا راولاړه سوه او زما سره يې په لاس ستړې مسې وکړه، دغه لور يې کوم چې زرغونه نوميږي او بله لورهم نه لري، اوته وائي چې تابه تراوسه پوري ليدلي هم نه وي خير وروسته مي له څنګه سره کښېنسته زه نو دومره شرمېدم چې توبه، هيڅ مي ورته کتلای نه سوای سر مي ټيټ اچولی وو نه خبري ورسره کولای سم او نه هم پوښتنه تر څو چې زرغونې خپله پوښتنه راڅخه وکړه چې زما په خيال شرميږې که څنګه ؟

ما بيا هم له شرمه هيڅ جواب نسو ورکولای .

اخير ته نظرجان اکا راته وويل:

چې احمده زويه! ما ته خو خوب راغلی زه بيدېږمه، ستا سره زرغونه سته هر وخت چې بيده کيدې بيا بيده سه زه درنه ولاړمه دا خبري يې وکړلې او نظرجان اکا د دې خوني څخه خپلي خوني ته ولاړی او بيده سو، موږ يې دواړه په خونه کي يواځې پرې ښودو ،په رښتيا چې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظر جان اکا دا کار چنداني خوند رانکړی چي خپله ولاړی بیده سو او لور يې ما ته يواځي راپرېښوده.

اوس نو زه او زرغونه دواړه پاتي سولو بل هيڅوک نسته زه خبري هم نسم ورسره کولای، او زرغونه پوښتني راڅخه کوي او خبرو ته مي مجبور وي خو زه بيا هم څه نه سم ورته ويلای بيا يې راته وويل:

خوب درځي؟

ما ځان ځني خلاصوی چي ځني خلاص سمه اوراڅخه ولاړه سي نو مي ورته وويل بلي وو پرون مي هم خوب نه دی کړی،اوس به بیده سم ته ولاړه سه.

زرغونې وويل:

ځای در واچوم .

ما ورته وويل:

وو که ځاي را واچوې نوډ يربه ښه سي .

زرغونې وويل:

تر اوسه دي ولي خبري نه کولې ما درته دغه بهانه کوله چي ګوندي پر خبرو راسې اوس دي بيخي خوب ته نه پريږدمه اوما خو خوب ته نه يې را غوښتی .

ماچي هرڅه او هره بهانه ورته وکړه نه يې پرېښودم اخير ته يې زما لاس په لاس کې ونيوی زه يوڅه وارخطا سوم چي داڅه کوې،ترڅو اخير زه هم يو څه دلاوره سوم او ماهم ورسره خبري شروع کړې ،ډيري خبري مو وکړې اخير ته يې راته وويل:

چي پلار مي ويله تا واده نه دی کړی او ما هم نه دی کړی ما به له خدايه همېشه دغه سوال کوی چي يو سخي سړی مي په نصيب

(c) ketabton.com: The Digital Library

سي، او له تا ما سیوا بل همداسي سخي سړی خو پر دې دنیا نسته او زه غواړمه چي له تا سره واده وکړمه ستا راسره خوښه ده که یا؟

دا خبري چي زرغونې ما ته وکړې زه ډیر حیران سوم او ډیر ځني وبېرېدمه چي دا خو یوه نجلۍ نه ده بلکي یوه بلا درسره ده، انجوني خو د کړپ څخه هم بیرېږي او شرمیږي او دا په اوله شپه په نه شناخت کې راسره دواده خبري کوي، نومي زرغونې ته وویل:

زه به کور مشوره وکړم چي کور مي په دې هکله باندي څه واي .

زرغونې وویل:

ته به کور مشوره کوې بیا به راته وایې څومره ډیر وخت به تیر سي.

دا یې راته وویل او نوره هم رانږدې سوه بیخي سره څنګ پر څنګ سولو ، کله چي مي څنګ ته راغله ما یې هم مخ ته وکتل، کتل نه وو قتلیدل و تاته خو معلومه ده چي څومره ښایست الله پاک ورکړی دی،هوښ مي له سره ولاړی او یوخمار حالت راباندي راغی.تر ډیره وخته نشه غوندي ومه ځکه زما هم د ځوانۍ موسم و غرق سومه دومره خوند یې خالي دا لیدو راکړ چي زه یې د مخ و شغلو ته حیران سومه،زه لا په همدې چورتونو کي وم چي زرغونې وویل:

خوب درغلی؟

ما ورته وویل:

یا خوب اوس نه راځي،ته چي مي ولیدې خوب هم راڅخه وتښتېدی.

زرغونې وویل:

ځایونه به واچوم او په ځایو کي به خبري سره کوو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ما ورته وويل:

ته هم دلته زماسره بيدېږې؟

زرغونې وويل:

ولې کوم اعتراض خوبه نه لرې زه هم دلته بيدېږمه او هغه هم ستاله څنګ سره.

ما ورته وويل:

ولاړه سه پلار او مور به دې درته انتظار وي او ستا په فکر کې به وي ته نو يواځې څه راسره کوې مايواځې پرېږده زه نه بېرېږمه.

زرغونې وويل:

خيردی ته راسره يې دوی هم هيڅ فکر نه کوي اوزه تايواځې کله پرېښودلای سم ته يواځې بېرېږې زه درباندې پوهېږم.

ما هم ورته وويل:

نو سمه ده ستاکار دی او ستا خوښه ده زرغونې هم ځايونه څنګ پر څنګ واچول ، زه پر خپل ځای بيده کيدمه ،زرغونه له خپله ځايه راغله او زما په ځای راسره ننوته.

او راته و يې ويل:

ما خو بيده کيدو ته نه يې راغوښتې.

ما ورته وويل:

نو د څه لپاره دې راغوښتې يمه زما څخه ليرې سه او پر خپل ځای دې پرېوزه .

زرغونې وويل:

زما او ستا نو څه فرق سته دواړه سره يو يو دايې راته وويل او په ساتيريو يې شروع وکړه . ما هڅه کوله چې مخنيوې يې وکړمه خونه يې پرېښودمه ،ترڅو چې زما هم د صبر کاسه ورته ډکه سوه او و دې ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

مجبوره سومه چي زه هم ساتيری ورسره شروع کړم نو ما هم ساتيری ورسره شروع کړی دومره سات مي ورسره تيرسو چي تر اوسه مي هم د هغې شپې خوند په خوله کي دی ،خو شپه مو ډيره خوندوره تيره کړه زه هيڅ نه سوم په پوه چي څنګه دا اوږده شپه راباندي دومره لنډه سوه،اخيرمي زرغونې ته وويل چي ډيرناوخته سو اوس ولاړه سه.

زرغونه هم ولاړه سوه ځايونه يې ټول کړل او راته و يې ويل زه به چاي تياري کړم او پلار به مي درته راواستوم صحي ده ما ورته وويل بيخي صحي ده،زرغونه له خوني را ووته اوله هغې خواڅخه نظرجان اکا راغی نظرجان اکا راته وويل احمده زويه خوب دي وکئ ؟ ما ورته وويل چي هو ډير ښه ارام خوب مي وکئ تر سهاره په هيڅ شي نه يم خبر سوی .نظرجان اکا وويل ښه دی چي خوب دي کړی دی، ما او د زرغونې پلار خبري کولي چي زرغونې چا ی راوړلې، چای مي هم له دوی سره وچښلې او رخصت مي څني وغوښت چي زه ځمه دوکان ته .

نظرجان اکا هم رخصت راکی او راته وويل:

چي سبا ماښام به هم راځې .

ما خو له خدايه همدا غوښتل چي يو موقع راته پيداسي او بيا راسم، خو نظرجان اکا ته مي داسي وويل :

چي کور دي تل ودان وي همدغه يوه ميلمستيا مي بس ده،په زړه کې مي ويل داسي نه وي چي راته ووايي چي ستا خوښه ده.
خو نظرجان اکا راته ټينګ سو او و يې ويل:

چي يا حتماً به راځې که نن ماښام نه راځې سبا ماښام خو به خامخا راځې،بالا خو سره انډيوالان يو .

ما هم ورته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

داچي ته دومره ټينګېږي، نو پر دواړو سترګو به راځمه،صحيح ده اوس درڅخه ولاړم تربيا ليدو مو پر خداي (ج) سپارم او له کوره يې را ووتلمه، راغلم دوکان ته دوکان مي خلاص او پاک کړ او پر خپله چوکۍ کښېنستم ،دوکانداري مي شروع کړه د ځانښت خوا وه چي انډيولان مي هم يو، يو راځي ترڅو ټوله سره يوځای سولو،نو له ما څخه يې د تيري شپې د ميلمستيا پوښتنه وکړه چي ميلمستيا دي په خير سول.

ما هم ټوله کيسه له سره تر پايه ورته وکړه ،ځکه انډيوالان مي وه اوله انډيواله خوهيڅوک هم څه نه پټوي ،انډيوال خو چا ته سمه لاره ښي او دا متل دی چي خان يې په ياران يې کنه نوخاوري د بيابان يې او بل دا چي د زړه حال هغه چاته واياست چي هغوی يې تاسو ته واي،ما چي و دوی ته دا خپله کيسه کوله ټوله حيران پاته سول، ما ورته وويل:

تاسو زما کيسې ته غوږ واست که په خپلو فکرونو کي غرق سوي.

ټولو راته وويل:

په رښتيا چي ډيره خوندوره اوډيره نابلده ميلميستيا دي خوړلې ده ،خدای درباندي مهربانه سوی دی خپلي ميلمستياوي خوره ښه کيسه کوه نوره کيسه هم سته که خلاصه سوه؟

ما ورته وويل :

چي يا خلاصه نه ده بله خبره خو لا دا ده ما ته يې دواده کولو پشنيهاد هم وکی،چي واده به هم راسره کوي ،زه اوس څه وکړمه تاسو ما ته څه مشوره راکوئ ايا زه دا واده رسره وکړمه او که يا ؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ټولو راته وويل چي ولي يې نه کوې که دي خوښه سوې وي،هسي باندي بسم الله کړه، ته هم ځوان يې تر څو به واده نکوې، ټولو سو که وخندله او و يې ويل: ياره ته خو يوڅو ميلمستياوې ورسره وخوره وروسته به واده ورسره وکړې ځکه تر واده خو دغه شپې ډيري مزداره وي .

ما ته هم خندا راغله او ورسره خوښه مي کړه چي ستاسو خوښه سوه زما هم خوښه ده او ميلمستياوي به ورسره و خورم بيا به واده ورسره وکړم اوس نو د سبا شپې د را رسېدو په انتظار وم چي کله به سبا شپه سي چي زه يې کورته ورسمه .خير سبا شپه هم را ورسيده او زه د زرغونې د کور پر خوا ورغلمه ،کورخويې دا وار راته معلوم وو يواځې ور روان وم،هلته چي ور و رسېدم دروازه مي وروټکوله، چي د نظرجان اکا برغ مي واوريدی.چي راته وايي:

احمد جان يې؟

ما ورته وويل:

وو احمد يمه.

نويې دروازه راته خلاصه کړه ، ستړې مسې موسره وکړه او د کورخوني ته ننوتلو هغه خونه وه کومه چي تيره شپه مي هم پکښي تيره کړې وه ، زه کښېنستم او زرغونه هم راغله له هغې سره مي هم ستړې مسې وکړه او دا واري نو د زرغونې مور هم راغله، هغه په تيره شپه نه وه راغلې ،هغې هم ستړې مسې راسره وکړه او ټول په هغه خوني کي سره کښېنستلو .

نظرجان اکا راته وويل:

چي زما دا خيال و چي ته به رانه سې ځکه ډير ناوخته سو.

ما ورته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي راتلمه خو سل په سله کې ځکه وعده مي درسره کړې وه اوزه چي له چاسره وعده وکړم نوهغه وعده پرځای کوم.

نظرجان اکا وویل:

ښه دی چي پر وعده هم ولاړ يې نوډيرښه.

ما ورته وويل:

وعده خو قول دی او قول کول خو قسم کول دي .

نظرجان اکا وويل:

صحيح ده نو لاس يې د زرغونې د مور خواته ونيولوی او و يې ويل دا زما کورداري ده او د زرغونې مور ده ،تيره شپه دوروركره ميلمنه وه، نن راغلې ده او ته مي ورته معرفي کړی يې .

ما ورته وويل:

ډير ښه سو چي رامعرفي دي کړه . داچي د زرغونې مور ده زما هم مورده.

نو د زرغوني مور هم دعا راته وکړه چي زويه کاميابه اوسې ستاجوړه خو هيڅ ځاي نسته ته دومره ښه سړی يې چي بل نه جوړيږي.

ما هم مننه ځنې وکړه اور ورته و مي ويل:

موري تشکر دا چي زما دومره تعريف کوی ، وروسته مي زرغونې ته وکتل، زرغونې نو ځان داسي سنگار کړی وو چي توبه ښايسته کالي يې اغوستي وه، بڼغ مي نه ورته وکی له ځان سره مي ويل چي سره يوائې شو بيا به پوښتنه ځني کوم چي ولي دي ځان دومره سينګار کړی دی ،خير دا وار نو له ټولو سره ښه په دلاوری سره بږغيږم او څه جانداري هم راڅخه کيږي ،خبري موسره کولاې او زما تلوار و چي دوی ژر راڅخه ولاړسي؛ زه او زرغونه يوائې پاته سو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

د هغه تيري شپې په رقم نظرجان اکا او کورداري يې دواړه رخصت راځخه و غوښتی چي موږ بيديږو.

ما او زرغونې هم اجازه ورکړه زه دومره خوشحاله سوم چي توبه دستي مي زرغونې ته ورږغ کړل چي څنګ ته مي راسه ، زرغونه مي هم څنګ ته راغله او لږڅه خوابدې راته معلومه سوه .ما پوښتنه ځني وکړه ولي داسي خوابدې معلوميږې ناروغه يې که کوم بله خبره ده ؟

زرغونې وويل:

چي که په دې موضوع خبر نسې ښه به وي ،وروسته تردي ويلو يې موسکی سوه چي خير هيڅ خبره نه ده پرېږده يې.

زه يو څه په تشويش کي سوم او ورته و مي ويل چي هره خبره وي خامخا به ما هم په خبروې کيدای سي چي کومک درسره وکړم .

زرغونې وويل:

زما پر پلار باندي د يو چا پينځوس زره افغانۍ باندي دي،اوس فعلاًيې موږ نه ورته لرو او هغه يې غواړي ،وايي که په زور وي که په رضا ماته به خپلي پيسې را کوی،موږ ټول يې ډير پرېشانه کړي يو چه له کمه يې ورته پيدا کړو .

ما ورته سو که وخندله او ورته ومي ويل:

دا خو د پرېشانۍ خبره نه ده زه خو يمه زه يې ورکومه دا خو دومره پيسې نه دي ،پيسې څه شي دي که زما سر دي هم په کار وي دربه يې کړمه ،تاسو ولي دومره وارخطا کړی دی ،سهار دي پلار زما دوکان ته را وا ستوه زه به يې ورکړمه .

زرغونې وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

په تاخو مي هيڅ زړه نه کيږي دومره پيسې خوچې ته ورکړی نو ستا کارو بار خرابيږي.

ما ورته وويل:

چي ستا نه راباندي زړه کيږي نو صحي ده ،زه سر له سبا بيا هيڅ کله هم د لته نه راځمه.

زرغونې زما پر خوله لاس ونيوی او راته و يې ويل:

داسي مه وايه زه به څه کوم چي ته نه يې ټوله دنيا به راته اورسي،صحي ده چي ته يې ورکوې نو سهار به مي پلار در واستوم،زرغونه پوه سوه چي دا کار خو و سو دستي يې دا راته وويل :

تا کور مشور وکړه که نه؟

ما ورته وويل:

مشوره مي وکړه خو يو څه وخت به سره صبر سو،تلوار په دې کار کي په کار نه دی.

زرغونې وويل:

يو څو عمر وروسته ! ښه ستاخوښه ده خوزه بېرېـږمه چي له لاسه دي ورنکړم ؛دايې راته وويل او په غيږ کي يې د يوڅو شيبولپاره ټينګ کړمه.

ما ورته وويل:

بيغمه اوسه تر تا زما ډير ورته تلوار دی او هم ترتازه ډير بېرېږمه چي زماله لاسه هم ونه وزې، اوس که مي ټوله هست او نيست پرتا ولاړ سي نه دي پرېږدمه، لنډه دا چي دا شپه مو هم په ډيري خوشالی سره تيره کړه سهار سو د چايو وخت وو چای مو يوځای وخوړلې او نظرجان اکا ته مي وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

چې زه دوکان ته ځمه پر لس بجې راسه هغه پیسې کومې چې پر تا باندې دي هغه به در کړم،ماته زرغونې ټوله کیسه کړې ده .
نظرجان اکا او کورداري یې بیا دعاوي راته کولې او زه ځني راغلم دوکان ته لس بجې به وې چې نظرجان اکا راغی ما پیسې ور برابرې کړې وې پیسې مې د انډیوالانو په مخ کې ورکړې او د چایو ست مې ورته وکئ، خو چای یې نه راسره څښلې او راڅخه ولاړی، انډیوالانو مې ویل چې څومره ډیرې پیسې دې ورکړې دومره ډیرې پیسې یې څه په کولاې ،په لږ موده کې سره شناخته سواست او دومره ډیرې پیسې دې ورکړې .
ما ورته وویل:
د یوچا پر باندې وې له دوی سره اوس نه وې ما وعده ورسره کړې وه بیرته یې راکوي .
انډیوالان مې نور څه ونه ویل،بیرته په خپل مجلس سره اخته سوو. دا واري خو نظرجان اکا نه وه راته ویلي چې څه وخت راسه،خو په دې کې څلور شپې ووتلې نه د نظر بابا درک وو نه زه ورغلی وم، په دا پینځمه ورځ مې د ځان سره وویل:
که نن نه راغلی زه خپله ورځمه، اوس خو سره شناخته سوي یو، تر ماځیګره ورته معطله ومه ؛خو نظرجان اکا نه راغلی ، ما هم دوکان بند کی او بې سته یې کور ته ورغلمه ؛ دروازه مې ور وټکوله او خپله نظرجان اکا دروازه راخلاصه کړه، ستړې مسې مو سره وکړه او ولاړلو خونې ته زرغونه او مور یې هم راغله هغوی هم ستړې مسې راسره وکړه او په خونه کې کښېنستلو، خبرې مو کولې خو زرغونې په مات زړه خبرې راسره کولې حیران ومه چې نن بیا ولې داسې خوابدې ده ،زه په دغه فکرو کې ومه چې زرغونې سوکه راته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



چيري وې دا دونه عمر نه دي پوښتنه کول نه حال نه احوال ځومره په زړه سخت يې ،له ما څه خوابدي يې کچيري ما کومه خطا يا بده خبره کړې وي نو ما ته بخښنه وکړه، اول ځل مي د ميني دی هغه هم له تا سره اوس يې له تانه زده کوم او ته به ماته مينه را زده کوې .

زه وارخطا سومه چي مور او پلار يې وانه وري ما ورته وويل:

وروسته به ږغيږو اوس خودوی دي .

زرغونې په زوره وويل:

دوی دي وي زه خو له تا سره مينه لرمه نو څه که هرڅوک راخبر سي پروا مي نسته او ته له ما سره مينه نه کوې نو ځکه بېرېږي.

کله چي زرغونې دا خبري راته وکړې له خواشينی څخه مي سر سره وګرځېدې؛ او ورته مي ويل:

زه بېرېږمه نه بلکي زموږ کره ميلمانه راغلي وه له هغوی سره اخته ومه ، کنې ستا پوښتنه خو مي حتماً کوله او خدای(ج) دي هغه ورځ نه راولي چي زه به ستا څخه خوابدی يم، زه له هغو ميلمنو سره مصروف وم ، هغه مي څنګه يواځي پرې ايښي وای، يا ته راته و وايه،ايا زه ملامت يم چي ستاپوښتنه مي نه کوله ؟

زرغونې راته وويل:

ښه چي داسي کيسه ده نو بيا نه يې ملامت رښتيا هم ميلمه د خدای(ج) دوست وي او ميلمانه خو هغه څوک کوي چي د خدای(ج) دوستان وي ، وروسته په خپله سپينه خوله داسي په هنرمنانه انداز سره موسکی سوه چي توبه ما چي د دې دا سوکه موسکي کيدل وليدل دومره خوند يې راکی چي خمار مي باندي مات سو او له خدايه(ج) شکر ګزاره سوم چي داسي يو ښکلی نعمت يې را باندي پيرزوکړی دی،زما زړه ته نو زرغونه دومره نږدې کيده لکه د خپل زړه دربيده تر هغه هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



راته نږدې وه، زه د خوند په دنیا کي غرق ومه چي نظرجان اکا راته وویل:

احمده نن خو مو بینډۍ پخې کړي دي که داسي خبر وم چي ته راځي نو ښه شیان به مي درته پاخه کړي وای.

ما ته د تظرجان اکا دغه خبري ډیر زور راکی .خوږغ مي ونکۍ.

بیا یې راته وویل:

خدای(ج) دي وکړي چي په بینډیو غاړه راسره وباسې، رښتیا بینډۍ دي خوښي دي .

ما ورته وویل:

چي یاداسي نه ده،پیازدي وي په نیاز دي وي ته خو لا بینډۍ ښه یې، زه خو د ښه ډوډۍ لپاره نه راځمه زه خو ستا سو په خاطر راځمه که ډوډۍ نه وي هم هیڅ پروانه کوي پر خالي سترخان درسره کښېنم او خوشاله به یم .

نظرجان اکا راته وویل:

زموږ د ټولو په خاطر راځې که یواځي د زرغونې په خاطر راځې؟

زه حیران سومه چي زرغونې لکه چي دوی هم را خبر کړي دي، نو زه هم ورسره سپین سترګی سوم چي نو تاسو چي وایاست د زرغونې په خاطر راځمه؟ .

نظرجان اکا وویل:

زه پوهېدمه چي دغسي به وا یې .

زرغونې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

صحي ده چي دی زما په خاطر راځي تاسو اوس دا بحث پرېږدي زه ځمه ډوډۍ راوړمه زرغونه ولاړه په ډوډۍ پسي زه او نظرجان اکا او دزرغونې مور پاته سولو، نظرجان اکا راته وویل :

چي احمده زویه ! له کومي ورځي څخه چي ته زرغونې لیدلی یې بیا تر دا اوسه ،زرغونه یو رقم چورتي ښکاري زه باندي پوهېږم چي مینه او محبت یې درسره پیدا سوی دی، ما به مخکي ستا د لیدلو نه زرغونې ته ویل چي لوري د پلانکي زوی دي رانه غواړي ښه تعلیم یافته او ښه ځوان دی او ښه کورنی یې هم ده هغه ته به دي ورکړم، ستا څنګه خوښه ده پیسه داره او د ښه نامداري کورنۍ خاوندان هم دي.

خو زرغونې لور مي په هیڅ رقم نه راسره منله یوه بهانه نه یوه بهانه به یې راته کول ،خو تیره شپه مي ستا دا ورته وویل چي له ده سره واده کولو ته تیاره یې زرغونې راته و ویل چي پلارجانه چي ستاسو هر رقم خوښه وي زما در سره خوښه ده، تا سو پر ما حق لری چي هر ځای مي ورکوی هرچاته مي ورکوی زه څه نه وایم، دا زما کارنه دی ستا او دمورجاني کار دي.

زه اوس تا ته دا وایم کچیري له زرغونې سره دي واده کول زړه وي او د کورنۍ دي هم خوښه وي ، نو موږ درباندي خوشاله یو ته په دې کي څه وایې؟

ما چي ده نظرجان اکا دا خوږې او ښایستې خبري وا وریدلې دومره خوشاله سوم چي په کالوکي نه ځایدمه ، دستي د زړه دربیده را ولویدل او یخ مي کیدی ،ځکه ما خو پر اسمان غوښتل خو خدای(ج) پر مځکه په لاس راکړه؛ نو مي ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



که تاسو خوشحاله یاست زه خوبیخي ډېر خوشاله یم او بل دا چي که زما د کورنۍ هم نه وي راسره خوښه زماخوښه ده، او دا به ستاسو پر مالوی احسان وي چي ماته زرغونه راکړی .

نظرجان اکا راته وویله:

صحي ده زموږ خو درسره خوښه ده ، لور مي ځوانه او پېغله سوې ده دواده کولو وخت یې دی او اوس زمانه هم بیخي سره خرابه ده چي هسي واده کیږي ښه ده، زه په خوشاله یم ته بیا هم خپل کور له ټول فامیل سره مشوره وکړه که له موږ سره مو دوستي زړه کیږي،زموږ خودر سره خوښه ده نو به په بسم الله کړو.

ما نظرجان اکا ته وویل:

چي ته بېخي بېغمه اوسه که مي د کور دا دوستي راسره خوښه هم نه وي، زه دا دوستي خپله په خپله خوښه کوم ، زه به سبا نه بل سبا خبر درکړم ،موږ په داغه خبرو اخته وو چي زرغونې ډوډۍ راوړله لاسونه مو پرېمنځل سترخان هوار سو او په ډوډۍ خوړلو مو شروع وکړه، دا بینډېو داسي ښه خوند وکئ چي څه درته و وایم .

زرغونې راته وویل:

چي له پلاره سره خو به مي دیغ سوی نه یې.

ما ورته وویل:

ستا پلار خو زما پلار هم دی او له پلاره هیڅوک نه دیغیږي او اوس یې یو داسي ښایسته زېری راباندي وکئ چي توبه !

زرغونې راته وویل:

چي څنګه زیری یې درباندي وکئ چي داسي خوشاله معلومېږې ،ما هم ورباندي خبره کړه ؟

ما ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاته يې اوس نه وايمه چي زه او ته سره يواځي سولو بيا يې درته وايم .

زرغونې بيا پوښتنه وکړه:

ولي اوس د ويلو نه دی؟

ما ورته وويل:

يا اوس د ويلو نه دی.

زرغونې وخندله او وه يې ويل:

کاشکي هر وخت همداسي ښه زيري درباندي وکړي چي ته په خوشاله سې .

ما هم ورته وويل:

چي کاشکي داسي ښايسته زيري هميشه راکوي،خير تر هر څه وروسته د خوب وخت سو چي نظرجان اکا او ښځه يې راڅخه ولاړل او مور ته يې وويل:

مور بيديږو تاسي پوه سی او کار مو، مور هم اجازه ورکړه،دوی ولاړل اوس نوزه او زرغونه يواځي پاته سوو، زرغونې پوښتنه را څخه وکړه چي اوس نو راته و وايه پلار مي څنګه زيری درباندي کړی دی چي تهورباندي ډېر خوشاله معلوميدې؟، ژر راته ووايه.

ما ورته وويل:

زيری نو دادی  چي زه او ته به د تل لپاره سره يوځای کيږو،که خدای(ج) کول، ماچي کوم خوبونه ليدلي وه هغه اوس رښتيا کيـږي ،کوم اميد چي مي درلودی هغه ته رسيږم، ما چي دا خبري زرغونې ته وکړې ،زرغونه د يو څو دقيقو لپاره چپ پاته سوله او هيڅ ږغ يې نسوای کولای ،ما زرغونه و ښوروله او ورته ومي ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولي چپ سوې تا هم زما په رقم خوبونه لیدل او اوس په فکرو کي غرقه سوې چي د ټول عمر لپاره به سره یو ځای سو ؟

زرغونې راته وویل:

چي سره یو ځای خو به سو ،که چیري زه ستا سره واده وکړم نو زما پلار او مور به یواځي پاته سي ،د دوی خدمت به څوک کوي، زه خو د دوی لپاره هر څه یمه ،که زه ځني واده سوم، دوی خوبه بیخي یواځي سي،په دغه فکرو کي ورکه ومه ،ته خو پوه سوې،ته زما په خاطر د یو څو وخت لپاره صبروکړه،واده خو هر وخت کیږي یو څو عمر وروسته به واده وکړو ،اوس به یواځي مینه کوو او دمیني ژوند به تیره وو، واده به پرېږدو او زه به دومره مینه درکړم چي له حسابه وتلې وي،ایازما دا پشنهاد چي درته و مي کی راسره منې ؟

ما ورته وویل:

مه خوابدې کېږه صحي ده. زه هرڅومره صبر درته کوم پروا نه کوي او خوا مي هم نه بدیږي هیڅ خبره نه ده،ستا هر پشنهاد مي پر دواړو سترګو قبول دی، ستا په خاطر خو ځان سره اور ته هم اچوم ،دا خولایو پشنهاد دی ، هر وخت چي تا راته وویل چي اوس به واده وکړو،نوهغه وخت واده سره کوو،راسه څنګ ته مي رانږدې سه هر وخت که تا راته وویل زه به هغه وخت واده درسره وکړم،چي ته خوشاله سې زه خو خوشاله یم، بس په غیږ کي مي ټینګه و نیوله او دخداي(ج) شکر مي ادا کئ، لنډ دا چي دومره ډیري خبري مو سره وکړې چي دا شپه بیا هم راباندي سهار سوه، د ملایانو اذانونه و سول زرغونې راته وویل:

نه دي ده خوښه چي یو ساعت بیده سو .

ما ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي بې له هغه نه هم سهار سو، پروا نه کوی نن به هم ښه بد خوابه سو خوب خو په یوه ساعت نه پوره کیږي.

زرغونې راته وویل:

هررقم ته چي ته وایي ستاخوښه ده.

ما ورته وویل:

زماخوښي ته چي ګورې نو بیا خوب نه کوو، خوب خو سهار هم کیږي اوس یوه ښه کیسه راته وکړه چي زه غوږ در ته ونیسم .

زرغونې وویل:

ښه سو چي رایاد دي کړل ،کور دي تل ودان اوسه تا چي کومي پیسې زما پلار ته ورکړي وې هغه یې پوراوړي ته ورکړې او هغه پوروال‌ړي ورته وویل:

چي لس ورځي وروسته به هغه نوري پیسې هم راکوې، ظالم به هره ورځ دروازه را ټکوله خو اوس مو غوږونه یو څه ځني پر ارامه سول.

ما ورته وویل:

چي څو یې درباندي دي تا خو هغه وخت راته ویل چي یواځي پینځوس زره دي ،اوس نوري هم دي ټولي یې څو درباندي باندي دي.

زرغونې راته وویل:

چي نوي زره یې را باندي وې پینځوس زره خو مو ورکړې،او اوس یې څلویښت زره لانوري پاته دي، ما تا ته نسوای ویلای،خو د هغو نورو څلویښتو زرو وخت یې پنځه ورځي وروسته پوره کیږي. بیا به راځي بیا به دروازه راټکوي خدای(ج) مهربانه دی له یوې خوابه یې ورته پیداکړو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه خو نو د میني په دریاب کي ورګډوم، چي هرڅه ئي راته ویلي وای ماورسره منل،د میني جذبې اخستی وم هرڅه مي ورسره کول،نومي ورته وویل:

که هر وخت هغه سړی تاسوته راغی نو بیایې زما دوکان ته را واستوی، زه یې ورکوم، تابه ماته په هغه شپه ویل ،ماورته ټولي پیسې هغه وارهم ورکولې، زما سره پیسې سته تا سي چا ته مه وایاست ،اوس خو زه یمه چي هرشي ته موضرورت وي ماته به وایاست .

زرغونې وویل:

چي نه پر تاخو مي بالا زړه نه کیږي او دا نوري پیسې چي هم ته ورکړې دا خو بیا ډیر بدکار سو او درباندي تکلیف هم دی .

زه یې نو په مکر څه پوهېدم چي په دې کې هم ددې چل دی ما ورته وویل:

چي نه پر ماهیڅ تکلیف نه دی زماسره ډیر پیسې سته اودا نوري پیسې هم زه ورکومه .

زرغونې وویل:

چي ته دومره ټینګېږې نو موږ به هم بل چا ته نه وا یو،که هر وخت هغه پور وړی راغي زه به یې دوکان ته در واستوم.

ما هم ورسره ومنله چي صحیح ده ، بیا مو نور بحثونو پسي را واخستل ترڅو چي سهارسو لمر هم راختلی وو،وروسته زرغونه ولاړه په چایو پسي، زه په خونه کي یواځي پاته سومه نیم ساعت ناست ومه،چي نظرجان اکا راغلی سلام یې را واچوی او پوښتنه یې راڅخه وکړه شپه دي په خیر سوه .

ما ورته وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما شپه خو پخیر سوه ته څنګه وې خوب دي و کی پلار جانه زمانو دغه اول وار و چي پلار جانه مي ورته وويل.

نظرجان اکا هم راته وويل:

چي هو زويه ډير ښه خوب مي و کی،ډير ښه بيده سوی ومه .

وروسته مي بياورته وويل:

چي پلار جانه پر تا چي د هغه سړي پيسې باندي وې ،ما ته به دي ويلي وای چي ټولي پيسې مي پر يوه ځای درکړي وای ،تا نو ولي ماته نه ويل؟

نظرجان اکا راته وويل:

اوس دي لا کور ودان چي دغه دي راکړې، نوري زه له تا څخه نه غواړم اوس دي لا ډيري پيسې راکړې،دا نوري پاته زه له يو بل چا اخلمه،تا ته نور تکليف نه درکوم.

ما ورته وويل:

تاسو بل چا ته ويلای سی او ما ته نسی ويلای، زه مو اوس لکه زوی داسي يمه هغه پاته پيسې هم زه درکوم ؛که هر وخت هغه سړی راغلی تاسو يې زما دوکان ته را واستوی، له بل چا څخه يې غواړې او زما څخه يې نه غواړې .

نظرجان اکا وويل:

چي صحي ده چي ته وايې نو داځل يې هم ستا څخه واخلم،که څه هم پر تامي بيخي زړه نه کيږي،هر وخت که هغه پورراوړی راغلی زه يې دوکان ته درلېږم، يا به زه خپله ورسره درسم،لنډه دا چي په دغه رقم پېسې اخستل او زما ورکول او د دوی ډل ډول چلونه جوړولو پوره څلورنيمي مياشتي ونيولې، يوه ورځ مي انډيوالانو راته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي ته څه کوې ته خو بيخي د زرغونې ميني ليونی کړی يې،موږ خو دي بيخي هير کړي يو موږ خو خير خپل کوردي هيرکړی،او بل خپل ځان او مال دي ټول تباه کی، دوی چي هرڅومره پيسې و غواړي ته يې ورکوې، ته خو پر بانک نه يې ناست ،په خپلو لاسونو يې ګټې او دوی ته يې ورکوې له دوی سره خو دا خبره معلومه کړه چي دا پيسې کومي چي زه يې درکومه زما په ولورکي يې مجرا کړی تر دوو ولورو دي لاډيري پيسې ورکړلې ، لابه نوري څومره پيسې غواړي د نن په کيسه کي که نه يې د سبا په فکر کي خو سه.

ما ورته وويل:

تاسي خو صحي واياست خو که ما ورته وويل او په دغه خبرو راځخه خوابدي سول ،زه به څه کومه اوس خو زه پرته د زرغونې څخه ژوند نسم کولای، داسي نه وي چي خوابدي سي او بيامي خواته هم نه پريږدي.

انډيوالانو مي وويل:

چي موږ هم پوهيږو چي د زرغونې پرته ته هيڅ ژوند نسې کولای، موږ هم ستا خوشالي غواړو بد نه درته غواړو او نه موبد درباندي پيرزو کيږي،موږ دي انډوالان يو ستا خوشالي زموږ خوشالي، ستاغم زموږ غم دي، دا خبري چي انډوالانو راته وکړې زما هم د دوی خبري خوښي سوې اوله ځان سره مي همدا فيصله وکړه چي نن به داورته وايمه، چي دوی لا په دې کي څه وايي ،نو مي له انډيوالانو سره دغه وعده وکړه چي نن ورسره حتماً په دې اړه خبري کوم ،موږ په داغه بحث سره اخته وو چي نظر جان بابا راغی او راته و يې ويل:

پنځه زره افغانۍ ته مي ضرورت دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما هم بیله ځنډه ورکړې دا مي لا هم ورته ونه وویل چي څه
په کوې دا مي ورته وویل چي ماښام درځمه نظرجان اکا وویل خپل
کور دي دی ولي ما ته وایې، دایې راته وویل او را څخه ولاړی.

انډیوالانو مي وویل:

که دونه ډیري پیسې لرې نو موږ ته هم پینځه پینځه زره
دورځي راکوه،موږ هم ضرورت ورته لرو .

ما ورته وویل:

نور مي مه په عذابوی ،نن به خبره ورسره وکړم.

دوی راته وویل:

چي وبه دي وینو،چي نن به لا څه وکړې، خیر خبري مو سره
کولې چي ماځیگر سو، دوکان مي بند کی او راغلم دزرغونې کورته.

نظر جان بابا راته وویل:

نن څونه وختي راغلې ، عجیبه نه ده ؟

ما ورته وویل:

هو نن کار نه وو ځکه مي وختي دوکان بند کی ، موږ په خونه
کي ناست وو چي زرغونه او مور یې دواړي راغلې سترې مسې یې را سره
وکړه ،ټول په خونه کي سره ناست وو چي ماورته وویل:

ماخو نن یوه فیصله کړې ده چي تاسوته یې و وایم.

نظرجان اکا راته وویل:

څنگه فیصله دي کړې ده موږ هم په خبر که؟

ما ورته وویل:

فیصله مي داسي کړې ما چي کومي پیسې تاسو ته درکړي
دي نو زه غواړم چي هغه دزرغونې په ولور کي را سره مجرا کړی او
ولوریې مخکي له واده درکړم نن به د هغې ولور را معلومه وی کچیري

(c) ketabton.com: The Digital Library

پیسې پاته کیدې نوري به هم درکړم ، ایا دا فیصله چي ما کړې ده صحي ده او ستاسو را سره خوښه ده؟

ما چي دا خبره دوی ته وکړه، نو نظرجان اکا خواشینی سو او ولاړ سو، زرغونې ته یې مخ ور واړوی او ورته و یې ویل:

چي ما درته ویلي وه چي دا چنداني سړی نه دی،یو ورځ نه یوه ورځ به خپله اصلي څیره ښکاره کړي،یو ځل خپله کومک راسره کوي بیا وایي چي هغه پیسې په ولور کي در سره مجرا کوم،زما خو هر څه ته یې زه بې له تا څه لرم نه مځکه لرم نه جایداد لرم، بیا یې ما ته مخ را واړوی او وه یې ویل:

چي تا راته ویل چي دا پیسې زه درکوم، زه خو خپله نه یم درغلی چي ما ته پیسې راکړه او نه مادرته ویلي دي چي ستا څخه پیسې غواړم تا به راته ویل چي زه یې درکوم بل چاته مه وایه زما سره سته او تا په دا دومره وخت کي موږ ته ولي و نه ویل چي زه یې بیا بیرته غواړم،تا خو به یوځل دا راته ویلي وای چي دا پیسې چي زه یې درکوم بیا به یې بیرته راکوی ،یوه ورځ دي و نه ویل نو اوس یې بیا ولي په ولور کي مجرا کوې،دا خبري یې په ډیري خواشنی سره ماته وکړې او له خوني ووتی خپلي خوني ته ولاړی، د زرغونې مور هم پسي ولاړه ، زه او زرغونه یواځي سره پاته سولو موږ دواړه دیو څو دقیقو لپاره غلي پاته وو،وروسته مي سوکه د ژړا بږغ تر غوږه سو، چي زرغونې ژړل.

ما ورته وویل:

چي ایا کومه ګناه مي وکړه ؟ ماخو ستا په خاطر داسي وکړل چي ته د ټول عمر لپاره زما سې.

زرغونې راته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه ستا سو په کار کار نلرم تاسي ښه سره پوهېږی دا يې راته وويل او په زوره يې وژړل ،له سترګو يې اوښکي وبهېدلې ؛ ما چي د زرغونې اوښکي وليدلې اور راباندي بل سو، ماغزه مي په سر کي و ايشېدل پر سترګو مي توره شپه سوه ور ولاړ سوم په غيږ کي مي ټينګه ونيوله، ورته ومي ويل:

زه بخښنه غواړمه خطا را څه وسوه دا وار مي و بخښه بيا هيڅ کله هم داسي کار نه کوم ،خطا خو له هرچا کيږي له ملائيکو څخه هم سوې ده ،بې له تا مي دا ژوند نه دی پکار، ته زما ژوند يې ته مي هر څه يې ،زما په رګو کي له ويني څخه ستا مينه ډيره ده ، اخير ته خومي پر خوا سه.

زرغونې راته وويل:

تا خوبه ما ته مخکي ويلي وای، چي زه داسي يو کار کومه ما در ته خپله لار ښوده ،تا به زما سره يوار مشوره کړې وای ، اوس دي ټول کارونه خراب کړل، زه به اوس څه درسره وکړم .

ما ورته وويل:

ته هيڅ مه کوه فقط خوشاله اوسه زه هر څه سموم،هغه دم مي زرغونه خوشاله کړه،خوشپه ډيره بې خونده،بې مزه او دردمنه راباندي تيره سوه ، ټوله شپه ګيلې او بهانې وې ترڅو سهار سو، د چا يو وخت وو زرغونه په چايو پسي ولاړه زه يوائي په خونه کي پاته سوم،تريوه ساعته پوري په خونه کي يوائي وم،نظرجان اکا رانغلی اوکورداري يې راغله،له هغې سره مي خبري کولې او هغې راته ويل:

دزرغونې پلار دي خوابدی کی کيدای سي دلته را نه سي ما ډير ورته وويل خو زما خبره يې و نه منله.

ما ورته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور کی زه خپله ورځم او خوشاله کوم يې،دستي د نظرجان اکا خوني ته ورغلم سلام مي ور واچوی،دومره په قهريې راته کتل چي بيخي يې زما سلام عليک نه کی، نو مي لاسونه ورمچ کړل ورته ومي ويل:

دا ځل به مي حتماً بخښې بل ځل ته که مي داسي کار وکی،نو بيا مي کورته هم مه پرېږده ، نوري ډيري زاری مي هم ورته وکړې،ترڅو په ډير تکليف سره مي بيرته خوشاله کی او د خپلي خوني مي را ولاړکی په دا پخواني خونه کي کښېنستلو او هلته مو چای په ټولو سره يوځای وڅښلې ، ډيرمعذورت مي بيا هم ځني وغوښتی،چي په راتلونکي کي به بيا داسي کارنه کيږي ، دوی هم راسره ومنله چي موږ هم بخښلی يې ، بيا مي نو رخصت ځني و غوښتی، دوی هم رخصت راکی، له هغه ځايه چي را رهي کيدم نو بيامي د نظرجان اکا او د کورداري لاسونه ورمچ کړل او راغلمه دوکان ته له ځان سره مي داپريکړه وکړه ، چي دا واري به ژر نه ورځې، که دوی حال را وکی خو وربه سمه که يې حال نه را وکی بيا به خپله ژر نه ورځمه،په داغه فکر کي ومه چي اندېوالان مي هم ټوله راغلل هغوی راته وويل:

څنګکه سو ماښام ، خبره دي ورسره معلومه کړه ؟

ما هم له سره ترپايه ټوله کيسه ورته وکړه ،چي داسي وسول مابيا داسي وکړل، دوی ټوله حيران پاته سول چي دا نو ولي بده وربانديولګيدل، ما ورته ويل چي زه هم نور نه باندي پوهېږم، لنډه دا چي پوره درې هفتې تيري سوې چي نه نظرجان اکا راغی او نه هم د چا احوال راته راتلی او نه زه ورتلمه ،دا درې هفتې به څومره راباندي اوږدې سوي وي او زرغونه مي هم ډيره يادیده ،خو پلار يې زړه را مات کړی وو بيرته به مي زړه صبر کی ، خو بيا مي هم ډيره یاديده نفس مي پسي ختی د دې

(c) ketabton.com: The Digital Library

لیدو ته لیونی وم، خو ځان به مي ټینګ کی،اخیر  ته مي صبر ختم سو په دا  څلورمه هفته مي ټینګ نیت وکې چي نن به خامخا ورځمه هر رقم چي وي ،دوی خو دي بیخي په کیسه کي هم نه دي ،چي ورنه سې یادوي دي لا نه، ماځیګر ناوخته سو دوکان مي وتړی او د زرغونې پرلور ور رهي سوم ، کور ته چي یې ور ورسیدمه دروازه مي ور وټکوله دروازه یې بنده کړې وه ،زه به چي هرکله ورته راتلم دروازه به  یې خلاصه وه،خو دا واري یې دروازه ډیره وختي بنده کړې وه،بیا مي دورازه ور وټکوله چا ځواب را نه کی ،د دریم ځل لپاره مي بیا دروازه ور وټکوله خو هیڅوک دروازه نه راخلاصوي او نه هم ځواب را کوي حیران وم چي څه وکړمه بالانو تلمه زړه مي راته وویل یواري به یې لا ور وټکوم که یې خلاصه کړه خو ښه کنې ځم به، د څلورم ځل لپاره  مي بیا وروټکوله، چي نظرجان اکا دروازه را خلاصه کړه داسي وارخطا معلومیدی، ستړې مسې یې هم یوقسم ته دوارخطا په ډول راسره وکړه ،ماپوښتنه ځني وکړه چي ولي داسي وارخطا یې څه خو به پیښ سوي نه وي؟

نظر جان بابا وویل:

هر څه سم دي خیر  او خیرت دی راځه کورته .

ما بیا ورته وویل :

دروازه مي ډیره و ټکوله ولي مو نه راخلاصوله ؟

بیا یې راته وویل:

په خبرو اخته وو هیڅ مو نه ده اوریدلې بخښنه غواړم، ښه ته دا راته و وایه دا دومره ډیر وخت چیري وې چي نه معلومیدې ؟

ما ورته وویل:

کندهار ته تللی وم د دوکان لپاره مي سودا راوړل هلته یو مشکل راپیښ سو وځنډېدم،دا خومي ده ته درواغ وویل .

(c) ketabton.com: The Digital Library

بيائي راته وويل:
څه مشکل درته پيښ سو؟
ما ورته وويل:
بس يو کوچنی مشکل وو په خير تير سو،بيايې زما څخه هم پوښتنه نه ده کړې،ولاړلو خوني ته زرغونه هم راغله له هغې سره مي هم ستړې مسې وکړه،خو مور يې رانغله له زرغونې څخه مي د هغې پوښتنه وکړه چي چيري ده ؟
زرغونې راته وويل:
په هغه بله خونه کې ده ، خوريې(د خور زوي) يې راغلی دی له هغه سره ناسته ده .
ما ورته وويل:
خورئی يې ولي دلته نه راځي زه به هم ورسره شناخته سم.
زرغونې راته وويل:
ورکوه يې هغه مو بيخي په تا خبر کړی هم نه دی چي ته دلته راغلی يې که يې وليدلې چي ته دلته يې نو خامخا شک کوي، چي دا پردی سړی په دا وخت کي دلته څه کوي.
ما ورته وويل:
که داسي وي نو زه به ولاړسم،څه خبره خونه ده.
زرغونې هم وويل:
که نن ولاړ سې ښه به وي ،سبا بيا راسه هغه سبا ته بير ته ځي که دي خوانه بديږي ؟
ما ورته وويل:
دا خو د خوابدېدو خبره نه ده چي خوابده کړم، زه هم ځمه نو له دوی څخه مي اجازه را واخسته او ځني راغلم کورته ،په کورکي دا

(c) ketabton.com: The Digital Library

چورت را ولویدی چي زرغونې خو ما ته ویلي وه، چي مور هیڅ خپلوان نه لرو او اوس یې د خاله زوی دکومه پیدا سو،بیامي خپل ځان ته دا تسلي ورکول ، چي کیداي سي له خپلوانو سره به خوابدي وي،اوس خو ډیر داسي خلک سته چي خپلوان په خپلوانو کي نه حسابوي ،پردي یې بولي په دې خاطر چي اوس له خپل نه پردي له چا سره ښه کوي، خپل نه غواړي چي له ځانه یې بل خپل لوړ وي او دی له هغه څخه کم وي، په همدې خاطر یې دا درته ویلي دي چي هیڅ خپلوان نه لرو،خیر دا هر څه مي پرېښودل ،د ماښام ډوډۍ تیاره سوه ډوډۍ مي و خوړله ،خو چنداني خوند مي نه ځني واخستی، د بیده کیدو کوښښ مي و کړی خو هیڅ خوب نه راتللی ،تر ډیره پوري ویښ ومه یو وخت بیده سوی وم،تر دریو ورځو پوري د زرغونې کورته نه وم تللی په دا څلورمه ورځ مي بیانیت وکی چي نن شپه به ورځمه له خیره،مازدیګر ناوخته وو چي بیا یې کورته ورغلمه ،په سرای کي زرغونه وه ماورته وویل:

چیري دی پلاردي؟

زرغونې راته وویل:

پلار مي په خونه کي دی زما د خاله له زوی سره ، ولي کارورسره لرې ؟

ما ورته وویل:

یا داغسي پوښته مې کول،ښه د خاله زوی دي تر اوسه نه دی تللی ،نو زه به بیرته ولاړ سمه کورته.

زرغونې وویل:

یا ولي ځې،هغه په خپله خونه کي ناست دی ،زه او ته به په دا بله خونه کي کښینو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو زه هم ورسره راغلم خوني ته هلته دواړه سره کښېنستلو،نومي زرغونې ته وويل:

چي تاڅلور ورځي مخکي لا ويلي وه چي هغه سبا ځي خپل کورته، تر اوسه پوري لا نه دی تللی ؟

زرغونې راته وويل:

هغه تر تا پوري معطله دی،زه ځمه زما پلار درته را استوم له هغه سره خبري وکړه هغه به پوره معلومات درکړي، دغه يې راته وويل او را څخه ولاړله له هغې خوا نه نظرجان اکا راغلی ستړې مسې يې را سره وکړه راته وې ويل: ښه سو چي راغلې کنې زه سهار خپله دوکان ته درتلمه .

ما ورته وويل:

ولي کومه نوې خبره پيښه سوي ده ؟

نظرجان اکا راته وويل:

چي هو خبره خو نوې ده هغه دا چي ما او د زرغونې مور دا فيصله کړې ده چي زرغونه لويه سوې ده بالا به يې ورکړو،اوس مو لاهم غاړي باندي بندي دي ،چي هسي واده سي هغه به ښه وي.

کله چي مي دا خبري له نظرجان اکا څخه وا وربېدلې نو ما ته خندا راغله او دومره زيات خوشاله سوم ، چي په کالوکي نه ځاېدم په دې خاطر ما دا فکر کوی چي ما ته يې را کوي او زرغونه يې اوس مجبوره کړې ده چي واده وکړي،ما ورته ويل ستاسو خوښه ده:

تاسو چي هره فيصله کړې وي هغه صيح ده، ځکه تاسي خو د هغې مور او پلار ياست هر رقم ته چي تاسو واياست زما هم درسره خوښه ده.

نظرجان اکا راته وويل :

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډیر ښه کار و سو چي ستا هم راسره خوښه سوه، موږ هم ستا خوښې ته کتل، اسدالله جان ښه اخلاقي او ښه ځوان دی او له بلي خوا خپلوان هم یو .

ما ته چي یې د اسدالله نوم را واخیستی اور رابانديي بل سو ماورته وویل:

کوم اسدالله،او اسدالله څوک دی؟

نظرجان اکا وویل:

ولي ته اسداالله نه پېژنې ، اسدالله خو دزرغونې د خاله زوی دی له یوې هفتې راهیسته دلته زموږ په کورکي راسره اوسیږي ،په هغه بله خونه کي ناست دی،هغه هم په دې دوستی خوشاله دی.

ما له ډیري خواشینی څخه ورته وویل:

چي ولي مو پخوا اسدالله ته نه ورکوله او ولي هغه پخوا نه غوښتله ،اوس چي اوبه تر ورخ تیري سولې اوس یې ورکوی ،تا په خپله راته ویلي وه چي زرغونه له تا سره مینه کوي او بل هیڅوک یې نه خوښیږي او نه د هغې بل څوک خوښ دی، ته څنګه د هغې خوشالۍ په اوبو لاهو کوې او د هغې ژوند ورتباه کوې، خو هغه هم له ماسره مینه کوي ولي د هغې خوشالي په اوبو لاهو کول غواړې ،ته څنګه پلاریې ؟

نظرجان اکا وویل:

دا کار خو یوازې زما نه دی خوښ ،بلکي د ټولو خوښ دی د زرغونې هم خوښ دی، هغې خپله راته وویل چي زما اسدالله تر هر چا خوښ دی او زه له اسدالله سره واده کوم. که یې نه منې له هغې څخه خپله پوښتنه وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا چي يې راته وويل نو بيخي مي عقل له سره ولاړی دومره خواشيني سومه چي له نظرجان اکا څخه را ولاړ سومه او راغلم دا بلي خوني ته،چي اسدالله پکښې کي ناست و . وار له واره مي ورته وويل:

چي زرغونه زما ده او زما به وي له زرغونې سره يواځې زه واده کولای سم نه بل څوک او نه چا ته دا حق ورکومه چي واده ورسره وکړي،هغه زما روح زما تن او زما ژوند گرځېدلې ده ،بې له هغې څخه ژوند په کار نه لرم او که زما پرته بل چا و غوښتله ،نو يا به زه پر دې دنيا يمه يا به هغه،يا به زه ژوندی يم يا هغه،نوره دي خپله خوښه چي کوې يې او که نه ستا اختيار دی، دا خبري مي په ډير جدي انداز ورته وکړې،ما چي کله دا خبري ورته کولې نو اسدالله داسي رېږدې دی لکه تبي چي نيولی وي وروسته يې له کوره را ووتلمه راغلمه خپل کورته له خواشينی څخه مي نه ډوډۍ خوړلې ده او نه مي تر سهاره سترگه پټه کړې ده. سهار دوکان ته راغلمه او انډيوالانو ته مي وويل :

چي ماښام خو داسي کيسه پيښه سوه او ما ته يې داسي وويل.

انډيوالانو مي راته وويل:

ته بيغمه اوسه موږ خو درسره يو هيڅ غم مه کوه. دوی يې پرته له تا څخه بل چاته ورکولای سي اوکچيري يې ور هم کړه نو موږ يې په زور درته راوړو او تاته يې تسليمه وو، نور ته څه غواړې او بل اسدالله ته تا پخپله ويلي دي هغه به دا کار څنگه کوي.

زماهم د انډيوالانو پلان او خبري خوښي سوې، دغه تصميم مو په ټولوسره خوښ سو ،چي که يې پرته له ما بل چاته ورکړه دغسي به ورسره کوو،خو خوامي ډيره بده وه،په دې چي که نظرجان اکا هر څه راسره کړي وای خو خير،نو زرغونې به ولي دومره بې وفايې راسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوله، هغې خو هم زما سره ډېره مینه کوله او هغې ولي زه نه کړم خوښ،په دې کې د دې څه مقصد دی،چې زه یې پرېښودم او اسدالله یې خوښ کی ما خو یې ټول خواهیشات پوره کړي دي ؛هرڅه به چې د دې خوښ سول مابه ورسره منل ، د هغې ناخوښه یو کار مې هم نه دی کړی،حتی خوا یې لا هم نه ده راڅخه بده سوې ،چې زه یې پرېښودلم او د دې هیڅ خوانه وه بده ،او نه هم زما پر خوا وه دا کار خو باید دې نه وای ورسره منلی ،په رښتیا چې دومره ځني خفه سولم که انډیوالانو راسره خوښ کړې وای،ما به زرغونه پرېیښې وای او تر تیر سوی به وای،انډیوالانو مې نکړه راسره خوښه، راته ویل به یې ته خو لیونی سوی یې دومره مصرفونه دي ورباندي وکړل او اوس یې پرېږدې . ته خو یو څه عمر صبر وکړه چې څه کیږي او څه پېښیږي موږ هرڅه در ته سموو.

خیر په داغه کې پوره درې میاشتې تیرې سوې خو د زرغونې د ورکولو درک معلوم نسو او نه زه بیا ورغلی یم او نه مې حال ورباندي درلودی او نه بیا دوکان ته نظرجان اکا راغلی دی اوس دومره حال ورباندي لرمه چې زرغونه یې تر او سه نه ده ورکړې او زه اوس ورباندي پوه سوم، چې دوی ډېر چالاکه دي ځکه اول یې ما ته راکول،خو ما ته یې را نکړه او اسدالله ته یې ورکوله او اسدالله ته یې هم نه ده ورکړې او اوس یې له ټا سره قول کړې ده، زما نور سره نه باندي خلاصیـږي چې د دوی څه هدف دی او چا ته به یې ورکړي ،دغه وه زما او د زرغونې په ژوندکي راغلې او تیره سوې کیسه چې ټا ته مې ټوله کیسه وکړه، زه اوس هم په زړه کې هغومره مینه ورسره لرم لکه پخوا چې مې ورسره درلوده. زه خو یې په دام کې بند کړی وم اوس یې ته هم پکښې بندکړی یې زما خو دا زړه ته نه لویږي چې ټا ته به یې هم

(c) ketabton.com: The Digital Library



درکړي او زه سر له ننه له زرغونې څخه تیر یم ځکه ته تر ما زیاته مینه ورسره کوې او خدای(ج) دې ستا روزي کړي.

ما ته چي احمد بیچاره ټوله کیسه وکړه، ډیر زړه مي باندي وسوځیدی ځکه په رښتیا هم چي د افسوس کیسه یې وه .او ډیره ناجایزه ورسره سوې وه . نو مي احمد ته دا وعده ورکړه چي که ستا کیسه رښتیا داسي وي او دغه کیسه مو په منځ کي تیره سوې وي،نو زرغونه ستاده او ستا به وي زه هم درسره ملګری یم زه خپله له خپلي مینه څخه تېرېږم اوتاته یې دربخښم.

احمد راته وویل:

زه پښتون یم او هیڅ کله درواغـوته ضرورت نلرم ،کچیري زمایوه خبره هم درواغ سوه نو زه بیا ځان ته نه پښتون وایم او نه ځان رښتنی بولم.

ما ورته وویل:

چي خیر دی احمد جانه وروره ! خدای(ج) به هر څه اسانه کړي زه اوس درڅخه ځمه،زه به ځان ته نور معلومات هم ترلاسه کړم بیا درته راځم،نو مي له احمده اجازه و غوښته او ځني راغلم کورته او دماښام درا رسېدو په انتظار ومه ،ماښام وروسته ترډوډۍ ورغلم د زرغونې کورته ،هلته مي له ټولوسره ستړې مسې وکړه او ټولو راته ویل لږ وارخطا معلومېږي څنګه سو هغه نفر دي پیدا کی ؟

ماورته وویل :

یانن مي کور کار درلودی سبا ورځمه دوی مي په دې پوه نه کړل چي له احمد سره مي ولیدل ، د خوب وخت راغلی نظرجان اکا او کورداري یې رخصت راڅخه و غوښتی،ما هم اجازه ورکړه او دوی

(c) ketabton.com: The Digital Library

ولاړل ، زه اوزرغونه په خونه کي یواځي پاته سولو، نومي زرغونې ته وویل:

یوه پوښتنه درڅخه کومه رښتیا به راته وایې؟

زرغونې راته وویل:

چي ماتر اوسه تا ته درواغ ویلي دي ؟

ما ورته وویل:

چي درواغ نه راته وایې نو داراته و وایه زه پر تا څومره ګران یم؟

زرغونې وویل:

چي دونه راباندي ګران یې چي بې تا ژوند هیڅ خوند نه راکوي او نه مي په کار دی.

ماورته وویل:

داسي به نه وي؟

زرغونه وویل:

داغسي ده لکه زه چي وایم و مي ازمویه .

بیا ما ورته وویل:

که داسي وي نو ستا دي د پاک خدای(ج) په مقدس نوم باندي قسم وي چي ستا او د احمد په منځ کي څنګه کیسه وه او څه مو په منځ کي تیر سوي دي ،ماته ټول معلومات ته په خپله خوله راکړه .

زرغونې چي زما له خولې نه دا وا وریدل رنګ یې تک سور سو او و یې ویل:

چي کوم احمد !احمد څوک دی زه خو د احمد په نامه څوک پیژنم هم نه.

ما ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

د خدای(ج) په نوم سره مي قسم درکړی دی . هغه احمد درته ښیم چي له تا سره یې ترما زیاته مینه کول او اوس یې هم درسره لري، ما له هغه سره نن ولیدل او خبري مي ورسره وکړې او هغه خپله کیسه ټوله راته وکړه او اوس زه غواړم ستا له خولې څخه هم دا واورم چي په څه رقم سره شناخته سواست ځنګه مو سره ولیدل او څه مو په منځ کي تیرسوي دي ټوله کیسه به راته رښتیا رښتیا کوې ؟ بیا به زه فیصله و کړم دا چي ته رښتیا وایې او که احمد، نور نو ځان بي خبره مه اچوه زه په هرڅه خبرسوی یم.

زرغونه هم پوه سوه چي احمد کیسه ورته کړې ده او ما هم ډیره مجبوره کړه ترڅو خپله کیسه یې داسي شروع کړه :

احمد هیڅ کله هم له ما سره مینه نه درلوده او نه په مینه پوهیدی، زه له اوله د هغه په بد نیت پوهېدمه چي غلت سړی دی ،هغه هیڅ کله ما ته د میني په سترګه نه دي کتلي نه یې راته کتل ، زه د زرغونې په خوله کې ور ولوېدمه چي ته په دغه قانع یې چي احمد په مینه نه پوهیدی؟

زرغونې وویل:

هو زه قانع یمه چي هغه په مینه نه پوهیدی، احمد زما د پلار خوښ وو مګر زما نه وو خوښ پلار مي راته وویل چي لوره ته اوس ځوانه سوې یې بالا دي نو د واده کولو وخت دی او واده به دي کړو، خو ما نه ورسره منل ما به ورته وویل چي که زه واده وکړمه نو ستاسو خدمت به څوک کوي ،ځکه مور مي سپین سرې ده او ته هم اوس ډیر سپین ږیری یې؛ واده خو هر وخت کیږي پلاره! خو زما پلار نه راسره منل، تر څو زه یې مجبوره کړمه ما ورته وویل داچي ته راته وایې نو ستا کار او ستا خوښه ده .

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو يې يوه شپه احمد کورته راوستلی وو، زه يې دې ته مجبوره کړمه چې ورسره و وينم کچيري يې زه خوښه سوم نوبه مي ورکړي ،زه خوني ته په ډير کم جرئت سره ورغلمه او له احمد سره مي سترګې مسې وکړه، په دا اول وارسترګې مسې کې راته معلوم سو، چې ډير غلت سړی دی، ځکه ما په لاس سترګې مسې ورسره وکړه ،نو ده مي لاس په خپل لاس کې ټينګ کی ،دومره يې ټينګ کی چې نږدې وو چې ږغ راڅخه و سي خو ځان مي ټينګ کئ څه مي و نه ويل لاس يې را ايله کئ او ورسره کښېنستمه .

پلار مي احمد ته وويل:

چې احمده زويه زرغونه خو داده ،خوښه دې سوه ؟

احمد ورته وويل:

هو خوښه مي سوه.

نو مي پلار د احمد سره د واده کولو او زما د ورکولو خبري را واخستې، زه نو له ډيره شرمه څخه له خوني را ووتلمه، راغلمه اشپزخانې ته د ماښام ډوډۍ مي برابروله، ډوډۍ مي سره برابره کړه خو خوني ته مي نسوای ور وړلای، نومي خپلي مور ته وويل:

چې ډوډۍ ته وروړه زه يې نسم ور وړلای ، مور مي هم دوی ته ډوډۍ وروړه، بيا مي چای هم ور واستولې،د يوه ساعت په اندازه به زه په خونه کي يواځې ومه چې مورمي راغله ، او راته و يې ويل:

چې خدای(ج) دې بخت در خلاص کړه لوري بس ده زموږ ډير خدمت دې وکی، ستا څخه موږ ډير خوشاله يو،خدای(ج) دې زموږ په حق کې غاړې مه بندوه.

ما ورته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

مورجاني ما ته دا خبري مه کوه زه خو ستاسو اولاد يم او اولاد هيڅکله د مور او پلار حق نه سي اداکولای، تر څو چي زه ژوندۍ يمه ستاسو خدمت پر ما حق دی او دا پر ما فرض دی چي ستاسوخدمت وکړم مورکي ! زه اوس واده نه کوم زه ستاسو په خدمت کولو کي خوشاله يمه ، ما مه ورکوی.

خو مور مي په دې خبره سخته په غوصه سوه او راته وه يې ويل:

ته چي هر څه وایې مورږ دي هيڅ خبره نه منو بالا دي ورکوو مورږ خپل خدمت په خپله هم کولای سو . زه يې اخير دې ته مجبوره او راضي کړمه ،چي د احمد سره واده وکړم،نو ما هم له مور سره ومنل چي ستاسو خوښه وي زه نو څه پکښي ويلای سم واده مي کړی ،ما ته خوب راغی او مور مي هم راسره بيده سوه،پلار مي له احمد سره بيده سوی وو،سهار سو او د سهار چای يې هم زموږ کره څښلي وې بيا تللی وو.

پلار مي ډير خوشاله معلوميدی او راته و يې ويل:

چي د احمد خو ډيره خوښه سوې ،که کور يې هم ورسره خوښه کړه واده درسره کوي.

مور مي پوښتنه ځني وکړه:

احمد څه ويل ؟

پلار مي ورته وويل:

زرغونه يې ډيره خوښه سوه او ويل يې چي زما خو خوښه ده خوزه به کور هم مشوره وکړمه،کچيري دکور هم راسره خوښه سوه نو بيا درته راځمه احوال دستي درکوم .

مور مي ورته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي خدای(ج) دي وکړي چي کور يې هم ورسره خوښه کړي.خو دغه د دوستی او واده کولو خبري مو تر دوو ورځو پوري په کور کي کېدې،وروسته تر دوو ورځو څخه احمد بیا زموږ کورته د شپې راغی ،پلارمي ورسره ناست وو،زه او مور مي نه وو ورغلي ،مور مي راته ویل درځه چي ما او تا هم ورسو ما ډیر ورته وویل چي ما پرېږده ته یواځي ورسه ،زه خو يې لېدلې یم ،خو مور مي نه را سره منل او زه يې هم ور وستمه ،هلته مو له احمد سره ستړې مسې وکړه او کښېنستلو، احمد نو ما ته دومره کتل ،چي ما بیخي لوړ کتلای نسوای او ماته د ده داسي نیغ کتلو هیڅ خوند نه راکوی، د همداسي نیغ نیغ راته کتل خو ما نه ورته کتله، وروسته احمد زما پلار ته وویل چي ما خو کور مشوره وکړه او ټولو راته وویل چي ستاخوښه وي نو موږ څه پکښي وایو،موږ دي لا له تکلیف نه خلاص کړو چي ستا په مرکه وګرځو،خو خبره دا ده ته یو څو عمر صبر وکړه موږ به یو څه پیسې پیدا کړو بیا به په مرکه ورسو ،اوس خو دي خبره هم ورسره خلاصه کړې ده ما هم ورسره خوښه کړه چي بیخي مي خوښه ده ، پروا نه کو ي یو څو عمر به صبر سم څه خبره نه ده،ایا اوس ستاسو هم داسي راسره خوښه ده لکه زما کورنۍ چي خوښه کړې ده ؟

زما مور او پلار ورته ویل پروا نه کوي اوګره په تلوار نه سړیږي یو څو عمر به انتظار سو زموږ هم درسره خوښه ده .

نو احمد ما ته مخ را واړوی او وې ویل:

چي زموږ او ستاسو خو خوښه سوه ،چي دزرغونې به خوښه وي که یا؟

ما ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي زما خوښي ته لا هم ګورئ ،دا په ما اړه نه لري ،دا زما د پلار او مور کار دی،زه د دوی په کارکي څه نسم ویلای دوی ته راته خوښ کړی يې او چي دوی هر څه راته و وايي زه هغسي کوم.احمدماته وويل:

د مور او پلار خو دي خوښه ده .

ما ورته وويل:

د دوی چي خوښه ده زما هم خوښه ده،زه څه نه پکښي وايم او نه څه پکښي ځايږي دا مي ورته وويل او ځني راولاړيدمه،چي مور مي راته وويل:

کښېنه چيري ځې؟

ما ورته وويل:

ډوډۍ تیارومه بیرته راځمه .

مور مي راته وويل:

ته دلته کښېنه ، نن زه خپله ډوډۍ تیاروم او راوړمه يې ،ما نه غوښتل چي مورمي ډوډۍ تیاره کړي ،خو مور مي زه نه پرېښودم چي زه يې راوړم او خپله په ډوډۍ پسې ولاړه، زه هم په خونه کي کښېنستمه،په دې وخت کي مي پلار هم له خوني و وتی ،زه او احمد یواځي پاته سولو،زه غلې ناسته ومه هيڅ ږغ مي نسوای کولای چي احمد راته وويل:

ترڅو چي دي پلار او مور راځي څنګ ته خو مي راسه ،هغه بله شپه هم رانغلې زما چورت او فکر له تا سره وو چي رابه سې ،تر ډيره در ته معطله ومه خوستا درک معلوم نسو ولي رانغلې،څوک داسي کوي لکه ته چي يې کوې.

ما ورته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته خو داسي خبري کوې لکه د عمر چي سره شناخته يو .

احمد راته وويل:

شناخت نو څه وخت غواړي .

ما ورته وويل:

وخت غواړي تر څو ته زما او زه ستا په خوی پوه شم .

احمد بيا راته وويل:

په دا رقم چي ځان ليري ليري کوې او زما څخه شرمېـږي زړه ته مي نه لويـږي چي په يوه کال کي دي هم سره شناخته سو ،خير دا خبري پرېږده اصلي خبره واوره؛ نن ماښام زه درته معطله کېږم ستاپلار ته اجازه ورکومه چي په خپله خونه کي بيده سي ، کله چي دوی بيده سول نو ته به بيداراځې،اوس خو ډيري خبري نسو سره کولای،کله چي راغلې نو يو دبل د خوي په باره کي به هم سره و ږغيږو، ګوره چي پاته نسې.

ما ورته وويل:

چي دا کار هيڅ امکان نه لري ،تر څو چي مو واده نه وي سره کړی زه يواځي هيڅ کله هم نه سم درسره ليدلای او نه درته راتلای سم.

احمد راته وويل:

ښه چي داسي ده خو اوس مو هم واده نه دی سره کړی ولي راسره ناسته يې .

ما ورته وويل:

اوس زه يواځي نه يمه راغلې، خپلي مجبوری راوستې يم، د دې خبرو په اوريدو سره احمد لږ څه احساساتي سو او راته و يې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي ته هم زما دا اخيره خبره واوره،زه نن شپه دلته يواځې پاتېږم که رانغلي نو زمادي په خدای(ج) سره قسم وي که بيا په ټول ژوند درته راسم يا مو د کور خواته وګورم دا نو زما اخيري فيصله ده.بيخي مه راځه.

د احمد دقسم په اخيستلو سره زما زړه هم يو څه نرم غوندي سو ،خو زه هم ورته احساساتي سوم چي هغه ستا کار دی هر څه چي کوې هغه کوه که راځې که نه راځې.ما چي دا ورته وويل،نه بيا ده بحث کړی دی او نه ما دواړه سره چپ سولو، ترڅو پلار مي راغی او احمد ته يې وويل:

دوکانداري دي څنګه ده ؟

احمدورته وويل:

بيخي ښه ده ګذاره کيږي،دوی په خپلو خبرو سره اخته سول زه له خوني را و وتلمه ،چي مور مي بيا راته په غوصه سوله چي ولي له خوني را ووتلې ما ډوډۍ تياره کړه، درځه ډوډۍ نن ټول يوځای سره خورو.

ما ورته وويل:

زه له احمد سره ډوډۍ نسمه خوړلای، موري زه يې يواځې په خونه کي خورم تاسي يې ورسره وخوری ،خو مور مي راسره ونه منله چي نن به ډوډۍ له احمد سره خورو .

مانه غوښتل چي ورشمه خومورمي مجبوره کړمه او خوني ته يې ور وستلم،هلته مو په ټولو سره يوځاي ډوډۍ وخوړه ،د ډوډۍ خوړلو په وخت کي مي مور او پلار په خبرو سره اخته سول ،چي احمد راته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي تا خوویل ډوډۍ هم نه درسره خورم،څنګه راغېي او ولي دي زماسره ډوډۍ وخوړه ؟

ما ورته وویل:

چي مجبوره سومه کنې ما خو نه درسره خوړله.

بیا یې راته وویل:

چي ماښام به هم مجبوره سې ،زه نن شپه ستا په انتظار یمه او تر هغه وخته نه بیدېږم تر څو چي ته نه یې راغلې .

ما ورته وویل:

چي دا خیال دی له ذهنه وباسه ،هیڅ امکان نه لري چي در ته راسم .

بیا یې سو که راته وویل:

زه انتظار یمه نور نه پوهېږم .

کومه ډوډۍ چي مي خوړلې وه هغه یې راباندي زهر کړل،وروسته ترډوډۍ خوړلو زه ځني را ولاړه سومه، راغلمه خپلي خوني ته او په ځای کې بیده سومه، خو خوب نه راتلی ناحقه چورتونه راولیدل چي دایې څه در ته وویل قسم یې هم واخستی، که نه ورځې بیا خو په ټول ژوند نه راځي نو دا متل را یاد سو چي یوې خوا ته پړانګ دی بلي خواته پاڼ ،که نه ورځی بیا خو نه راځي او بل مور او پلار مي دومره ورته خوشاله دي چي بیخي ډیر، زه څنګه د دوی خوشالي له خاورو سره خاوري کړم ،نو مي دا نیت له ځان سره ونیوی چي ورځم به او زه دومره زړه هم نه لرمه چي خوني ته خپله ورسمه او څنګه ورسم ،چورتونه مي سره ګډوډ سوله چي له ډیرو چورتو له کبله مي پر سر درد سو، په ځای کې ویښه پرته ومه چي مور او پلار مي هم ځني راغلل خپلي خوني ته او دواړه بیده سول، ما نو خپل مور او پلار ته ځان په خوب اچولی و، چي زه

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو نو بیده یمه اوس زه دې ته معطله ومه چې دوی دواړه ښه بیده سي نو به ورسم، کله چې زه په دې ښه یقیني سوم چې دواړه ښه بیده سول نو زه هم له ځایه راپورته سوم ډېر کرار کرار له خوني را و وتلمه او راغلمه د احمد خوني ته ،دروازه یې په ځان پسي ټینګه کړې وه،دروازه مي خلاصه کړه او خوني ته ورننوتلم.غوږ مي ونیوی چې احمد ویښ دی که بیده ،ماغوښتل چې وروږغ کړم خو احمد خپله را باندي ږغ کړل او و یې ویل راغلې ولي دومره وځنډېدې .

ما څه نه ورته ویل.

بیا یې راته وویل:

پلار دي غوښتل چې ته دلته زما سره بیده سي ، ما ورته وویل چې زه یواځې بیدیږمه تا نه په تکلیف وم ،ځکه زه پوهېدمه چې ته راځې دا یې وویل او تر لاس یې ونیولم خپل ځان ته یې ورکش کړمه،کله چې یې زه تر لاس ونیولم له دردده مي ورته پر سترګو توره شپه سوه،خوزه ډېره مجبوره ومه هیڅ ږغ مي بیا هم نسوای ورته کولای،او ورسره کښېنستمه .

احمد چې هررقم پوښتنه راڅخه وکړي ، زه ځواب نه ورکومه،تر څو چې یوه اوږده کیسه یې راته شروع کړه . ماورته ویلي هم نه و،کیسه یې وکړه خو زما سر هم نه سو باندي خلاص چې څه یې وویل،کله چې یې کیسه خلاصه کړه نو وروسته یې زما په ویښتانو کي لاس واچوې او سر یې را ګـروی .

ماورته وویل:

چې سر ګرول خو د ښځو کار وي ته خو نارینه یې ؛ما په دې خاطر ورته وویل چې ګوندي ننګ ورسي اوخواشنی سي او راته و وایي چې ځه بالا خپلي خوني ته ، خو دا خبره یې راته ونه کړه، بیایې راته

(c) ketabton.com: The Digital Library

ووېل چې ته دونه ډېره راباندې ګرانه يې چې څه درته و وايم په همدې خاطر زه ستا سردرګـروم، دا چې ته په سر ګــرولوخفه کېږې نو ته بيا زما سر را وګروه .بې له دېنه چې ماورته ويلي واى ،زما په غيږ کي يې خپل سر کښېښودى چي اوس زماسر را وګـــروه.

ما يې هم سر ورګـــروى ،زما د سرګـيـرول ډېرخوند ورکى راته و يې ويل چې داسي په خوند سره ګـرول، خوزما د مور هم نه دي زده.

ماته چې يې دا ووېل زه ډېره ورته خواشنې سومه نو مي سر دومره ټينګ ور و ګروى چې زما دا ګمان و چې اوس به يې د سر پوست وا وړي او ويني به سي، خو ده راباندې بږغ کړل ،که زما ټول پوست په نو کانو جلا هم کړې،لا به اف درته ونه کړم ،نور يې هم ټينګ را وګروه.

بيامي زړه ورباندي وسوځېدى بيا مي بيرته سوکه سر ورګروى.

بيا يې راته ووېل:

زرغونې زما خو بيخي خوښه اوقبوله يې،ايا ستا هم زه قبول يم ؟که دي خوښ يم هم راته و وايه او که دي خوښ نه يم هم راته و وايه ،ځکه دا خو د زورکار نه دى بلکي د رضا کار دى،په دې کار کي بايد چي د دواړو طرفه خوښه وي .

ما ورته ووېل:

زما پلار او مور خوښ کړى يې، زما هم خوښ يې،ځکه زما اختيار د دوى په لاس کي دى.

ما چې دا ورته ووېل دستي راپورته سو زما لاسونه يې مچ کړل او وې ويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



جار دي له دې نرمو او نازکو لاسو سم، چې دا خبره مې ستا له خولې څخه وا وريده، چې ستا خوښه سوه د هغوی خو بيخي خوښه ده .

ما هيڅ بږغ ورته و نه کی، نو دی هم وار په وار راسره سپين سترګی کيدی بيا يې زما پر مخ لاس راتير کی،ما بږغ نه ورته و کی،نو دی پوه سو چي څه نه وايي، نو يې ساتيری راسره شروع کړی او زه يې خپلي غيږي ته ورکش کړمه ،زما سر يې په خپل زړه پسي ونيوی؛ دومره ټينګ يې نيولی وو چي زما ساه بنده سوه او ځان مي په زورځني خلاص کی .

احمد راته و ويل:

که تا نه وای ايسته کړی ،ما به تر سهاره پوري له خپل زړه څخه نه وای ايسته کړی.

ما ورته وويل:

ما ته نو اوس اجازه راکړه چي ولاړه سم،تا قسم کړی و زه خو خپله نه درته راتلمه .

احمد راته وويل:

ورسه کور دي ودان چي راغلې ،زما خو دا خيال و چي نن به مي ستاسوپه کورکي اخيري شپه وي ،زما هم درته اجازه ده ورځه په مخه دي ښه. زه هم ځني راغلمه خپلي خوني ته او پر خپل ځای پرېوتلم، سهار راکښېنستمه چای مي پخې کړې د سهار چای يې هم راسره وڅښلې بيا ولاړی ډېر خوشاله وو،کله چي دوکان ته تللی و نو هلته په دوکان کي چي به په مخه څوک ورتلل، نو دا کيسه به يې ورته کوله چي ما خو ماښام داسي شپه تيره کړه، داسي سات مي تير سو داسي او داسي... زه نو په دا کيسه نه ومه خبره چي ده هر چا ته ويلي دي،خو پلار مي باندي خبر وو ،هغه ته هم بل چا ويلي وه چي احمد ما ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسي وويل،اوس خوداسي وخت دی که یوڅوک یوه خبره وکړي نوهغه بل نفرته حتماً حال رسيږي. پلار مي زما سره سمي خبري نه کولې راڅخه خفه وو، ما دا ګومان کوی چي مريض سوی به وي پوښتنه مي ځني وکړه چي پلارجانه مريض يې،داسي بل رقم معلومېږي .

پلار مي راته وويل:

يا لوري جوړ روغ يم،هيڅ نه دي راسوي .

ماته يې داسي ويل ، اصلاً يې زه په ځان نه پوهولم ځکه زما څخه خوابدي وو،زما زړه طاقت و نه کی ،نو مي له مورنه پوښتنه وکړه چي مور جاني پلار مي مريض دی چي داسي بل رقم معلوميږي که کومه خبره ده او زه نه يم خبره؟

مور مي راته وويل:

مريض نه دی،ستا څخه خوابدی دی.

چي مور مي داسي راته وويل زه حيرانه سومه ، ما ورته وويل:

ولي زما څخه کوم بد کارسوی دی که څنګه؟

زما خوبيخي احمد ته پام لا نه وو ،نه مي په ذهن کي احمد را تېرېدی،چي هغه به کار خراب کړی وي.

مور مي راته وويل:

چي هغه څو ورځي مخکي چي احمد راغلی وو، بيا ته په نيمه شپه کي د احمد خوني ته ورغلې وې ،موږ نسو در خبر خو پلار ته دي کوم چا ويلي وه، چي احمد موږ ته داسي کيسه وکړه چي زه د دوی کره هروخت ورځمه،په ټول کورکي يې ازاد ګرځم ، لوري خلک څه پوهيږي چي تاسي واده سره کوی، خلک خو نور فکر کوي او په ذهن کي يې بل څه ور ګرځي ،ته يو څه احتياط کوه لوري ،چي موږ بدنامه نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړې او سترګې مو راټيټې نه کړې، پلار دې هم سپين ږيرى دى زه هم سپين سرې يم د غمونو تاب نه زه لرم نه دې پلار، په دا عمرچې بدنامې را واوړي ،نو به مو زهرې و چوي،کنې زه خو په تا ډير اعتبار لرم ،ته خو زما لور يې.

ما چې له خپلې مور نه دا خبرې وا ورېدلې ، له احمد څخه مې ډيره خوا بده سوه .ځکه هامتل دى (چې که ښه کوې بد به حتماً در رسيـږي) ته خو هوښيار وې احمده، تا به ولې دا خبرې هر چا ته کولې،مور ته مې وويله :

څنګه اعتبار چې په مالرې داغسې هم يمه، تاسو ما ته وويل چې له احمد سره واده وکړه ،کنې ما واده څه کوى،ما احمد څه کوى، خو مور مې په دا خبرو خطاکړله چې ما هيڅ هم نه دې کړي او اوس نو د احمد د راتلو په انتظار وم ،چې کله به راسې او زه به يې د ټول عمر خوا وربدوم چې بيا زما نوم هم وا نه خلې، احمد نو پوره يوه هفته وروسته د شپې زموږ کره راغى ، زما پلار او مور ورغله سترې مسې يې ورسره وکړه،خو زه ډيره وروسته ورغلم ما چې سترې مسې ورسره کول په عينې سترې مسې کې يې سترګه راته و وهل، ما په زړه کې ويل چې بـچــو زه اوته به وروسته سره ګورو،تر هر څه وروسته د خوب وخت سو او موږ ټول ځنې راغلو خپلې خونې ته، احمد يواځې پاته سو. ما مې پلارته ويل :

مادرته ويلې وه چې زه واده نه کوم ،تاسو ورته مجبوره کړم او بل هغه بله شپه چې احمد راغلى وو زه دشپې ورغلمه ،ځکه ما ته احمد ويلې وه ،چې که رانغلې زه بيا ستاسو کورته نه راځم ،نو زه ستاسو په خاطر ورغلمه اوله احمد سره مې و ليدل ، ځکه ما ستاسو خوشالې په اوبو نه لاهــو کول ، تاسو زما او د احمد واده کولو ته ډير خوشاله واست،خو

(c) ketabton.com: The Digital Library

هغه احمد کوم چي تاسو راته انتخاب کړی وو،هغه داسي کار وکی چي ټول کلي يې په دا يوه هفته کي راباندي خبر کړ،نو زه نن ورځمه ستاسو په مخ کي او هغه ته ځواب ورکوم ځکه چي نه يې ستاسو عزت ته وکتل اونه يې خپل عزت ته ،دا چي تراوسه مو واده نه دی کړی هرچاته کيسه کوي که مو واده وکي خو بيا ټولي دنيا ته وايې ،پلارجانه ماوبخښه چي زما څخه خوا بدی يې.

پلارمي راته وويل:

چي يا لوري داسي به هيڅکله هم نه کوې ،ته به له احمد سره واده کوې،خير دی چي احمد هرڅه وايي و دي وايې ،خوته به هغه نه خفه کوې.

پلارمي نه غوښتل چي هغه ته ځواب ورکړم ،نو مي ورته وويل:

ستاسو چي خوښه نه وي نو بيانه ورته وايم،اوس ورځمه ورسره وينمه ځکه نن ئې بيا راته وويل چي زه درته انتظار يم ايا ورسم پلارجانه؟

پلارمي هم اجازه راکړه چي ورسره و وينم،نو زه هم راغلمه د احمد خوني ته ،ډيره ورته خواشينې وم چي هر څه به ورته وايې،دروازه مي ورخلاصه کړل او خوني ته ورننوتلمه.

احمد هم له ځايه را ولاړسو غوښتل يې چي لاسونه زما په غاړه کي را وا چوي، ما يې لاسونه په زور له ځانه ايسته کړل .

ماته ئې وويل:

ولي مي لاسونه نه پـرېـږدې ؟

ما ورته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



چي لاس څه نور زه نه غواړمه چي درسره و وينم،دغه مو اخيري شپه ده . بيا زما نوم په خوله وانخلې او نه بيا زموږ کره راسې، تا ولي خلکو ته د هغه تيري شپې کيسه کړې وه،تا ته دا کيسه کول معمولي کار ښکاري،خلک خو دا نه وايي چي دوی واده کيدونکي دي،هغوی خو نور فکرونه کوي ، چي کوزده يې نه ده کړې او دی هلته سهار او ماښام ورځي ،ته په دې پوهيږې که يا ؟

احمد راته وويل:

دا خو بيخي معمولي خبره ده ،خلک دي هرڅه وايي زما يې په څه زه خو په رښتيا هم واده درسره کوم، ستا سره ټول ژوند همداسي خوشاله تيرول غواړم ،ما خپله خوشالي نسوای برداشته ولای ځکه مي هرچاته و ويل ،هغوی هم په دې خوشاليـږي،په دې کي بيا د خلکو څه ګټه ده چي بل ګمان به کوي.

ما ورته وويل:

چي ستا خبره هم صحي ده ،چي خلک زما او ستا په مينه څه کار لري خو په هغه وخت کي چي زما او ستا واده و سي هغه وخت که هرڅه هر چاته و وايې پروا نه کوي .کله چي مو واده وسو بيا که هر چا ته هر څه وايې و وايه او هر څه چي کوې بيايې کوه،نن زه د همدې خبرو لپاره درته راغلې يم،چي بيا چاته داسي خبري و نکړې په دې ته پوه سه نور نو زه ځمه درڅخه،زه ځني را ولاړيدمه خو احمد ترلاس ټينګه کړم، ما ځان ځني خلاصوی خونه يې ايله کولم،ځني زور مي کړل ځان مي ځني خلاص کی،خو بيا يې ترلاس ټينګه کړمه ما بيا ځان ځني خلاص کی،دا واري نو دومره راته خواشينۍ سو چي له ډيري خواشينۍ څخه يې پر دا مخ داسي ټينګه چپلاخه راکړه چي پر ستر ګو مي توره شپه سوه، زه خو ومه ورته خواشينې چي چپلاخه يې راکړه بيا خو مي بيخي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وينه ورته و ايشېدله، نو ما ته چې هم خدای (ج) زور راکړی وو داسې ټينګه چپلاخه مې پر دا مخ ورکړه او له خوني څخه را و وتلم، د را وتلو په وخت کې يې راته وويل چې نن مو اخيري شپه ده بيا به نه سره وينو .

ما ورته وويل:

چې خدای(ج) مو دې نه سره يوځای کوي ،بيا چې زما خواته را وه لا نه ګورې او نه بيا زما نوم واخلې،وروسته له نن څخه نه ما ته پېژندلې او نه تا زه پېژندلم،دا خبرې مې ورته وکړې او له خوني را و وتم، له ځان سره مې دا فکر کوی چې دا خو مو واده نه و سره کړی تر دې حاله ورسيدو،که مو واده سره کړی وای بيخي به مو ډانګيان سره ګرځول، ډيره خواشينې وم او خوامې هم بده وه خپلې خوني ته راغلم اوپرځای مې پرېوتلم ،هيڅ خوب نه راتلی تر ډيره ويښه وم چورتونه مې وهل چې ښه سو ځنې خلاصه سوم، ما به دا ټول ژوند په دا رقم له هغه سره څنګه تير وی،زه چې راغلمه مور او پلار مې لانه وه بيده سوي،زما څخه يې پوښتنه وکړه چې څه کيسه پيښه سوه،ما هم هغوی ته ټوله کيسه وکړه،د پلار مې ډيره خوا بده سوه ماته يې وويل چې ښه کار دې نه وکی، ما ورته وويل په دې کې زما څه ګناه ده ،دی چې زمانوم بدوي او ستا عزت ته په سپکه ګوري ،نو ما نسوای زغملای،وروسته بيا مور ټول بيده سوو،که څه هم ماته هيڅ خوب نه راتلی يو وخت و بيده سوې وم،سهار ډيره ناوخته راکښېنستمه ، د سهار چای مې تيارولې ،چې مورمې راته وويل :

چې احمد تللی دی .

ماورته وويل :

د هغه نوم بيا مه را اخله ،ښه سو چې ولاړی،د هغه څخه وروسته احمد بيا نه دی راغلی او نه بيا ما ليدلی دی. نو دا وه زما او د

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمد کیسه چي درته ومي کړه ،ستا ماسیوا بل چاته مي ویلې هم نه ده،ما غوښتل چي تا ته هم دا کیسه مخکي له مخکي وکړم، او له هر څه دي خبر کړم، بیا مي ویل چي که درته و وایم نوبه راڅخه خفه سې او تا به هم له لاسه ورکړم ،ښه سو چي ته خپله خبرسوې او تا خپله پوښتنه راڅخه وکړه ،نور که کومه بله پوښتنه لرې چي ځواب یې درکړم .

ما ورته وویل:

یا بله پوښتنه خو نسته،خو احمد یو رقم وایي او ته بل رقم وایې، اوس زه په دوو کي حیران یم چي پر چا باور وکړم ستا دا ومنم او که داحمد دا ومنم.

زرغونې راته وویل:

چي احمد خو غلط سړی دی هر څه به یې درته ویلي وي او ما که یوه ورځ هم درواغ درته ویلي وي،نو زما خبره نه بلکي د احمدخبره ومنه .

ما ورته وویل تا خو رښتیا هم درواغ نه دي راته ویلي، اوس به دا کیسه پر همدې ځای پرېږدو زه به ګوندي نورمعلومات هم ترلاسه کړم ،دا خبره مي زرغونې ته وکړه او بیده سولو ،سهار مي چای هم له زرغونې سره وڅښلې او راغلمه کورته،په دې فکر کي وم چي دا اوس څنګه کیسه ده،احمدیوڅه وایي او زرغونه بل څه ،زرغونه هم د درواغو نه راته معلومیږي او هغه به ولي درواغ وایي ،کیدای سي چي احمد درواغ راته ویلي وي ،خو احمد هم درواغجن نه راته معلومېدی ځکه هرڅه چي یې راته ویلي وه هغه هم صحي وه او دزرغونې په ټول کور خبر وو،دا ځان سره حیران ومه چي د چا په خبرو باور وکړمه، احمد وایي زه نه یم ملامت خو زرغونه چي ده هغه ډیره چلبازه ده ، او زرغونه وایي احمدغلط سړی دی،خو زه به د دوی کیسه له کوم بل چا څخه ځان ته

(c) ketabton.com: The Digital Library

معلومه وم، دا کیسه به یو څو عمر پر خپل حال پرېږدم ،کیدای سي په هر څه خبر سم،خیر  په دې کي درې ورځي و وتلې،نه زه د زرغونې کره ورغلی وم او نه هم د احمد دوکان ته،یوه ورځ مي د کور لپاره سودا راوړله، سودا مي واخیسته او راځمه کورته چي یو ناولده سړی په مخه راغلی او زما سره یې ستړې مسې وکړه ما هم ستړې مسې ورسره وکړه او راته وې ویل زه له تا سره کار لرم،ما ورته وویل څه کار راسره لرې څنګه کار راسره لرې دلته راته و وایه،دې ناولده سړي راته وویل چي پټ کار درسره لرم یو ګوښې ته به سو،زه هم یو غلي ځای ته ورسره ولاړم او ورته ومي ویل چي څنګه کار راسره لرې؟

دې ناولده سړي راته وویل:

چي زما نوم سمع الله دی او زه د احمد له نږدې ملګروڅخه یم، په هغه ورځ چي ته د احمد دوکان ته راغلی وې، نو احمد موږ ته ستا په باره کي وویل چي د زرغونې پلار را استولی وو.

ما ورته وویل:

زه پوه نه سومه چي ستا مقصد څه دی.

سمع الله راته وویل:

چي وروره زه تا ته د احمد په سترګو ګورم په دې کي زما کوم مقصد نسته صرف ستا او د احمد خوشالي زموږ ارزو ده ،تا ته چي احمد هرڅه ویلي دي هغه رښتیا دي، زه د قیامت په ورځ هم دغه شاهیدي ادا کوم چي احمد په حقه دی او زرغونه اوکورنۍ یې چلبازه دي، ته به یې هم شاید خطا ایستلی یې.

ما ورته وویل:

چي صحي ده سمع الله جانه زه هم درسره قانع یمه زه هم په همدې کوښښ کي یمه چي په اصلي موضوع باندي ځان پوه کړمه،اوس

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوداسي وخت دی چې په هيڅا هم باورنسته او نه د باور کولو څوک پاتـه دي، زه به یو څو ورځې لانور هم صبر سم چې څنګه کيسه ده او څه پيښ سوي دي.

سمع الله راته وويل:

چې زما هم داغسي درسره خوښه ده خو زه دومره درته وايم چې زرغونه ډيره چالاکه او بيداره نجلۍ ده،چې تا په کوم جال کې بند نه کړي.

ما ورته وويل:

زه اوس ورسره پوه يمه،ته بيغمه اوسه زه هر څه انشاءالله سموم، ، نو مې د سمع الله سره خدای پاماني وکړه او سره رخصت سولو،د سمع الله خبرو بيخي وګنډلم دا ځکه،چې زما ډير شک پر احمد راتلی چې کيدای سي دی هم دوراغ راته وايي او دی ملامت دی،د ځان د سپيناوي په خاطرهرڅه وايي او زرغونه رښتيا وايي ځکه چې درواغو ته څه حاجت لري، خو چې سمع الله کيسه راته وکړه،نو پر زرغونه مې يو څه شک راغی چې کيدای سي دا به هم ملامته يي او فساد به هم په دې کي وي او د پخوانيو خلکو متل را ياد سو چې په دريو شيانو اعتبار کول ښه نه وي لکه ښځه ، آس او اسلحه دا درې واړه شيان د باور کولو نه دي، د زرغونې په چالاکۍ کي مي چورت وهئ چې له چا به د دې په باره کي پوښتنه کوم څوک به هغه ښه پيژني او څوک به ښه په خبر وي چې معلومات راکړي، ځکه په زړه کي مي خيره ورته پيدا سوه په خپله مينه باندي مي شک سو، خو داسي څوک مي په ذهن کي نه راګرځيدل چې پوښتنه ځني وکړمه او بل زرغونې خپل ځان داسي سپين راته ښودلی وو لکه ملايکه، بس نومي بيا د زرغونې د کور دتللو لپاره نيت و تړی چې ورځم به،نو مي د ماښام انتظار کوی چې ماښام سي

(c) ketabton.com: The Digital Library

او ورسمه او له زرغونې سره نوي خبري وکړم او دليدلو لپاره يې هم ناقراره وم ،په هرصورت ماښام سو ډوډۍ مي کور و خوړله او د زرغونې پر لور ور روان سومه، د زرغونې کورته ورغلمه ګورم چي پلار او مور يې دواړه هلته وه،خو زرغونه نه وه له دوی څخه مي پوښتنه وکړه چي زرغونه چيري ده ؟

دواړو په ډيره وارخطايي وويل:

چي زرغونه د خپلي خورلڼي (ملګري) ميلمنه وه ،دا نه ورسره تلل خو هغې نجلۍ مور ته ډيري زارۍ وکړې،نو مور هم ورته وويل بيا داهم ورسره ولاړه،نونن هلته تللې ده.

داچي يې راته وويل نو مي په زړه کي د سمع الله خبره رايادە سوه،چي راته ويلي يې وه چي زرغونه ډيره چالاکه ده چي په تا کوم فساد ونکړي نو مي دوی ته وويل:

ښه سو چي ورسره تللې ده دا به هم ديغ سوې وه،يو څه پام به يې هم په بله سي اوتاسو هم ښه کار کړی چي ورسره پرې ايښې مو ده،نو مي له دوی سره چای وڅښلې او ورته مي وويل چي د هغوو کور چيري دی؟

دواړه وارخطاسول،چي که ستاپه کاروي مور به يې راولو.

ماورته وويل:

يا اوس خو دراوستلو وخت نه دی د هغې ملګري کوريې چيري دی ؟

بيا هغو وويل دغه نږدې کور دی کور يې راته و ښودی،که څه هم دوی ډير راته ټينګ سول چي پاته سه، خو زه نه ورسره پاته کېدلم، له کوره چي يې را وتلم نو د زرغونې مور راته وويل:

چي که زرغونه دلته وای بيا هم تللې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما ورته وخندل چي هو بيا هم تلم،ځني راغلمه کورته ،په کور کي دا سودا راولويده چي راسه د همسايګانو کره د زرغونې پوښتنه وکړه ،کيداي سي رښتيا او درواغ به يې درته معلوم سي،نو راغلم دزرغونې د ملګري کورته، دکور دروازه مي په ډير غټ زړه سره وروټکول،يو لس کلن هلک را ووتی دروازه يې راته خلاصه کړه پوښتنه يې راڅخه وکړه څوک يې او څه غواړې؟

ما ورته وويل:

زه د زرغونې د اکا زوی يمه،مور يې يو څه مريضه سوه،که زرغونه راخبره کړې چي کورته راسي،هغه ستاسو کره ميلمنه ده،ماته يې موروويل چي زرغونه راخبره کړه چي ژرراسي،که ته ورته و واې ښه به وي .

هلک راته وويل:

کوردي غلط کړی دی ،کيداي سي بل ځاي تللې وي ،زرغونه خو زموږ کره په دا کال نه ده راغلې او نه هم زما خور د هغې ملګرې ده اونه يې موږ کورته راپرېږدو.

ما ورته وويل:

راغلې ده ته به نه يې په خبر .

هلک وويل:

چي زه به په خپل کور نه يم خبر عجبه خبره کوې.

ماورته وويل:

ښه دی نو ولاړ به سم ،زه ځني را رهي کيدم چي دا هلک راته وويل:

چي ستاهم انډيواله ده؟

ما ورته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا په خبره پوه نه سومه،زرغونه خو زما د اکا لور ده او زه دلته د هغې مور رالیږلی یم مور یې مریضه ده او هغه یې غواړي.

هلک راته وویل:

هغه خو د ټولو د اکا لور ده ،د اکا د لور په نامه د ټولو سره انډیوالي کوي ته نو کم نه یې په خبر،ستا به هم انډیواله یې اوس هسي ماخطا باسي

دا خبري چي هلک راته وکړې نوباندي شکمن نه بلکي باوري سومه،چي ټوله کیسه په زرغونه کي ده ،هلک ته مي و خندل چي ته هم راخبر سوې؟

هلک راته وویل:

په ډیرو خبر ومه او لیدلي مي وه خو ته مي تر اوسه نه وې لیدلی، خو اوس در خبر سوم چي ته یې هم انډیوال یې.

هلک ته مي وویل:

ته یو داسي وخت را وښیه چي زه او ته دواړه یوائې سره و وینو او په همدې باره کي خبري وکړو؟

هلک راته وویل:

هر څه خبره چي کوې اوس راته و وایه زه بیا نسم درسره لیدلای . ما ورته وویل:

چي صحي ده زه د زرغونې په باره کي ستا څخه یو څو پوښتني کوم هیله کوم چي صحي ځواب راکړې؟

هلک راته وویل:

چي څه صحي ځواب یې غواړې، موږ ټوله ځني په عذاب یوو،ډیر ناولده خلک یې کور ته ځي او راځي،د دوی له خاطره دا ټوله کوڅه ورسره بد نامه ده او خلک په دې کوڅه پسي ډیري خبري

(c) ketabton.com: The Digital Library

کوي،ته د دوی په باره کي نور زما څخه څه پوښتني کوې؟هغه ده خپله مور يې نه ده باندي خبره چي چيري تللې ده اوګوره له چا سره به تللې وي او زموږ کوريې ورښودلی دی زموږ دکور په بهانه ګوره چيري تللې وي، زموږ کور يې لاهم بدنامه کی، نور نو کومه بله پوښتنه سته چي درته و وايمه.

زه له هلکه څخه ډير و شرميدمه ،کله چي هلک دا خبري راته کولې ما خپل ځان داسي احسا سوی لکه پر اور چي ولاړ يم اوکيسه راته کوي،نو مي دا هلک ته وويل:

يا بله پوښتنه نه کوم بس دغه کفايت کوي تشکر ،ما چي هلک ته تشکر ويل د هلک پلار، هلک ته وربږغ کړی زويه څوک دی او څه غواړي؟

هلک هم ښه بيداره اوچالاکه و،داسي يې نه دي ورته ويلي چي دزرغونې پوښتنه کوي نو يې پلار ته وويل:

ناولده سړی دی کور يې غلط کړی و ما هغه کور ور وښوی کوم چي ځني ورک سوی وو.

پلار يې ورته وويل:

چي په دومره وخت کي دي لا نه دی ور ښولی؟

هلک ورته وويل:

ور ومي ښوی،نو مي هلک ته لاس پورته کي او ځني راغلم کورته، کور ته چي راتلمه په لاره نه پوهيدم ، په ځای کي پرېوتلم د خدای (ج)شکر مي و ايستی چي واده مي ورسره و نسو ، په لږوخت کي يې په دومره کيسو خبر سوم نوري پټي کيسې به يې څومره کړي وي او مور او پلار يې هم درواغ درته ويل، چي د همسايه کره ميلمنه ده، بس خپل تندی مي وټکوئ چي لا به څومره نوري سختۍ و وينې، احمد

(c) ketabton.com: The Digital Library

غريب رښتيا ويل، سمع الله او د زرغونې همسايه هلک، هم نه وه ملامت چې ويل يې زرغونه ډيره چالبازه ده ،نو مې دا تصميم و نيوی چې صبا به احمد ته ورځمه او له هغه سره به دا ټولې خبرې شريکوم، چې هغه په دې کې څه وايي. کله چې سهار سو نو راغلمه د احمد دوکان ته ،احمد چې زه وليدمه راولاړ سو او په غېږ موسترې مسې سره وکړه،دننه په دوکان کې کښېنستو؛چای يې راته راوړلې او د زرغونې بحث يې راسره را واخيستی، چې څنګه دې کړه کيسه څه معلومات دې تر لاسه کړی که يا؟

ما ورته وويل:

چې دې کيسې خوزه خوار او زار کړی يمه، دومره وخت لاهم نه دی تير سوی په دومره کيسو يې خبر سومه او ډير يې و ځورولم،ته به يې څومره ځورولی يې،خير له زرغونې نه به ګيله نه کوو، له خپل قسمته به ګيله کوو.

احمدراته وويل:

ولې څه کيسه پيښه سوې ده .ما خو په خبر که؟

ما ورته وويل:

که مې کيسه درته وکړه نو زړه او غوږونه به دومره طاقت ونه لري چې وايې وري او و يې زغمي؟

احمد راته وويل:

زه خوپخوالا هم خوار او زارسوی ومه،ښه ده چې نورهم ښه خوار اوزار سم.

ما ورته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

خدای(ج) دي مه خواروزار کوه،کیسه داسي ده ،نو مي له سره تر پایه ټوله کیسه ورته وکړه،چي زه او ته لاشکایت هم ځني کوو،چي ولي یې زموږسره داسي وکړل.

کله چي مي احمدته دا کیسه کوله نو ډیر زهیر سو او ډیره خوابې هم بده سوه، راته وې ویل:

زه پخواهم په دې پوهېدمه چي زرغونه به له کوم بل چا سره هم مینه کوي ،خو ځان ته به مي خپله د لاسایې ور کوله چي داسي کله کیدای سي زه هم زیاته مینه ورسره لرم او زرغونه هم زیاته مینه راسره کوي او زماشک اوس رښتیا سو، زه هغه وخت لا ورباندي شکمن وم،چي ماته خپله زرغونې ویل چي زه له تاسره ډیره مینه کوم،خو وروسته یې زما مینه هیره کړه او خپل د خاله زوي یې انتخاب کی او اوس یې خپل د خاله زوی هم هیر کړی دی او له بل چا سره مینه کوي ،نه پوهېږم د دې ښځه یې هدف څه دی ،دا دی شک مي په یقین بدل سو ما خو په رښتیا مینه ور سره کوله زه نو د دې په دا کیسو څه خبر وم او څه به خبرېدمه، چي تا نه وای راته ویلي ،زما زړه خو له هغه وخته څخه هم خوږین وو او اوس چي دي دا کیسه راته وکړه خو بیا بیخي خوږین سو او دا رښتیا ده چي په ښځه باور کول د ځان تباه کول دي،ښځي ډومره مکاري وي،په یوه ساعت کي لس رقمه کیږي په یوه حال نه وي.

ماور ته وویل:

چي ر ښتیا هم ښځه د باور کولونه وي، که دي باور په وکی ځان ته دي اور واچوی ، ښه اوس دا راته و وایه څه کوو او څه نه ورسره کوو، ځکه زه او ته دواړه د زرغونې ښکار سوي یو.

احمد راته وویله:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما خو دا خوښه ده چي له دې نه وروسته به يې پسې ايله کړو ،زه به هم لاس ځني واخلم او ته هم لاس ځني واخله.

ما ورته وويل:

دا خوښه کاردی چي بيخي يې هيره کړو،خو که مو اوس همداسي پرېښوده، نو زما او ستا غوندي به نور ځوانان هم د دې ښکار سي،زما او ستا غوندي نور به هم همداسي په اورکباب کړي،دنوروځوانانو د ښکار څخه به يې را وګرځو،څنګه داسي دي نه خوښه.

احمد وويل:

داغسي مي بيخي خوښه ده خو څنګه به ورسره وکړو چي نورځوانان ددې له ښکاره وساتو.

ماورته وويل:

په دواړوسره به يو پلان ورته جوړ کړو.

احمدراته وويل:

صحي ده نن شپه ته هم يو پلان جوړ کړه او زه به يې هم جوړ کړم،که د هر چا پلان کاميابه وو نوبه هغه پلان تطبيق کړو.

ما هم له احمد سره همدا خبره خوښه کړه او ځني راغلمه کورته ،په کور کې مي چورت له زرغونې سره سو ،چي که دي پسي پرېښوده هم به دي طاقت نه کيږي او که داسي ورسره و نه کړې نور ځوانان به زما او داحمد غوندي خطا باسي او د هغوی ژوند به ور تباه او بربادکړي ،ځکه دا خو د هر چاله ژوند سره لوبي کوي ژوند يوه لوبه ورته ښکاري ،دا يو هسي کار ورته معلوميږي ،بيا مي تير سوي يادونه راپه زړه سول ، چي ما به دا ويله چي خدايه(ج) ته يې رانصيب کړې، بې زرغونې ژوندکول راته ډيرسخت او ستونزمن دي ،خدايه(ج) زه نور هيڅ

(c) ketabton.com: The Digital Library

له تا ځخه نه غواړم مال او دولت نه غواړم ،فقط چي زرغونه مي نصيب سي ،هغه مي مال دولت او هرڅه دي . بيا به يې دا دوکه را ياده سوه،چي خدايه(ج) ځنګه زمانه سوه، يو زړه له ميني او محبت او ارمانونو ځخه ډک وي او بل زړه له چمبازۍ مکارۍ او فساده،کاشکي خدايه (ج) زرغونې هم لکه ما چي دومره له حده زياته مينه ورسره درلوده اوکوله ،دې هم په پاک زړه راسره مينه او محبت کواى ، څومره خوند به يې کړى واى،ما خو زرغونه ستا ځخه خدايه(ج) پردې دنيا څه په هغه دنيا هم خپله همسفره غوښته ، خدايه(ج) بيشکه ستا او د انسان اراده سره يوه نه وي،بيشکه ته تر مور او پلار زياته مهربانه يې ،بس مانو دغه اهــونه اوفريادونه کول خوهيڅ څه په درد نه راته خوړل ، او دا هم ر ښتيا دي چي د چا عمل ته نه بلکي د هغه زړه ته کتل په کار دي،نو مي له ځان سره خپل پلان جوړ کی چي کله احمد هم خپل پلان راته و وايه نو بيا زه هم خپل پلان ورسره شريک کړم ،خير دغه شپه مي ترسهاره هيڅ خوب و نه کی، سهار سو او د احمد دوکان ته ورغلمه ،له ستړې مسي وروسته يې راته وويل:

چي ما خو پلان په داسي رقم سره جوړ کړی دی،چي ماښام يې کور ته د انډيوالانو سره ورځمه او په زور يې له کوره را باسمه خپل کور ته يې راولمه او ورته وايمه، چي ولي بې وفا زه خو ستا په اميد تراوسه پوري ناست يم ،ته مي تل ازاره وې او زما توانايي،قدرت او عزت ته وې ،تا ما ته په خپله وويله چي واده به اوس نه کوو يو څو عمر به صبر سو واده خو اسانه دی هر وخت کيږي، او په هغه سر بيره دي نور انډيوالان هم پيدا کړل،ما به تا ته دومره مينه درکړې وه چي هيڅچا هم نسواى درکولاى،ما څومره تکليفونه په تا ګاللي څومره خوارى مي زغملې څومره مصرفونه مي درباندي کړي او ته له نورو سره هم جوړه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوې، زماپه مينه کي څه کمی وو، دا دی اوس مي په زور راوستلې او په زور واده درسره کوم که ستاخوښه وي که نه وي،که ستا رضاوي که نه وي،يو څو عمر به راسره وي وروسته يې طلاقه وم، څومره خواری چي دې پر ماتيري کړي دي ، هغومره خواری به زه وربانديي راولم،ترڅو نور هم عبرت ځني واخلي، ما خو داسي پلان جوړ کړی او زما دانډيوالانو هم داسي راسره خوښه ده ،زما خو دغه پلان دی ايا زما پلان دي خوښ سو؟

ماور ته وويل:

چي ياستاپلان مي بيخي نسو خوښ، احمده وروره داسي به نه ورسره کوو،داسي به وکړو چي نن ماښام به زه او ته دواړه ورسو د زرغونې کور ته ،چي ټول سره يوځاي سوو،نو به دا خبره دزرغونې له پلار سره ياده کړو چي دا دی موږ دواړه راغلي يو،په موږ دواړو کي اوس چاته زرغونه ورکوی،زه او ته خو يې نه کوو خو دوی ته به داسي و وايو چي دوی څه وايي،د دوی درواغ به ځان ته معلوم کړو ځکه د درواغو منزل لنډ وي او دد وی په مقصد به پوه سو چي اصلي مقصد يې څه شي دی او بل دا چي په زور هيڅ نه کيږي که و سي هم مزه نه کوي،خلک به بد وايي او له پيغوره به خلاص نسې په نرمۍ په خوشالۍ په خندا به ورته ووايو چي کوم يوه ته يې ورکوې او کوم يو دي له موږدواړو څخه خوښ دی، که څه هم زه ځني تيريم او په کار مي نه ده، هغه مينه يې زما بس ده کوم چي مي مخکي ورسره کوله او هغه مينه به ترمرګه پوري په خپل زړه کي پټه ساتم، مګر وروسته له دې نه مخامخ ورسره مينه نه کوم،نو دغه کاربه ورسره وکړو او دا به هم ورته و وايو چي موږ ستاسو په هرڅه خبر سوي يو،خو دا خبره به هغه وخت ورته کوو چي دوی مو له خپل ټول کارو څخه خبر کړي ،کله چي خبر سوو نوبه ورته و وايو چي پس له دېنه

(c) ketabton.com: The Digital Library

به بياداسي کار له هيچا سره نه کوي ،نو دغه بيا زما پلان دی څه که ته څه پکښي واې هغه ستا خوښه ده؟

ما چي احمد ته دا خبري وکړې ،نو احمد شاباسی راکی چي ستا پلان صحي دی، ماښام به دواړه ورسو که الله(ج) راسره مل و،خو ته به د ماښام ډوډۍ زماسره خورې، وروسته تر ډوډۍ به ورسو.

ما هم نورڅه ونه ويل او ورسره ولاړم،ډوډۍ مي داحمد سره و خوړله او وروسته دواړه روان سولو د زرغونې پرخوا ،کور ته چي يې ور و ورسيدو ،نو دروازه ښده وه احمد وروټکوله ، دروازه نظرجان اکا خلاصه کړه ،نظرجان اکا چي احمدوليدی نو ورته و يې ويل: ته، ته او دا ځای، زه پوه سومه چي نظرجان اکا وارخطا سو ،نو زه ورمخته سومه او ستړې مسې مي ورسره وکړه ،وروسته موږ درې سره ولاړلو دننه کورته اوپه خونه کي کښيناستو، د زرغونې مور هم راغله او زرغونه هم راغله له موږ دواړو سره يې ستړې مسې وکړه، زرغونې زما سره ښه ستړې مسې وکړه ،خو د احمد سره يې په مات زړه ستړې مسې وکړه او نظرجان اکا زرغونې ته وويل چي دوی ته ډوډۍ تياره کړه .

ما ورته وويل چي ډوډۍ خو مو خوړلې ده او چای مو نه دي څښلي، چای دي راته راوړي.

زرغونه هم ولاړه په چايو پسي ، ما او احمد ته يې چای راوړلې د زرغونې د لاس چای وې څومره خوند به يې کړی وي،نظرجان اکا احمدته وويل:

دا ډيرعمرتيرسو هيڅ درک دي نه وو ، زموږڅخه خوا بدی سوی وې ؟

احمد ورته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زه هیڅ کله هم له هیچانه نه یم خفه سوی او نه خفه کېږم تاسي خفه سوي واست ،زه خو دورځي په دوکانداری اخته یمه او دشپې له خوا څخه ډیر ستړی ستومانه یم کورته ولاړ سم اوبیده کېږم،احمد نور هم غوښتل چي یو څه ورته ووایي ، نو مي احمد ته سترګه و وهله چي کار مه په لره، کوریې ودان نو ده هم نور څه نه ورته وویل صرف دا خبره یې لاورته وکړه چي دکور له خوا راباندي بندیزونه هم وه ، نو په همدې خاطر زه نه راتلمه.

نظرجان اکا ورته وویل:

هو موږ خوارانو ته نو کله څوک وخت پیدا کولای سي چي پوښتنه مو وکړي، دوی دغه پوښتني اوګیلې سره کولاې ، ما احمدته وویل دا ګیلې اوس پرېږده راځه اوس اصلي موضوع ته په ګیلو اوس څه نه جوړیږي.

احمد هم راته وویل:

چي صحي ده موضوع ته ورته شروع کړه.

نو ما هم نظرجان اکاته وویل چي مونږ خو دا دی دواړه راغلو او دواړه درته حاضر یو ،تا راته ویلي وه چي ما خو زرغونه له احمدسره واعده کړې ده،نو اوس زرغونه ته چاته ورکوې؟ ،که یې ماته راکوې نو احمد په ما راضي دی ،که یې احمد ته ورکوې زه درباندي راضي یم اوکه یې احمد ته ورکړې زه به خوشاله هم سم ځکه ترما دی ډیره مینه ورسره کوي؟

نظرجان اکا وویل:

چي ولي نه تاسي دواړه ښه ځوانان یاست او زما دواړه خوښ یاست زه په تاسو دواړه خوشحاله یم چي زما لور په تاسو کي د هر یوه سي زه درباندي ډیرخوشحاله یمه ،داچي ته او احمدسره راضي سواست

(c) ketabton.com: The Digital Library

یاست،نور نو دا خوښه او انتخاب خپله زرغونې ته پرېږدم،ځکه اوس زه تاسي نسم انتخابولي ماخپله واعده پرځای کړه، له احمدسره مي دغه واعده کړې وه چي زرغونه به ستاوي اوزه يې تاته درکوم،اوس چي دواړه راغلي یاست نو انتخاب به دزرغونې او مور يې وي،هر يو چي يې په تاسوکي انتخاب کی هغه ته دي دا دوستي مبارک وي،مخکي زما خوښه وه خو اوس دا خوښه دوی ته پرېږدم .

ماور ته وویل:

دا اختيار ولي اوس دوی ته ورکوې،مخکي به دي هم دا اختياردوی ته ورکوی په دې کي بيا ستا څه مقصد دی چي له خپلي خوښي تېرېــږې او خوښه دوی ته ورکوې؟

ماچي نظرجان اکا ته دا خبري وکړې نو زرغونه راباندي راوغورځيده او راته و يې ویل:

اوس هر څه زما په خوښ دي ځکه زه اوس په هرڅه پوهېدلې یمه،زه نه ستا سره او نه د احمد سره واده کوم،ځکه ما دافيصله کړې ده چي زه بايد د خپل پلار او مور خدمت وکړم ،که زه واده وکړم نو به زما پلار او مور څنګه خپل خدمت په یواځې سره و کولای سي او بل زما عمر لا د واده کولو نه دی، زه تر اوسه لا کوچنی یم او واده کولو ته اماده نه یم،زما اوس په دې سر خلاص سوی دی چي د ځوانۍ او واده کولو د ژوند ډیر توپیر سته او د واده په ژوندکي چاته ډير مسوليتونه وي، چي زه هغه مسوليتونه اوس نسم پرځای کولای او ترڅو چي هغه مسوليتونو ته چمتو شوې نه یم واده نه کوم،واده خو هر وخت کيږي،زرغونه وار په وار جدي کيده،ترڅوخپل پلار او مور ته يې وویل:

چي تاسي ولاړ سی زه د دوی سره ښه پوهېږم تاسي بې غمه پرېوزی،زه له دوی سره نن فيصله کوم اوتاسي به سهار له هر څه نه خبر

(c) ketabton.com: The Digital Library

سئ ،هغوی هم دواړه ولاړل خپلي خوني ته،موږ درې سره پاته سولو،زرغونې خبري شروع کړې خپل ځان یې سپینوی چي تاسو زه ډیره و ځورولم ،زه مو بې اوره پخه کړمه،پر ما مو ډیر ظلم کړی دی دومره ظلم مو پر ما کړی چي بیخي زه مو بد نامه کړمه او تاسي لکه چي ما بدنامه کوئ،زما په بدنامی پسي مو پایڅې راپورته کړي دي ، بل ښه مو هیڅ نه د ي را رسیدلي،نه یې را رسوي .

ما ورته وویل:

موږ تا نه بدنامه وو ،تا موږ بدنامه کړو او خپل کور کلی دي هم ټول بد نامه کړی،ستا له وجي ټوله کلی بدنامه دی ټوله دنیا در خبره سوې ده ، ته نورموږ ته ځان مه سپینوه نو مي څه چي کیسې له هر چا چي مي اوریدلي وې هغه مي ټولي ورته وکړې ،بیامي ورته وویل:

چي زه خو تر دا اوسه هم ستا په کیسو باور نه کوم او نه مي زړه ته لویږي چي ته به داسي کارونه کوې، موږ ستاسره ظلم نه دی کړی تا له موږ سره ظلم کړی موږ خو هر څه درسره کوله ،مګر تا زموږ مینه او محبت له خاورو سره خاوري کړل.ولي دي داسي کول، اول دي احمد د میني په جال کي بند کی او وروسته دي زه د میني په جال کي بند کړمه او نور به دي څومره ډیر په جال کي بند کړي وي.

بیا احمد ورته وویل:

رښتیا هم تا داسي کارونه کړي دي چي زما عقل یې بیخي نه مني،تا زموږ له ژوند سره لوبي کړي دي ،زموږ مینه یو لوبه درته ښکارید ه،ولي دي داسي راسره کول،ما ستا په خاطر هر کار کوی او ما به دا ویل چي ته هم هر کار را سره کولای سې ځکه زماسره مینه کوې،خو هر څه دي په اوبو را لاهو کړل،زما مینه درته مسخره معلومه

(c) ketabton.com: The Digital Library

سوه ،خوزه څه خبروم چي ته به داسي بې وفا يې ،په ظاهره کي خو وفاداره معلومېـــږې خوپه باطن کي....څه درته ووايم.

زرغونې چي زما او احمده ځخه دا خبري وا ورېدلې، نو پوه سوه چي زما له هر کاره خبر سوي دي،نو په دې ويلو سره شروع سول ،زه ستاسو هر څه منمه اوهرڅه مي کړي دي ، نن زه تاسو ته د ځان په باره کي مکمل معلومات درکوم، زه منمه زه ستاسو د دواړو ګنهګاره يمه او تاسي ته ملامته يمه، ښه سو چي تاسي راباندي خبر سواست او دا دی اوس دواړه حاضر ياست زه ستاسو په شان شل نور عاشقان هم لرم، په دې خاطر چي د دې کور مشره او کشره زه يمه،ياني ټول د کور ضرورت زه پوره کومه ،ځکه پلار مي سپين ږيرى دی هيڅ کار نه سي کولی او مور مي هم سپين سرې ده د خوارۍ کولو او د بل د مزدوری کولو نه ده،نه مي د پلار جايداد سته او نه مي هم د مور کوم جايداد او ستمني سته،نه ورونـه يا داسي خپلوان لرم چي هغه زموږ سره مرسته او همکاري وکړي او مجبوره يمه چي له تا سره د احمد سره او د نورو سره په دغه رقم انډيوالي وکړمه او د کور ضرورت له همدې لاري پوره کړمه ما تاسو ته نسواى ويلاى، چي زه له همدې خاطره ستاسو سره او هم له نورو سره مينه کوم،تيره شپه چي ته راغلی وې، رښتيا هم زه دهمسايه په کور کي نه وم، له يوه بل سړي سره تللې ومه او تر سهاره ورسره ومه سهار چي له هغه ځايه راغلمه ،مور او پلار مي راته وويل چي دی راغلی وو او موږ داسي ورته وويل زه خوشاله سومه چي ته بير ته تللی وې،زه نو خبره نه وم چي ته به دهمسايه کره ور ځې او زما پوښتنه به له دوی ځخه کوې، بيا يې احمد ته وويل:

يوه شپه ته هم نابيره زموږ کور ته راغلې موږ په تا نه وو خبر چي ته به راځې، هغه ځوان چي اسدالله نومېدی هغه زما د خاله زوی نه

(c) ketabton.com: The Digital Library

 وو ،مور ټولو درواغ در ته وويل هغه هم زما ستاسو په شان عاشق وو او نور عاشقان هم لرمه، تا غوښتل چي زما سره واده وکړې او هغه هم ډير ژر،ځکه ته ډير جدي وې نو مور ټولو دغه پلان جوړ کی چي اسدالله به زه خپل د خاله زوی کوم او تا ته به وايو چي زمور د ټولو اسدالله خوښ دی او زمور خپل د خاله زوی هم دی او ما به د خاله زوی ته ورکوي، او ستا زړه مو په دغه رقم سره در ماتوی ،ترڅو زما څخه دي زړه صبر سي او ما پرېږ دې او هغسي هم و سول مور چي څه غوښتل هغه و سول او په خپل کارکي کامياب سولو زه به تاسو ته خپله ټوله کيسه وکړم چي ولي زه دې کار کولو ته مجبوره سوم، او ولي دا کارکوم اوس خوښې له هغه څخه هم ټوله کيسه تاسوته معلومه ده اوزه به تاسو ته خپله د مجبوری کيسه هم و وايم،څه وجه وه چي دې کار ته مجبوره شوم او ولي مي داکار کوی.مور ډير بې وسه سوي وو،يوې خواته مو مخ نه ګرځيدی حيران وو چي څه وکړو،نومي يوه ورځ پلار دا کليوالوته وويل:

چي زه ډيرمجبوره او بې وسه سوی يم،که زما سره څه کمک او همکاري وکړی،ځکه زه اوس دکارکولو توان نلرم اونه کار کولای سم،له خيرغوښتلو څخه مي وژغوری،نه مځکه لرم نه جايداد لرم نه مي خپلوان سته،چي له هغوی څخه مرسته و غواړم،نو دخدای(ج) او د هغه درسول (ص) په خاطر زما سره مرسته وکړی، خوهيچا مرسته ورسره و نه کړه او هريوه به ورته ويل کار ځنګه نسې کولای ځان مه اچوه هرڅه کولای سې،پلار بېچاره به بيرته نا اميده کورته راغلی،ډيري شپې او ورځي مور وږي اوتږي تيري کړې ، هيچا مو فرياد نه اوريدی،مور ټوله به حيران وو چي څه وکړو،يو ځو وخت مي مور دهمسايه ګانو د کورکالي پريمنځل او د هغوی ختې يې هم کولې او زمور لپاره به يې يوه ګوله ډوډۍ تياروله،يوه ورځ يي دومره کالي پريمنځلي وه چي بيخي تر

(c) ketabton.com: The Digital Library



دريو ورځو پوري له ځايه نسواى ښوريداى،دومره دوا وي مو وربانديوكړې چي څه پيسې مو درلودې هغه وربانديولاړې او ډاكټرانو له درانه كاره څخه منعه كړل چي دروند كار به نه كوې،مورته مو زما او زما د پلار طمعه وه هغه طمعه مو هم ځني وخته،اخيرته پلارمي په بازاركي فقر( خيرات) ټولول شروع كړل،په ټوله ورځ كي به يې چي هغه ډيري پيسې ټولي كړې نو به سل يا يو نيم سل افغانۍ سوې، يو څه موده مو هم په دغه رقم سره ګذاره كوله خوصحي ګذاره مونه كيده،ترڅو ما دا تصميم و نيوى چي زه هم بايدكاروكړم، هغه وخت زماعمر پنځلس كاله لا نه وو،نو ما هم د مور په شان د همسايګانو د كوركالي او د خټو كار كول شروع كړ، زه نوپيغله وم دا پيغلتوب راته سور اور وو،كنې ما هر كار كولاى سواى او ښه په اخلاص مي د هر چا كار كوى ،خو چي هرځاى به وم په كوركي به چي وم ،نو ټولو به دا راته ويل چي ته خو پېغله يې ولي دي پلار او مور نه وركوي په تا خو يې غاړي بنديږي تا خو بايد وركړي،ما به له ځان سره ويل چي زموږ څه حال دى په يوه ګوله ډوډۍ پسي حيران يو او دوى څه غواړي ،دوى به چي ماته دا خبري كولې نو زه به ډيره زهيرېدمه،خو موږ ډير مجبوره وو د هرچا خبري مي پرځان قبلولې كه به يې هر څومره ترخې خبري راته كولې ، ما به هيڅ هم نه ورته ويل چي تاسو نو زما له حاله څه خبرياست، خو د دوى خبري مي پرځان وړلې،مابه ويل چي دوى راڅخه خفه نسي، نو يوه ورځ د پخوا په شان د همسايګانو كورته ورغلمه،دروازه چي مي ور خلاصه كړه ،ګورم چي په دروازه كي د هغه كور سړى ولاړ دى،ماته يې وويل څومره وځنډېدي زه دڅه وخت راهيسي درته منتظر وم.

زه ډيره وېږېدمه او ورته و مي ويل چي له مخي مي ليري سه،خوده راته وويل ولي ليري سم،زه خو مرسته او همكاري درسره

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوم له دې هره ورځ کاليو پرېمينځلو څخه دي خلاصوم،ما دا ګمان وکی لکه چې ربښتيا هم مرسته راسره کوي،ذکات يا خيرات راکوي نوماته يې وويل چې راځه په ماپسي،زه هم ورپسې سومه د کور يوې خوني ته يې بوتلم چې هلته هيڅوک نه و، ،نو جيب ته يې لاس کی او لس زره افغانۍ يې را و ايستلې او راته وې ويل چې دومره زياتې پيسې همېشه درکوم،خو چې زما خبره ومنې.

ماورته وويل:

څه رقم خبره ده.

نو يې زما د عزت د غوښتلو طلب راڅخه وکی.کله چې يې دا راته وويل نو مي پر سترګو توره شپه سوه او و مي ژړل چې ولي داسي راسره کوې.ته نه شرمېږې چې ماته د دغه کار وايې،له خپلي ښځي او کوچنيانو څخه دي و شرمېږه،څلور زامن او دوې لوراني يې درلودی،که هغه خبرسول نو به بيا څه کوې.

خوهغه ظالم راته وويل:

چي هغه نوڅه خبريږي.

ماورته وويل:

چي دغه پيسې په خير او ذکات کي راکړه، ډيري دعاوي به درته کوم،خوهغه زما د دعا وو په کيسه کي نه وو،نفس او شيطان وربانديي زورکړی وو،ما ډيري زاری ورته وکړې چي ته زما عزت په دغه لسو زرو غواړې او زما ژوند را برباده وې،ته زما ژوند او راتلونکي ته نه ګورې،خوزما هيڅ خبره اثرنه وربانديي کوي،ما چي به خپلي بې وزلی او خپلي بې کسی ته او بيا به مي د ده ظالم دالس زرو افغانيوته وکتل،زه خو نو پيسو ته ډيره مجبوره ومه،نومي ورته وويل چي زه دې ته تياره يم چي خپل ټول ژوند راتلونکې او عزت پرتا د لسو زرو افغانيو په بدل کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



خرڅ کړم ،نو د هغه ساعت په اړه به څه درته وه وایم چي څنګه پر ما تیر سو ،نه یې زما معصومیت ته وکتله نه یې زما مجبوری ته وکتله،لکه وږي لیوه ته چي په لاس ورغلې وم ،هم هغسي یې زما عزت له خاورو سره خاوري کی او په اخیر کي یې راته وویل ګوره چي څوک در خبر نسي او هیچا ته و نه وایې.

ماورته وویل چاته به نه وایم خو الله (ج)ته به څه ځواب وایې،هغه خو در خبر سو ،دا خبري مي د ژړا په حالت کي ورته وکړي،خو دا ویلو هم پرده ظالم هیڅ اثر نه کوی،نو پیسې یې راکړې او ځني راغلمه کورته ،کورته چي راغلم،مورمي راته وویل ولي دومره وختي راغلې لوري،نن لکه چي د چا کره کارنه وو؟

نومي مورته مخکي له ځواب ور کولو دومره وژړل ،دومره مي وژړل چي همسایګان راباندي خبر سول ،زما ژړا چي مي مور ولیده هغې غریبې هم راسره وژړل ،دا خو په دې نه وه خبره چي ما خپل عزت د لسو زرو افغانیو په بدل کي خرڅ کړی دی،ماته یې و ویل:

څه وکړو له هري خوانه لاري راباندي بندي سوې،که هرڅوک هر څه درته و وایي ته به یې زغمې،ته خو زمالور یې ته باید لویه سینه ولرې،زه په تافخرکوم،چي ستا په شاني لور لرم،ایا بیا ګاونډیانو کوم پیغور درکړی دی؟

ماورته وویل:

چي یا مورکی ! ماته هیچاپیغور نه دی راکړی او نه زه د چا د پیغور په کیسه کي یمه،نن مي مورکي داسي یوکار کړی دی ،چي بیخي درته ویلای نسم ،ما نن د لسوزرو افغانیو په بدل کي خپل عزت،ژوند او راتلونکې پر یو وږي لیوه قربان کړه ،ما خپل عزت د خپلي بې وسی او غریبی له وجي قربان کړه،ما ستاسو نوم او ننبان ته نن په سپکه ستر ګه

(c) ketabton.com: The Digital Library

وكتل،زه نور د ژوند كولو حق نلرم،ما مړه كړئ موري،زما پلار له دې حاله مه خبروه كه خبر سو،زهره به يې و چوي،هغه خو دا پيغور نسي برداشت ولاى،دا خبره چي مي ورته وكړه نو بيامو په دواړو دومره په زوره وژړل چه له حده واوښته،مور خوبيخي مهربانه وي پر خپل اولاد يې يوه لحظه درد هم نه پيرزو كيږي،ماته يې وويل:

لوري په دې كي ته څه ملامته يې، دا خو ټول له مجبورى څخه تا كړي دي ،دا خو تا له بې كسى څخه دا كاركړى دى،تا خو د خپل هوس لپاره خپل عزت نه دى قربان كړى،كوم وخت چي ټولي لاري بندي سي او يوې خواته د چا مخ نه اوړي ،نوضرور به يو كار نه يو كار كوي،څوک چي مجبوره سي مړى كوي،غلاوي كوي،ته دي له پلاره څخه بيغمه اوسه،هغه زه پوهومه،موږ په تا فخر او افتخاركوو،چي تا زموږ لپاره خپل عزت قربان كړ،مور چي مي دا راته وويل نو يې بيا ژوند كولو ته اميدواره كړم او هغه نو يووړځ وه چي راباندي تيره سوه،الله(ج) دي زما پر دښمن هم داسي ورځ نه ورولي،په ژوندكي مي هغه تر ټولو ورځو ترخه ورځ وه، پلار مي هم زما له كاره خبر سو،هغه هم لكه زما مورچي راته ويلي وه راته وويل،نو تر ډيره وخته پوري به زه هغه ظالم ته ورتلم پيسې به مي څني اخيستلې او خپل عزت به مي باندي خرڅوى،ترڅو دا دى تردې ځايه را ورسېدلم ، ايا په دې كار كولو كي زما گناه سته؟

زه نه د ميني كولو لايقه يمه نه په زړه كي د چا د ميني د ساتلو، زه يوه فاحشه ، بدكاره او بد نصيبه يمه، اوس نو تاسي او خداى(ج) سره پرېږدم چي ايا زه په دې كار كولوكي ملامته يمه؟ په دغه ويلو سره يې په زوره زوره وژړل،كله چي ما او احمد د زرغونې دا ترخې خبري وا وريدلې نو موږهم ورسره په ژړا سولو ،دريو سره دومره وژړل

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي بيخي زيات ،وروسته له هغه نه ما په زړه کې وويل چي ولي به مي قسمت او تقدير داسي راسره کول ،ولي به مي مينه داسي کيده،نو له دې بې وفا او ظالمي دنياگۍ څخه ډير په تنګ سومه، چي کاشکي مړ واى دغه حالت خوبه نه راباندي راتلی او نه به مي دا حال ليداى ،خو هيڅ نه کيدل او د احمد په زړه نو نه وم خبر چي څه به يې په زړه کي وه او څه افسوز، ارمان او فرياد به يې کوی،پس له ډيره وخته ټول سره چپ وو،چي زرغونې بيا وژړله او وويل:

زه تاسو ته ډيره ملامته يمه، ما ستاسو سره ډير ظلم کړی دی، اوس که تاسي هره سزا را کوی زه يې د سر په سترګو منمه زه ستاسو ګنهګاره او مجريمه يمه ،خوکه زه په دا کار کولو کي ملامته يمه نو تاسي راته ويلای سئ،ماچي هر کار کړی دی مجبوري راباندي کړی . دمستۍ او د هوسه مي دا کار نه دی کړی.تاسي راته و واياست چي که زما پر ځای بل څوک وي داسي به وکړي که يا؟

احمد چي د زرغونې دا حال او د اوښکو ډکي سترګي وليدلې نو، ور ولاړ سو او په غيږ کي يې ټينګه ونيوله او ورته و يې ويل:

هر څوک داسي کوي لکه تا چي وکړل، مور وروسته له دې نه تا هيڅ نه ملامته وو او نه تاته کومه سزا در کوو ،خو يوه دا خبره درته کوم چي تا اول مور خبر کړي وای، چه زه د پيسو له پاره مينه کوم ،نو مور به ولي تا ته په زړه کي د ميني کور جوړ وئ، مور دي تباه کړلو په اوردي و سوځولو،د نورو د ميني کولو دي بې برخي کړلو او هيڅ وخت مودانه غوښتل چي له بل چاسره مينه وکړو،اوس چي دي تر دغه حاله را و رسولو چي دومره ډير غمونه، دردونه، تکليفونه ، خوارۍ مو تيري کړلې او تر دا اوسه په همدې هيله او ارمان يو چي کله به ستا سره د يو ځای کيدو انتظار ختم او خوبونه به مو په رښتيا بدل سي، که تا په اول

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي خبر کړي وای نو به دغه حالت ته هیڅ کله نه رسیدو، نه به غمونه وه نه به فکرونه او نه به له خپله تقدیره ګیله من وو،یوه اوږده ساه یې وکښله او چپ سو.

زه پوه سومه چي ډیر خفه سو، نو دلاسایي مي ور کوله او ور ته ومي ویل خبره خو اوس تر دغه ځایه راغلې هیڅ په درد نه خوري زرغونې خو ټول حال راته و وایه، کوریې ودان اوس چي یې هم په رښتیا خبر کړلو،زه له دې نه نوره هیڅ ګیله نه کوم ،هرڅومره خواری چي د دې له لاسه راباندي تیري سوي دي هغه ټولو ته یې نن ځواب ورکی ،په خپله خوله یې وویل چي د مجبوری څخه مي دا کار کوی ،هرڅه یې ومنل چي کړي مي دي ،کنې دا د اوس زمانې نجوني خو بیخي ځانو ته ملائیکي وایي چي موږ خو داسي یو... زرغونې خو په خپله خوله اقرار وکی او هرڅه یې و منل له دې وروسته به دواړه د اندېوالۍ او دوستی لاس ور کوو او که چیرې مو کومه مرسته په وسه ورسره پوره وه ورسره کوو به یې، زه او ته دلته هم باید ځانونه نیک بخته وګڼو چي ما او تا یې په شرسره اخته نکړو،نه یې ستا طرف کوی او نه یې زما،ایا ما چي کومي خبري درته وکړې صحي دي که ته کوم بل نظرلرې نو راته و یې وایه ؟

احمد راته وویل:

صحي ده زما هم دغه ستا نظر خوښ دی ،خو زما دغه نن شپه له زرغونې سره اخیري شپه ده زه وروسته له نن شپې څخه بیا نه ورسره وینمه او زما لخوا ور ته اجازه ده چي له هرچا سره واده کوي و دي یې کړې زه کار نه په لرم او هره همکاري هم ورسره کومه ، چي دا وایي زه هغسي ورسره کوم ،نور نوڅه ورسره وکړم؟

زرغونې وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

نور څه نه درښخه غواړم اوس هم خوشاله یمه چې تاسي زما سره همکاري کوی او زما ګناه مو را وبخښله دغه ماته هرڅه دي، ما خو تاسي له هرحاله ښخه خبر کړاست، خو چې تاسي په ما نور څوک خبر نه کی،په حقیقت کي څومره بده خبره ده چې بیا ټول ښار بد راپسي وایي او هر چیرې به مي سترګي ټیټي وي او یوه ځای ته به هم نه سم تللای او هر څوک به نفرت راښخه کوي.

ما ورته وویل:

هیڅوک خپله مینه نه بدنامه وي او نه چا خپله مینه توهین کړې ده او اوس خو مورږ ستا ملګري یو،که ښه مو در و نه رسیږي بد خو مو بیخي نه در رسیږي.

احمد هم ورته وویل:

خپله مینه هیچا نه ده بدنامه کړې ته بې غمه اوسه چې له دې رازه به هیڅوک خبر نه سي او نه مورږ څوک له دې رازه خبروو،که کوم څوک له مورږ ښخه خبر سي دا هم زمورږ بدنامي ده ستا بدنامي نه ده .

زرغونې وویل:

کور مو ودان زما سره مو ډیر ښه کړي،زه ستاسو ښه هیڅکله نه سم هیرولای ،ما ته خو مو هرڅه راکړي دي ،تاسوته دي خدای (ج) درکړي، اوس نو زه ځمه تاسو دواړو ته چای پخوم.

مورږ هم اجازه ورکړه او دا ولاړه په چایو پسي زه او احمد پاته سولو،احمد یوه سړه ساه و ایسته ،ما پوښتنه ځني وکړه چې بیا دي کوم څه په زړه سول؟

احمد وویل:

چې هیڅ هم نه دي راپه زړه سوي،خو دا ښه و سول چې د زرغونې له رازه خبر سولو ،یو متل دی چې په دریو شیانو باندي هر وخت

(c) ketabton.com: The Digital Library

جنګ کيږي،لکه پيسې، مځکه او ښځه ،که تا زه نه وای خبر کړی له دوستۍ به مو دوښمني سوې وای ،زه ستا ښه په هيڅ ډول نه سم ادا کولای.

ما ورته وويل:

چې رښتيا هم داسي خو ده زه بيا له تا نه ډير خوشاله يم ،که تا ما ته خپله کيسه نه وای کړې نو زه به د زرغونې د کارو څخه نه خبريدم، تا زه دې ته مجبوره کړمه چي په زرغونې پسي پوښتــنــي وکړم او زه او ته دواړه نيک بخته يو چي دوښمني مو په دوستۍ بدله سوه .

احمد وويل:

دا راته و وايه چي ته له نن شپې څخه وروسته څه ورسر ه کوې، پرېږدې يې؟ ورته راځې؟ مينه ورسره کوې؟ نه يې ورسره کوې؟ څه کوې؟

ما ورته وويل:

پاکه مينه خو له نن شپې نه ختمه سوه او نه به د ميني په سترګه بيا ورته ګورم، دوستي ورسره کوم که کوم وخت رايادە سوه ورته راځمه او پوښتنه به باندي کوم يوازي يې نو چيري پرېږدم ، خو ته دا راته و وايه خپلو اندېوالانو ته څه وايې هغه خو هم ورته خواشيني دي هغه به څنګه راضي کړې،چي مازرغونه پرې ښوده؟

احمد وويل:

هغوی ته مي  پلان جوړ کړی دی، چي ته او زه او هم د زرغونې د خاله زوی ټوله هلته سره يوځای وو، نو مو زرغونې ته وويل چه په موږ کي کوم يو ستا خوښ دی او له چا سره واده کوې؟

(c) ketabton.com: The Digital Library

نو زرغونې خپل د خاله زوی انتخاب کئ او د خاله زوی یې
ماته خپلې ټولې پیسې راکړې کومې چې ماورکړې وې، د خاله زوی یې
ډیر ښایسته ، تعلیم یافته او پیسه داره ځوان وو،موږ دواړه هم په هغه
خوشاله وو او زرغونه مو په خوشالۍ ور وبخښله،ځکه تر موږ ډیره مینه
هغه له زرغونې سره کوله او زرغونې هم له موږ نه زیاته مینه د خاله د
زوی سره کوله، که مې انډیوالانو نه راسره منل نو به بیا تا ور ښیم چې له
تا پوښتنه وکړي او ته به هم همداسې ورته و وایې لکه ما چې ورته ویلې
وي.

ما ورته وویل:

اوس د درواغو شاهیدي هم راباندي وایې.

احمد راته وویل:

چې څنګه یې کوې په جنګ او مینه کې هر څه جایز
دي،خیر دی زما لپاره دا یوه ناحقه شاهیدي هم و وایه، ځکه که هغوی
خبر سول چې داسې کیسه ده او دوی پریښودل نو د ټول عمرلپاره به
راڅخه خوابدي سي او بیا به راباندي خاندي او پیغور به راکوي چې ده
خو هم مینه کول.

ما ورته وویل:

بیغمه اوسه ما له تا سره مسخرې کولې،دا خو ډیر اسانه کار
دی که هر څومره سخت کار وي زه یې درته کومه ،ته له هر څه نه بېغمه
اوسه زه هر څه درته سموم زه او ته خو دوستان سولو راځه چې دا
دوستي په وروګلوي بدله کړو دا دی د وروګلوی لاس مې درته
نیولی،غواړم چې زه ستا او ته زما ورور سې؟ احمد هم د وروګلوی لاس
راکی ،موږ خپل لاسونه لا نه وه سره ایله کړي، چې زرغونه له چایو سره
راغله او و یې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما په نظر لکه چي د لاسونو زور سره معلوموی؟

مونږ ورته وویل:

چي یا د لاسونو زور نه معلومو بلکې د ورور ګلوی لاسونه مو سره ورکړل.

زرغونې وویل:

دا خو ډیرښه کار و سو،زه هم دربانديي خوشاله سوم ،د دې خوشالی په زیري کې به چاي درکړم.

احمدورته وویل:

په چایو غاړه راباسې.

ماورته وویل:

د زرغونې خو جلا چای وي ،هر څوک خو داسي چای نسي پخوالی، وروسته زرغونې موږ ته چای رواچولې او راته و یې ویل:

تاسي دواړه دي د همېشه لپاره خوشاله و اوسی ،خو زه له تاسو نه دا پوښتنه کوم، څنګه سره یو ځای سواست او څنګه دلته راغلاست دا عجبه نه ده ؟

ماورته وویل:

چي دا خو ستا د میني زور وو ،چي موږ یې سره یوځای کړو او تر تا پوري یې دلته را وستو او دښمني یې په ورورګلوی را بدله کړه،ستا دي کور ودان وي ، موږ دي له دښمني څخه و ژغورلو.

احمد هم ورته وویل:

چي رښتیا هم ما خو پرتا سر ایښی وو ،ما به دا ویل چي که زرغونه زما څخه پرته له بل هر چا سره واده وکړي زه به هغه وژنم ،که بندي کېږم ، که اعدامېږم او که له وطنه ورکېږم ،خو د ځان پروا مي نه کول ځکه چي هیله مي درلودله چي ته فقط اوفقط زما سې پر بل چا مي

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه پیرزو کېدي،خو هغه خوبونه مي رښتیا نه سول چي درته لیدلي مي وه،خیر هر څه په اوبو لاهو سول، اوس یو څه رانږدې سه چي زړه مي درباندي تکیه سي ،ځکه نن مي اخیري شپه ده درسره ،بیا نه راځمه او نه بیا درسره وینم .

زرغونې ورته وویل:

چي داسي به نه راسره کوې، ما به یواځي هیڅکله هم نه پرېږدې، که په هفته کي نسې راتلای نو په میاشت کي خو یوه شپه حتماً راځه .

احمد ورته وویل:

فکر نه کوم چي بیا به درته راسم،نو یې د یو څو دقیقو لپاره زرغونه په غیږ کي ټینګه ونیول.

وروسته یې ورته وویل:

که وروسته له دې نه مړ هم سم هیڅ پروا نه کوي ، شکر خدایه(ج)چي خپله مینه مي په خپله سینه کي تر اوسه کلکه ساتلې وه او له دې نه وروسته به یې هم په خپله سینه کي ساتم.

وروسته یې زرغونې ته وویل:

ماته ځای را واچوه زه بیدېږم خوب راځي، تاسي پوه سه او کار مو.

زرغونې هم ځای ور وا چوی او احمد بیده سو ، زه او زرغونه پاته سولو.

ما په مسخره سره ورته وویل:

ماته خوب راغی ماته هم ځای را واچوه.

زرغونې و خندل او و یې ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

احمد ته خو خوب ورتلی چي بيده سو،ته خو بيخي نسې راڅخه بیدېدلای.

ما ورته وويل:

خوب راغی له خوب سره خو نه کیږي څه ورسره وکړم،ځای را واچوه په ځای کي به خبري سره کوو.

زرغونې هم ماته ځای واچوی، زه په ځای کي پرېوتلم او زرغونه مي له څنګ سره کښېنسته.

ما ورته وويل:

چي ته هم دلته پرېوزه .

زرغونې وويل:

که درسره پرېوتلم خو ب به راسي، زه دي له څنګه سره کښېنم او خبري درسره کوم.

ماورته وويل:

ښه نو يو کيسه راته وکړه زه به درته غوږ سم.

زرغونې راته وويل:

احمد خو بيا نه راځي ،ته خوبه حتماً راځې ما به يواځي نه پريږدې ،په هفته کي يا په مياشت کي خو بايد راسې.

ما ورته وويل:

زه دي يواځي هيڅکله نه پرېږدم ،خامخا پوښتنه درباندي کوم ته بې غمه اوسه،تر سهاره پوري ښه خوږ باندار وکړی، شپه مو په خبرو باندي تيره کړه سهار لمر لانه وو را ختلی، چي احمد هم راکښېنستی او و يې ويل:

تر اوسه نه یاست بیده سوي؟

ما ورته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

داغه دی چې همدا اوس راکښېنستو.

احمد راته وویل:

ما خطا باسې، ستاسو خوښه ده ،زرغونې ته یې وویل:

زه نو درځخه ځمه ما ته اجازه راکړه.

زرغونې ورته وویل:

چای خو وڅښه بیا ولاړ سه.

احمد بهانه ورته وکړه ،چې نن مې له انډیوالانوسره وعده کړې ده ،چې چای به په دوکان کې یو ځای سره څښو،په همدې خاطر ځمه کنې ستا چای خو په میلون ارزي ،نو همدا یې ورته وویل او ولاړی.

زرغونې ما ته وویل:

زه ځمه چای تیاروم خو چې ته ولاړ نه سې..

ما هم ورته وویل:

چې زه نه ځمه چای درسره څښمه بیا که تلم نو به ولاړ سم،خو ستا بې اجازې هیڅکله هم نه ځمه،چې ته خوشاله .

زرغونه وویل:

خوشاله یم چې پاته سې،زه ځمه دستي چای راوړم،نو زرغونه ولاړه په چایو پسې، مور او پلار یې راغلل او زما څخه یې د احمد پوښتنه وکړه، چې احمدڅه سو خوابدی سو چې تللی دی؟

ماورته وویل:

چې یا خوابدی نه وو خوشاله وو،زرغونې مور ته ټوله کیسه وکړه او له هر څه یې خبر کړو، ما چې دا کیسه نظر جان اکا اوښځې ته یې وکړه دواړه شرمنده سول او هیڅ برغ یې نه وکړی او نه یې بله پوښتنه کړې ده. ما نظرجان اکا ته وویل:

چې تاسې دومره مجبوره واست نو به مو مور پخوا لا خبرولو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

**نظرجان اکا وویل:**

**دا کار زرغونې نه راسره خوښوی ،چې موږ تاسو ته کیسه و کړو او له هر څه مو خبر کړو،موږ ته به چې زرغونې هرڅه وویله موږ به هماغسي کول او موږ ته به یې ویل چې زه یې بیا خپله خبروم ،تاسي یې له خبرولو خلاص یاست،هر مسئولیت یې زما په غاړه ،هرڅه که پیښ سول زه یې بیا مسئوله یم،نو موږ په همدې خاطر تاسو ته څه نه ویل ،که نه ما په څو واري ورته ویلي دي چې که دوی خبر سي،سبا به لوی فساد ځني جوړ سي ،خو زرغونې به ویله فساد به ماته جوړوي تاسو ته نه، نو موږ به هم زرغونه خپل کار ته پرېښووده، تر څو خپله زرغونې درته په خپله خوله کیسه وکړه او خدای(ج) دي وکړي چې زما څخه خفه نسئ،اوس خو داسي وخت راغلی دی چې پیسې و نه لرې هیڅوک دي نه پېژني نه یوه ګوله ډوډۍ څوک در کوي، موږ نه خپلوان لرو نه قریبان او نه هم د کومک کولو لپاره کوم داسي څوک چې زموږ پر بې وسی او مجبوری باندي یې زړه وسوځي او مرسته راسره و کړي ،ما چې په خپلو لاسو د ماښام ډوډۍ پیدا کولای سوای،ما به هیڅ کله هم زرغونې ته دا اجازه نه وای ور کړې،ځکه د هیچا ضمیر دا نسي منلای چې په داسي کار دي د چا له ژوندسره لوبي وکړي او خپله ګېډه دي ځني واخلي او بیا یې پر سپیره ډاګ پریږدي ،نو چې مجبوره نه وای هیڅکله هم داسي نه پېښیده، هیڅ نه کیده یوې خواته مومخ نه ګرځیدی، کاشکي مو یو زوی درلودای چې یوه ګوله ډوډۍ یې را پیدا کولای،نظر جان اکا وار په وار جدي کیدی او غوښتل یې چې له خپلې بې وسی څخه نور هم څه و وایي،نو زه یې په خبرو کي ور ولوېدمه ماورته وویل:**

**چې یا نظرجان اکا داسي نه ده دا هر څه تاسو له مجبوری څخه کړي دي،ته خوا مه بدوه مه چورت وهه هر څه به اسانه سي، نو مي**

(c) ketabton.com: The Digital Library

نظرجان اکا راضي کی چه غم مه کوه خدای(ج) خو مهربانه دی ناره به مو واوري،مور! په همدې خبرو اخته وو چې زرغونې چای راوړلې، چای مې له دوی سره و څښلې او ځني رخصت سوم ،خپل کور ته راغلم تر يوه ساعته کور وم وروسته را و وتلم بازار ته، په لاره کې د زرغونې دا بې وسي او مجبوري را یاده سوه،په چورتو کې غرق سومه، چې څومره بې وسي او غریبي وربانديې راغلې ده څومره د غربت شپې وربانديې سبا سوي دي،زړه مې په کباب کباب سو او د دې هغه معصومیت هم را یاد سو چې هغه ظالم ته یې څومره زاری کړي وې،خو هغه یې خبري نه وې اوریدلي،افسوس افسوس مي له خولې و وتی چې خدایه(ج) کاشکې دې د دې دنیا ټوله ظالمان پر دې دنیا لا په اورسوځولي وای،کاشکې ټولو انسانانو مهربانه او د شفقت څخه ډک زړونه درلودلای،کاشکې هريو يو له بله قربانيدلای،کاشکې دي خدايه(ج) شيطان لعين پردنيا نه وای پيداکړی، ولي به دومره ظلم او ستم له چاسره کېدلای،خوله ځان سره مي وويل چي خدای تعالیٰ(ج) په خپلو کارو ښه پوهیږي،له بازاره مي دکور سودا راوړه کورته ،په کورکي بیا د زرغونې مینه اود دې بې وسي رایاده سوه ،نومي پرځان درودونه چوپ کړل چي خدايه(ج)نورله هغې څخه صبر راکړه.په دې کي درې ورځې و وتلې چي ما احمد نه وو ليدلی غوښتل مي چي ورسره ووينم ،نو دوکان ته یې ورغلمه ، احمد چي زه وليدمه نو ډير خوشاله سو ،ستړې مسې مو سره وکړه ، په دوکان کي يې چای تياري پرتې وې چای مي هم ورسره وڅښلې او د زرغونې بحث مي ورته را واخستی چي څنګه اوس دي په يادو کي درګرځي که دي هيره کړه؟

احمد راته وويل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

زما همیشه یوه خبره ده ،په هغه شپه مي درته وویل چي بیا یې هیڅ نه یادوم، له هغې شپې راهیسته مي بیا د هغې نوم هم پر خوله نه دی اخیستی ،ښه اوس یې ته مه رایادوه.

بیا یې وویل:

نوې واوره.

ما ورته وویل:

لکه چي نوی زیری دی ژر یې راته و وایه.

احمدراته وویل:

رښتیا هم چي نوی زیری دی،ما ته خو زما کورنۍ زما د کوزدې له پاره ځای پیداکړی دی ، ټول کار خلاص سوی هم دی سبا ته انشاالله زما ستن او تار راوړي او ته دي اوس لا خبر یې چي سبا شپې ته د ملګرو سره ورسې ګوره چي پاته نه سې، زما په خوشالۍ کي باید ته هم ګډون وکړې.

ما ورته وویل:

چي دا خو بیخي ډیر ښه کار سوی دی خدای(ج) دي سره و رسوي، زه ستاسو کورته حتماً درځمه ،که تا راته ویلي هم نه وای زه درتلم.

احمد راته وویل:

چي که که ښه کار دی، نو ته هم دغه ښه کاروکړه .

ما ورته وویل:

رښتیا وایي، وبه یې کړم خو زما څخه تا وار له مخه کی،خیر خدای(ج) مهربانه دی، نو مي په دوکان کي مبارکي ورکړه،چي اوس دي لا درمبارک وي.

احمد راته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

کور دي ودان خدای دي (ج) ستا بخت هم خلاص کړي،خدای(ج) دي ستا په زړه یو ښه ځای په نصیب کړه.

ماورته وویل:

رښتیا هم چي د نصیب خبري دي،خوپه دې کي موګـټه سوه چي زرغونه مو په نصیب نه سوه.

احمد راته وویل:

رښتیا هم کوم څوک چي مي دځان لپاره خپل نصیب ګڼلی وو هغه مي نصیب نسو او په خیر راته تمام سو،خیر پخواني یادونه به هیرو‌و.

ما ورته وویل:

داهم د الله(ج)یو احسان وو پر ما او تا چي له زرغونې څخه یې و ساتلو، ته اوس دا راته و وایه څه شي ته ضرورت سته،چي زه یې سره برابر کړم.

احمد راته وویل:

هیڅ شي ته ضرورت نسته هر څه برابر دي ،بس چي ته راسې دا راته هر څه دي.

ما هم هغه ته وعده ورکړه چي خامخا درځم ، وروسته تر هغه مي د احمد څخه رخصت واخستی او له دوکانه یې را و وتلم،سیده راغلم د یو ګل فروش دوکان ته،یوه دانه ښایسته د غاړي ګل مي د احمد د کوزدې د مبارکی لپاره او هم یوه کڅوړه چاکلیټ واخیستل او کورته مي له ځان سره رواړل ،نو په دا سبا ماځیګر ورغلمه د احمد کور ته،هلته مي احمد ولیدی د دوهم ځل لپاره مي بیا مبارکي ورکړه او ګل مي هم په غاړه کي ور واچوی، چاکلیټ مي ورباندي وپاشل،بیا مي ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

له خدایه(ج) همیشه خوشاله ژوند در ته غواړم.

احمد هم مننه راڅخه وکړه،په رښتیا هم چې ډېره ښه میله یې جوړه کړې وه ښه ډولونه او د ښایسته ځوانانو اتڼونه ول ،ښه ډوډۍ یې هم ټولو میلمنو ته ورکړه ،د ډوډۍ ورکولو پر وخت ما غوښتل چې مرسته ورسره وکړم،خو احمد پرې نه ښودم او ویل یې چې د مرستې خلک ډېر دي ،نو ما هم دومره ډېره ډوډۍ و خوړله چې توبه ، وروسته له ډوډۍ هم میله تازه وه،ډېر سات مې تیر سو او د شپې ناوخته و چې له احمد څخه مې د تللو رخصت واخستی.

احمد راته وویل:

خدای(ج) دې ستا د کوزدې شپه هم راباندې و وینې، چې هرڅومره ژرکیږې ته هم بایدکوزده وکړې ،د راتګه دې مننه،ډېر خوشاله سوم چې راغلې .

ما ورته وویل:

چې یار هغه وې چې په ښه ورځ درسره خوشاله او په بده ورځ درسره غمګین وې، ته خو زما ورور یې ولې به نه درته راتلمه،نو کور ته راغلمه تر څلورو ورځو مې بیا حال نه وو باندې،یوه ورځ بیا بازار ته ولاړم د احمد دوکان ته هم ور وګرځېدم هلته مې له احمد څخه د کوزدې په باره کې پوښتنه وکړه چې څه حال دې دی.خوشاله یې ؟

احمد راته وویل:

ډېر خوشاله یم او ډیرښه احساسوم ،له خدایه(ج) راضي یم خدای(ج) دې هر ځوان ته داسې ژوند ور په نصیب کړې،تر اوسه مې واده نه دی کړی دومره خوشالي احساسوم چې په کالو کې نه ځایږم، ښه ته دا راته و وایه ته ولې کوزده نه کوې ؟

ما ورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

دا خو د نصیب کار دی ،خدای(ج) خو مهربانه دی زما نصیب به هم له کوزدې سره و سي،یاره هرڅه په نصیب پوري اړه لري.

احمد راته وویل :

خدای(ج) خو بیشکه چې مهربانه دی خو که ته هم یو څه کوښښ وکړې،خدای(ج) خپلوبنده ګانوته وایې تاسو حرکت کوی زه به برکت کوم مګر د خیر پر لاره ،حرکت کول پر موږ دي او برکت د خدای(ج)له طرفه دی.

ما ورته وویل:

زه به هم له نن نه وروسته کوښــښ کوم ،دا یې زما ستا سره وعده.

احمد وویل:

وو نو چې کوښـښ وکړې او هېر یې نکړې.ما هم اطمینان ورکی چې ستا هره خبره منمه ، د احمد له دوکانه راغلمه کور ته، کور مي مور پوښتنه راڅخه وکړه چي ولي دومره ناوخته راغلې چیري تللی وې؟

ما ورته وویل:

یو انډیوال مي کوزده کړې وه د هغه د مبارکی لپاره ورغلی وم پوښتنه مي پر کول .

نو مور مي راته وویل:

زویه ستا هم د کوزدې کولو وخت دی،پلار دي هم راته ویلي وه چي ته له ده سره مشوره وکړه ،کچیري یې خپله یو ځای خوښ کړی وي نو به په مرکه ور سو او که دي خپله ځای نه وي خوښ کړی بیا به یې موږ درته و ګورو،نو زویه که دي خپل د خوښي ځای وي او غواړې یې نو موږ ته و وایه،چي سره وې رسوو .

(c) ketabton.com: The Digital Library

ما هم له ځان سره ویل:

چي نور نو بس ده ،تر څو پوري به د لیونو په شاني ګرځې،اوس دي لا د ځواني وخت دی،نو یو فارسي بیت رایاد سو هغه چي وایي:

لذت زندگی یازن بـود یا دنـدان
اگراین دونبوددنیـا سـرت زنـدان

له خپلي مور څخه ډیر خوشاله سوم چي ماته یې دا وویل چي که تا خپله یو ځای انتخاب کړی وي نو راته و وایه.بعضي پلرونه او مورګاني ظالمان سته چي د چا خوښي ته نه ګوري او نه پوښتنه ځني کوي.چي ستا یو ځای خوښ دی نه دی.بس په خپله یې ور غواړي که خوشاله وو که نه وو.بیا سر نه پسي ګرځوي.د دې غم یې وي چي فقط واده ورته وکړي او د دوی غاړي خلاصي سي نور یې د دې پروا نه وي ور سره چي په راتلونکي کي به مو اولاد خوشاله وي یا نه وي.دا خو هري مور ته په کار ده چي د خپل اولاد د ټول ژوند خوشالۍ په نظر کي و نیسي ځکه دا خو د ټول عمر کاروي.تلوار پکښي ضرور نه دی او نه د تلواري کاردی.

نو مي خپلي مور ته وویل:

صحي ده ما ته تر ماښامه وخت راکړه ماښام تاسو ته خبر درکوم .

مور مي هم راته وویل:

چي ماښام حتماً راته و وایه.

ماښام چي له ځان سره هر ځای خوښ کړم بیا خوند نه راکوي ،په زړه کي مي یو رقم وام پیداسي او وایم کیدای سي چي د زرغونې په شان دا هم هغسي وي ،هکي حیران پاته ومه چي څوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



انتخاب کړم،تر څو چي خپله د خاله لور مي خوښه کړه ځکه د هغې خوی او کردار او هرڅه راته معلوم وه، هغه مي ځان ته انتخاب کړه ،چي مور ته به وایم چي فرزانه مي خوښه ده ، ځکه چي هر څوک باید د خوښي ځای و کړي،په دې خاطر چي بیا نه بدلیږي نه خرڅیږی او نه چا ته ورکول کیږي، د ټول عمر کار وي ،که ور سره خوشاله وې،نو دنیا درته جنت سوه او که ورسره خپه یا پرېشانه وې نو دنیا درباندي دوږخ سوه،ماښام مي مور بیا پوښتنه راڅخه وکړه چي کوم ځای دي انتخاب کی؟

ما ورته وویل:

ستا خورزه مي انتخاب کړه .

ماچي کله فرزانه ور وښوده نو مور مي د ډیري خوشالی څخه راته وویل:

فرزانه ښیې، دا خو بیخي ښه کار و سو ته نور بېغمه اوسه سهار زه خپله ورځمه دا خو بیخي رسېدلی کار و بوله .

ما نو دوی پرېښودل او کاریې ،سهار مي مور او پلار دواړه په مرکه زما د خاله کور ته ورغلل ، هغوی هم څه نه دي پکښي ویلي ورسره هوکړې یې وه ،نو یې زما ستن او تار ځني راوړل،زه کور ومه په خونه کي هلته خوني ته مي مور او پلار دواړه راغلل او مبارکي یې راکړه ،کله چي دوی مبارکي راکول نو زما ټول بدن په خولو لوند خیشت سو،یو قسم ته ناولده حال راباندي راغللی چي بیخي سې زه احساس بیخي بیانه ولای نه سم اوترتا ثر لاندي هم راغلم ،مور مي راته ویل:

زویه ډیر نیک بخته یې چي داسي ژر دي نصیب خلاص سو.

ما له خپل ځان سره وویل :

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي ستاسو په فکر زه نیک بخته یم خو له ما نه به بل بد بخته نه وي ،کاشکي مي د زرغونې پاکه مینه همداسي په نصیب سوې واۍ،نو به زه هغه وخت نیک بخته وم ،دوی ته نو څه معلوم وه چي زما په زړه کي کوم ارمان وو مځکي لا هم د خاوروسره خاوري سو، نور بحث مي ورسره و نه کی،له کوره را و وتلمه ،راغلم سیده د احمد دوکان ته ،هغه مي خبر کی چي زما نصیب هم خلاص سو ستا دعا قبوله سوه.

کله چي مي احمد ته دا وویل هغه دستي یوه خلطه چاکلیټ راباندي وپاشل مبارکي یې راکړه او بې حده ډیر خوشاله سو،بیا مي د ماښام د راتللو بلنه ورکړه چي د ملګرو سره راسه.

احمدراته وویل:

بیخي درځمه .

نو له احمده څخه راغلمه د زرغونې کور ته، زرغونه مي هم خبره کړه او د ماښام لپاره مي بلنه ورکړه .هغه هم ډیره خوشاله سوه او راته و یې ویل:

ښه سو چي ستا سو نصیبونه خلاص سول، احمد نا ځوانه خو خبره کړې لا نه یم .

ما ورته وویل:

چي وو دا خو ستا برکت وو که تا موږ ته ټول حال نه و ویلی،نو تر او سه به نه زما او نه هم د احمد نصیب خلاص سوی وای،ستا په امید به دواړه ناست وو.

زرغونې وویل:

رښتیاهم دا ټول ظلم پر تاسو ما کړی دی ،کاشکي مي هغه وخت خبر کړي واست.

ماورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

چي پخواني یادونه پسي پرېږده،اوس يې مه را یاده وه،ماښام له خیره ته او مور دي راشی .

زرغونې وویل:

چي که درغلو ستا مور به څه وايي چي دا ناولده څوک دي او چا راغوښتي دي .

ما ورته وویل:

زما مور ستاغوندي شکي نه ده چي پر چا شک و کړي، چي هر څومره ډیری ښځې وي هغه خوشالیږي او نه د چا پوښتنه کوي چي چا خبره کړې يې . زرغونې نه غوښتله چي راسي ،خو ما ډیره مجبور کړه چي که رانغلې بیا زه هم نه درته راځم،مور دي هم راوله او ته هم راسه چي سات دي تیر سي، نو يې را سره و منله چي حتماً درځم، د زرغونې له کوره راغلم کورته،کور مي هم ټول خپلوان راغلي وه او ټولو مبارکي راکړه او د ماښام د ډوډۍ او میلې تصمیم مي و نیوی،ماښام ته ټول میلمانه راغلل احمد هم د ملګرو سره راغلی وو ، زه له ټولو سره مصروف وم او هغه ملګرو کوم چي مبارکي نه وه راکړې هغو هم مبارکي راکول،د ډوډۍ وخت شروع سو او د ټولو میلمانو ښه عزت و سو،لنډه دا چي تر یوولسو بجو پوري میله تازه وه، وروسته تر هغه احمد د تللو اجازه راڅخه و غوښته،چي ما ته اجازه راکه چي ولاړ سو. ما ورته وویل دلته بیده سه اوس ډیر ناوخته دی سهار به ولاړسې.

احمد راته وویل:

ناوخته نه دی چي کورته ولاړسو ښه به وي ،ما هم اجازه ورکړه او دوی ولاړل، پاته میلمانه چي و هغه هم ولاړل،زه نو تر

(c) ketabton.com: The Digital Library

دوولسوبجو پوري يواځي ومه،بيا يې کور ته ور و غوښتمه چي راسه، کور ته ورغلمه ګوته يې را سره کړه او اجازه يې راکړه چي اوس خلاص يې او هر ځای چي دي زړه غواړي تللای سي .زه هم ډيرسټړي سوی وم نو د خوب لپاره مي ځای برابر کئ او بيده سوم. سهار ناوخته وو چي مور مي راکښېنولم او راته وويل:

په دغه شپه زوم ته له خوشالۍ خوب نه ورځي او ته تر دغه وخته بيده يې .

ما ورته وويل:

په زومانو کي خو فرق وي.

بيايې پوښتنه راڅخه وکړه ډير خوشاله معلومېږې په رښتيا هم خوشاله يې ؟

ماورته وويل:

ولي به نه يم خوشاله، ستا خورزه مي په نصيب سوه.دا د خوشالۍ ځای نه دی.

بيايې راته وويل:

مازي ما خوشاله کوې خير اوس کښېنه چای مي درته تياري کړي.

ما ورته وويل:

موري ستا له حقه به څه کوم،زه هم راکښېنستمه چای مي په کور کي و څښلې او د احمد پرخوا ور روان سوم ،احمد نو دومره پر راګران سو چي زه به کوم وخت خلاص سوم نو حتماً به مي له احمد سره ليدل،هغه يو زړه شريکه د ښه خوی او ښه کردار خاوند وو،بيخي مي مينه ورسره پيدا سوه ،دوکان ته يې ورغلمه دی هم په دوکان کي

(c) ketabton.com: The Digital Library

وو،ستړې مسې مو سره وکړه او بیا یې مبارکي راکړه ،ما هم مننه ځني وکړه، بیا یې راته وویل:

انډیوالان مي غواړي چي مزاري شریفي ته سفر وکړو د ګلي سرخ د میلې له پاره،ما هم ورسره و منله چي ستا سو کار او ستاسو خوښه ده هر چیري چي ځی زه در ته اماده یم،نو سبا له خیره سره ځو، ته هم راسره ولاړ سه کچیري وخت لرې ښه سات به مو تیر سي.

ماور ته وویل:

دا واري خو نسم درسره تللای،په دې خاطر چي ډیر کارونه لرم دا ځل مي تاسي معاف کړی بل وار ته که هرځای تللاست حتماً درسره ځم.

احمدراته وویل:

کومه خبره نه ده صحي ده چي خلاص نه یې ،نو موږ هم نور نه در ته ټینګیږو.

نو مي له احمد او انډیوالانو سره د خدای پاماني وکړه ،چي تاسو ته ښه سفر غواړم په خیر ولاړ سی، خو هلته به ډیري دعاوي راته کوی،له دوی څخه را رخصت سوم.

احمد او ملګري یې په دا سهار روان سول د مزاري شریف پر لور ، پوره اته ورځي ووتلې چي ما په دوی هیڅ حال او احوال نه درلودی او نه په خبروم چي څنګه به وي، په دا لسمه ورځ لس بجې به وې کور ناست وم، چي دروازه ډیر په تلوار وټکېده، زه ور ولاړ سوم چي خدایه(ج) خیر،دروازې ته چي ورغلم ګورم چي احمد دی،ډیر وارخطا وو او د مخ رنګ یې تغیر کړی وو ، ستړې مسې مي ورسره وکړه چي خیر خوبه وي ولي داسي وارخطا یې؟ څه کیسه ده څه پیښ سوې ده ؟

احمد راته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

غټه پېښه سوې ده ته راځه په هر څه به خبر سې .
ما ورته وويل:
اوس مي په خبر کړه .
احمد راته وويل:
سمع الله په حق رسيدلی دی .
زه ډير وارخطا سوم چي ولي او څنگه ؟
احمد وويل:
اوس يې د ويلو وخت نه دی، وروسته دي له هر څه خبروم،اوس يې بايد د فن(پټ)کړو او د پټيدو غم يې و خورو.

زه هم ورسره روان سوم او راغلم د احمد د کلي مسجد ته، که گورم چي سمع الله پر چار پايي باندي پروت دی،سپينه روجايي باندي هواره ده، روجايي مي د سمع الله د مخه ايسته کړه ،داسي تک ژړ سوی و لکه نارنج، ډيره خوا مي باندې بده سوه غوښتل مي چي په زوره و ژاړم،خو همت مي له لاسه ور نه کی ځان مي ټينگ کی،د سمع الله په چورتو کي ورک ومه، چي د مسجد امام(ملا) يو سپين ږيری امام وو،زما پر اوږه يې لاس کښېښوی او راته و يې ويل:

ځوانه !چي خدای(ج) په تقدير کي څه ليکلي وي هغه به کيږي ،هيڅ څوک يې په اراده کي تغير نسي را وستلای او نه يې څوک په کار کي مداخله کولای سي،غم مه کوه د غم پرځای دعا ورته وکړه،درودونه باندي و وايه او د ده اروا ته يې ور وبخښه ،هم به خدای(ج) درنه خوشاله وي هم د خدای رسول(ص) ،مرگ خو حق دی هيڅوک ژوندي نه پاته کيږي، د اسلام ستر پغمبر(ص) وايي،په تاسو کي دا دوه کارونه د کافرانو دي، يو په يو قوم پسي بد ويل او بل په مړي پسي ژړل،غمونه پرېږده راځی چي د مړي د غسل کار برابر کړو، زه هم د

(c) ketabton.com: The Digital Library

مسجد د ملا خبرو متاثره کړم را ولاړ سوم ،چي رښتیا هم مرگ خو حق دی، سمع الله مو په څلورو نفرو را واخستی غسل خانې ته ، دمسجد ملا غسل ورکړ او په کفن کي يې و پېچی او د سمع الله جنازه مو له مسجده راوړه هديرې ته،په هديره کي مو لمونځ ورکړ او خاورو ته مو و سپاری،وروسته بيا ما احمد او ملگري يې راوستل خپل کورته،کورته چي راغلو پوره شپږ بجې وې ، دوی ډير ستړي او غمو ځپلي وه ،لومړی بيده سول، تر څو ساعتو خوب وروسته بيا راکښېنستل، بيا مي له احمده پوښتنه وکړه ،چي اوس خو کيسه راته وکړه څنگه په حق ورسيدی؟

احمد غريب راته وويل:

کله چي مو له دې ځايه حرکت وکی ،ترهغه ځايه مو ډير سات تير وو او ډير خوشاله وو ښه منظرې،ښاسته ځايونه او تاريخي ابدات مو تر هغه ځايه ليدل،هلته نو دومره انسانان راغلي وه چي بيخي ځای نه وو،د سخي صاحب(ع) او هم د نورو ښه شخصيتونو زيارت مو هم وکړ، بيخي ډير سات مو تير سو،کله چي مو بيرته د کور پر خوا حرکت را وکی، تر سالنگه په ښه خوشالي را و رسيد و،تر دريو تونلونو لا را تير سوو،هلته هوا ډيره سړه وه واوره اوريده او ډيره پرته هم وه سړکونه هم يخ سوي وه، د موټرانو بيروبار ډير و. څلورم تونل ته چي را و رسيدو،موټران په کتار ولاړ دي،بيخي ترافيک جام دي،موږ هم خپل موټر چي سراچه موټر راسره وو،تر نورو موټروانو شاته و دروی، لاره بنده وه پوره درې ساعته مو انتظار وکړ. تر څو د سمع الله نفس تنگ سو او له موټره راشوه سو.

ما ورته وويل:

چي چيري مه ځه داسي نه وي سره ورک سو ،دا خو ناولده ځای دی بيا به سره پيدا کولي نسو.

(c) ketabton.com: The Digital Library

خو سمع الله راته وويل:

نفس مي بيخي تنګ سو، زه ځمه ګورمه چي ولي لاره بنده ده بير ته دستي راځم،دا يې موږ ته وويل او ولاړى ،تر يوه ساعت لا ډير وخت تير سو،چي د سمع الله درک معلوم نسو،موږ ټول ډير وارخطا سوو چي ولي دومره وځنډېدى،اخير ما له دا نورو ملګرو سره مشوره وکړه چي زه به پسي ور سم ،هغوى راته وويل:

داسي نه وي ته هم پسي ورک سې.

ماور ته وويل:

يا زه نه ځنډېږم دستي راځمه.نو زه هم پسي ور روان سولم تر ډيره ځايه راغلم،ګورم چي ډير خلک سره راټول سوي دي زه هم ورغلمه د خلکو منځ ته ،له يوه نه مي پوښتنه وکړه چي دا څه کيسه ده چي دومره خلک سره راټول سوي دي؟

هغه راته وويل:

واوره را ښويدلې ده،لاري يې بندي کړي دي او ډير خلک هم تر لاندي سوي دي،اوس دا نور خلک کوښــښ کوي چي لاره خلاصه او مړي له واوري څخه را و باسي .

ما ته چي يې د واوري د ښويدو وويل زړه مي په زوره زوره و درېدى،ماويل داسي نه وي چي سمع الله پکښي کي وي نو به څه کوم،نور هم مخته ورغلم هر څومره چي مي يوې خوا بله خوا کتل سمع الله مي په ستر ګو نه سو،تر څو هغه خلکو ته ورغلم چي دا مړي يې له واوري راکښل،ما هم له دوى سره مرسته شروع کړه او مړي مي رايستل. درې مړي چي مو را و ايستل څلورم چي مونيمى را و ايستى،خپله سمع الله دى ما چي سمع الله و ليدى نور په ځان نه يم پوهيدلى چي څه په را و سوه ،يو وخت وو چي پر سد راغلم خلکو لا لاره

(c) ketabton.com: The Digital Library

نه ده خلاصه کړې او سمع الله یې له واوري څخه را کښلی وو او یو ګوښه ځای یې ایښی وو یو چا پټو هم وربانديي اچولی وو، زه هلته پر هغه ځای هم ورته هکي حیران پاته سوم چې دا څه و سول،نو مي سمع الله هلته پرهغه ځای پرېښودی او راغلمه خپلو نورو ملګرو ته،هغوی ته مي وویل چي سمع الله خوتر واوري لاندي سوی او مړ سوی دی ،راځی چي را یې وړو، ټولو راباندي وخندل چي مسخرې کوې ،یو هم له موټره نه راکښته کیدی،زما خبري درواغ ورښکاره کېدې ډېره خوامي هم ورته شنه کېده. بیا مي ورته وویل چي رښتیا درته وایم ،هغه تر واوره لاندي سوی دی ،راځی چي را یې وړو، نور هم ډیر مړي سوي دي لاره په داغه خاطر بنده ده ،ما هغه خپله له واوري را وه ایستی ،راځی چي هغه راوړو،ما چي دوی ته دا وویل، نو بیا دوی هم له موټره را شوه سول او سمع الله ته راغلو ، دوی چي سمع الله ولیدی داسي سول لکه یو چا چي ټک وربانديي کړی وي حیران پاته سول ،ما ورته وویل:

حیران مه پاته کېږی ،ژر یې در واخلی چي موټر ته یې و رسوو،بیا مو نو په ټولو موټر ته راوړی، د موټر د شاه چوکۍ (سیټ) مو ورته هوار کی او دی مو پکښي کښېښودی، اوس نو د لاري د خلاصیدو انتظار یو، پوره اته ساعته لاره بنده وه او موږ ورته انتظار وو،وروسته بیا لاره خلاصه سوه او حرکت مو را وکی، راتلو راتلو تر څو کابل ته پر یوولسونیمو بجو را و رسېدو،وخت هم ډیرناوخته وو،په دې خاطر د شپي یوولس نیمي بجې ډیرناوخته وي ، موږ نو یوه هم ډوډۍ نه وه خوړلې او نه مو څه څښلي وه اشتهاه نو د کمه وه په دا وخت کي،د خوابدۍ له خاطره هیڅ شئ خوند نه کوي،بیخي مو لوږه هیره وه او موټروان موناولده وو،هغه ته مي ورپام سو،چي دی غریب خو مو په لوږه مړ کی،هغه ته مي وویل ته چي هر ځای ډوډۍ خورې و یې خوره یا دي

(c) ketabton.com: The Digital Library

هرشي ته زړه وي،زموږ خو اشتهاه نه ورته کيږي ته خو خپله ډوډۍ و خوره ، موټروان هم يو هوټل ته ودريدې خپله ډوډي يې و خوړله او بيا مو حرکت را و کی، پوره دوولس نيمي بجې وې چي چوک ارغندی ته را و رسېدو ، پر چوک يې و درولو،پوليسو اجازه نه راکول چي ولاړ سو،راته ويل يې په لاره کي خطر دی تاسو ته اوس اجازه نسته .

ما ورته وويل:

زموږ سره مړی دی موږ خو له مستيه څخه نه ځو،که هغوی و درولو هم به څه راته و نه وايي ،کورونه مو ډير ليري دي په دې خاطر چي لږ ژر و رسيږو ،نو پو ليسو هم اجازه راکړه،چي که هرخطر په لاره کي درته پيښ سو،مسئوليت ستاسو دی، ځی نو په مخه مو ښه،بيا مو له هغه ځايه حرکت را و کی تر څو چي دلته را و رسېدو، دلته چي را و رسېدو د سهار شپږ بجې وې، ډير ستړي او ستومانه وو .لومړی مو سمع الله خپل کور ته و رسوی ،کور چي يې له سمع الله خبر سو، نو وير ورباندي ګډ سو، ټول کوريې په ژړا سو،موږ يې ژړا نسوای زغملای نو له کوره يې را و وتلو او سمع الله مو هلته پرېښودی، تر درو ساعتونو وروسته مو له هغه ځايه څخه مسجد ته را وړی،وروسته تا ته راغلو او ته مو خبر کړې، دغه کيسه وه او داسي پيښه راته و سوه.

زما هم ډيره خوا ورباندي بده سوه ،رښتيا هم چي د ګور شپه نه پر کور کيږي ،د چا چي ورځ پوره سي نو بيا په هيڅ وجه نه پاته کيږي، نو مي احمد او ملګرو ته ځايونه وا چول،چي تاسو خپل خوب پوره کی سهار به سره وينو،دوی هم بيده سول،سهار اووه بجې وې،چي ورته راغلم او زموږ له کوره را و وتو ،راغلو مسجد ته د فاتحي لپاره د فاتحې مراسم هم ترماځيګره پوري خلاص سول، نو احمد راته وويل چي ولاړ به سو د سمع الله زيارت به وکړو،د سمع الله ورونه هم هلته

(c) ketabton.com: The Digital Library

وه،هغوی هم ویله چې ور سو ښه به وي،نو ټول ورغلو زیارت ته زیارت مو وکی ، د سمع الله وروڼو ښه ښایسته بیرغونه هم ورته جوړکړي وه،ډیري کلمې یې باندي لیکلي وې ،هغه یې هم د سمع الله پر شنا ختو ځړولي وې، د ماښام تر اذانه پوري هلته وو،بیا له هغه ځایه راغلو د احمد کره،ډوډۍ مو هلته وخوړه وروسته له ډوډۍ څخه احمد وویل:چې زه سهار کندهار ته ځم تر څو د سمع الله د قبر له پاره ډبره جوړه کړم.

ما ورته وویل:

چې زه هم درسره ځم .

احمد راته وویل:

ته نو څه کوې،ولي ځان په عذابوې ته دلته کارونه لرې .

ماورته وویل:

هیڅ کار نه لرم او نه په تکلیف کیږم .

احمد بیا وویل:

ستا کار دی چې راسره ځې نو سهار سره ملګري یو.

سهارمو ډیر وختي حرکت را و کی، زه او احمد سره ملګري وو،په لاره کي مو ډیري خبري سره وکړې ،بیخي په دا سفر نه یو پوهیدلي چې څنګه را و رسیدو. هلته په یوټکسي موټر کي کښېنستو او د ډبرو د جوړولو دوکان ته ورغلو،هلته څو رقمه ډبري جوړیدې.په دواړومو یوه ډبره خوښه کړه،عنوان موهم ورته انتخاب کئ او هغه ډبره جوړونکي هم عنوانورباندي وکښی کوم چې موږ ورته ویلی وو ،ډبره یې راته جوړه کړه او بیا بیرته راغلو،تر هر څه له مخه دواړه ورغلو د سمع قبر ته،دعا مو ورته وکړه او پر قبر مو ډبره کښېښوده ،بیا احمد راته وویل ،چې دنیا څومره بې وفا ده، موږ خو ټوله باندي خطایو او وایو چې دنیا نه بلکي انسانان بې وفا دي،خو په اصل کي دنیا بې وفا او فاني ده ،له

(c) ketabton.com: The Digital Library

هیڅ سره یې وفا نه ده کړې او نه یې کوي او نه یې پر چا زړه سوځي ، نه ځوان ته ګوري نه کوچني ته ،نه خان ته ګوري او نه مسکین ته، که څوک ښه کوي نو د اخیرت لپاره دي ښه کوي،ځکه دنیا خو د هیڅا هیڅ شي ته نه ګوري او نه یې پر چا زړه سوځي .

ما ورته وویل:

ته خورښتیا وایې هر څوک چې په دنیا کې ښه کوي نو د اخیرت غم دي خوري،ځکه بیا په اخیرت کي چا ته نه پیسې په درد خوري نه نوم او نښان ، خو چې په درد چاته خوړل کیږي ،هغه د چا ښه عمل دی، وروسته بیا راغلو خپلو خپلو کورو ته،کور ته چې را و رسېدم ګورم چې شین خالی خاله هم راغلې ده ،ستړې مسې مي ورسره وکړه،هغې پوښتنه راڅخه وکړه چې چیري تللی وې؟

ماهم د سمع الله کیسه سر تر پایه ټوله ورته وکړه.

شین خالی خاله راته و ویل:

خدای(ج) دي ټول مسلمانان و بخښي،کورنۍ ته دې خدای(ج) صبرجمیل ور په برخه کړي،دلته خو خاص د ځوانانو مرګ راغلی دی،خو دا به هم د الله اراده سوې وي،که زما په رقم سپین سري یا سپن ږیري مړه سي خو د چابه دومره خوا نه وربانديي بدیده،خو د انسان په لاس نه دي نه څه کولای سي،الله دي هغه ځوان وبخښي او زموږ دعاوي دي ور و رسیږي ،د شین خالی خاله هم خوا وربانديي بده سوه،دا یې هم راته و ویل چې نن سهار زرغونه درپسي راغلې وه ،ډیره وارخطاء معلومېده،ستا پوښتنه یې راڅخه وکړه ،چې که هرځای وي ډیر ضرور مي په کار دی که دي را پیدا کی ،نو زه نه سوم پوه چې څه به یې کولې،د خندا په ډول یې راته و ویل چې مینه مو لکه چې نوره هم ستا د کوزدې

(c) ketabton.com: The Digital Library

په کولو سره توده سوې ده ،ولې دي نه کوله ،هغه خوستاوړ وه او بیا دي پرېښوده ولې؟

ما ورته وخندل چې یا هغسې نه ده ،زرغونه ډېره ښه نجلۍ ده،خوهغه یې پخوا لا پلار بل چاته ورکړې وه، زه اوس فقط دوستي ورسره لرم،په زړه کې دا تشویش راته پیدا سو،چې ضرور یوه کیسه خو پېښه ده .دستي په هغه ساعت را ولاړ سوم او د زرغونې کورته راغلم.ګورم چې په کورکې یې یوازې د زرغونې مورده.د هغې څخه مې پوښتنه وکړه ،چې خیر خو به وي چې زرغونه په ماپسې راغلې وه،او اوس چیرې ده؟

د زرغونې مور راته و ویل چې د زرغونې پلار تیر ماښام ډېر سخت په تکلیف سو، نو مو هغه روغتون ته بوتلی ،تر سهاره پورې سیرومان او پیپچکارې ورچالنه وې،تر اوسه پورې یې فرق نه دی کړی،زه او زرغونه هم ترسهار ورته ویښې ناستې وو،سهار زرغونه په تا پسې درغله تر څو چې ته دلته په روغتون کې ورسره پاته سې، موږ ډېر وارخطاء وو او نه مو څه کولای سوای ، نه په څه باندې پوهیدو، ښه سو چې ته راغلې زه زرغونې دلته پرېښودم،چې ته پر کور اوسه زه به ورته پاته سم.نو دوی دواړه هلته په روغتون کې دي ،که ته هم ورسې ښه به وي، زه هم له هغه ځایه راغلم روغتون ته ،دوی مې په روغتون کې پیدا کړل،نظرجان اکا مې هلته ولیدی دومره په تکلیف وو چې بیخي زما زړه باندې کباب سو،سیرومان ورته چالان وه اکسیجن یې هم ورکړی وو،خبرې یې نسوای کولای بیسده پروت وو،له زرغونې مې پوښتنه وکړه ،چې څه مریضي ورته پیښه سوه؟

زرغونې راته و ویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماښام مخکې له ډوډۍ يې هم ساه بنده بنده کېده او پر سينه يې لاس نيوی،ما اوبه ورته را وا خيستې ،اوبه يې و څښلې يو څه ارم سو،وروسته تر ډوډۍ بيا ډېر په عذاب سو ،بيخي يې ساه نسوای اخيستلای او پر زړه يې لاس ايښی وو،دا يې ويل چې زړه مې زړه مي،ما دا ګمان وکئ چې مړ سو ډېره وارخطاء سومه،په هغه نيمه شپه کې مې روغتون ته راروستی، ستاسو کره نسوای در تللای چې خبر کړی مې وائ، اوس يې د ماښام راهستې نه خبره کړې ده او نه يې څه ويلې دي،په دغه خيال دی لکه وينې چې يې.

ماورته وويل:

خدای(ج) به هرڅه اسانه کړي.په دغه وخت کې يو ډاکټر راغی،يوه نسخه يې ليکلې وه چې دا دوا ته ضرورت دی ورته راپې وړی،ما هغه نسخه له ډاکټر څخه را واخسته او له بازاره مې هغه دوا ورته راوړل کومه چې ډاکټر راته په نسخه کې ليکلې وه،هغه دوايې ورکړه خوهيڅ فايده يې نه ورته رسيده،تر څو چې ډاکترانو راته و ويل چې علاج يې نه کيږي ،که يې هر ځای ته يو سی،د ژوند اخيري شـپـې يې دي ،تر څلورو ورځو پوري بيچاره نظرجان اکا ډېر په تکليف تيري کړې ،په دا پنځمه ورځ د ماښام پر اتوبجو يې ساه وخته او د ژوند اخيري شپه يې سوه ،زرغونې ژړاوې ورباندې شروع کړې،خو د روغتون ډاکټرانو دلاساېې ورکوله،مګر هغې يې پر خبرو هيڅ غوږ هم نه نيوی،ځکه پلار يې د هغې له پاره يو لوی غر وو او دې به دا ويل کاشکې يې زه پر ځای مړه سوې وای.

ماورته وويل:

ته اوس ژړا پرېږده ،درځه چې کورته يې يوسو، د روغتون ډاکټرانو هم زموږ سره امبولانس واستوی او د زرغونې تر کوره يې را و

(c) ketabton.com: The Digital Library

رسولوو،دغه شپه يې پر خپل کور وکړه،سهار مو وختي جنازه مسجد ته راوړه ،په ټولو مسجدو کي مو اعلانونه وکړل،دقبر لپاره مو هم خلک وا ستول او زه راغلم په احمدپسي هغه مي په خبر کی،چي نظرجان اکا وفات سوی دی.هغه هم راسره روان سو او مسجد ته راغلو او له مسجده مو جنازه را واخسته تر هديرې پوري ،قبر يې تيار سوی وو،لمونځ مو ورکی، او وروسته مو خاورو ته و سپاری،يو ساعت لا هم هلته معطله سوو،بيا ما احمد ته و ويل:

زه به ورسم د زرغونې کورته او له دوی سره به و اوسم،ته راسره ځې.

احمدخپل جيب ته لاس کی ،له جيبه يې شل زره افغانۍ را وکښلې ماته يې راکړې چي دا ورکړه ،خو زه نه سم درسره تللای.

ما هم له احمده پيسې را واخستې او د زرغونې کورته راغلم،ګورم چي زرغونه په غمو کي داسي غرقه وه،دونه ډيره خوايې بده وه چي بيخي يې ماته پام سوی هم نه دی،ور برغ مي کړل چي زرغونې خو د زرغونې هيڅ نه راپام کيږي، د دوهم ځل لپاره مي بيا وربرغ کړل زرغونې.

دا وار يې راته پام سو او راته و يې ويل:

آا! څه وايې.

ماورته و ويل:

په څه چورتو کي ورکه سوې.

هغې راته و ويل:

بيخي نه پوهيږم ،چه په کوم چورت کي ومه،چيري يمه،چيري اوسېدمه،چير ته تلمه ،سر مي نه خلاصيږي ،خو دومره پوهيږم ،چي خدای(ج) مي له سره څخه اسمان ليري کی،پر ما ډير

(c) ketabton.com: The Digital Library

غمونه،خواری،تکلیفونه او هر سخت راغلی دی،خو تر ټولو دغه د پلار مړینه ډیره ګرانه راته تمامه سوه،هر څه چي مي درلودل هغه راڅخه ولاړل ،بیخي له ژونده څخه بېزاره یمه.

ماورته وویل:

دومره ژر هم مه نا امیده کېږه،که ته دومره غمونه او اندیښني و کړې ،نو ځان ته دي تاوان دی ،ستا په غمو او اندیښنو خو بیرته نه را ژوندی کیږي،صبر کوه خدای(ج) به درباندي مهربانه سي،وسواس مه کوه ځکه وسواس کولو ته دي شیطان هڅوي او له خدایه(ج) دي ناراضه کوي،که ته دومره پر ځان فشار را ولې،نو مور خو دي بیا بیخي پر ځان فشار راولي،د هغې په خاطر له دې کارونو او چورتونو څخه لاس واخله،مرګ خو حق دی ،هیڅوک هم ژوندي نه پاته کیږي،که انس دی که جن،هر ژوندی جسم باعث د مرګ ګرځي،نه زه پاته کېږم نه ته پاته کېږې ،ټول مړه کیږو او پر مرګ باور لرو،دا خبري مي ورته و کړې او له جیبه مي د احمد پیسې او زما سره هم یو څه وې را وکښې او هغې ته مي ور کړې او ورته و مي ویل:

زه وړی یم که کوم څه پاته وي نو راته تیار یې کړه،زرغونه هم ولاړه سوه هګی یې را ماتي کړې ،هغه یې راوړې نو ما زرغونه او مور یې هم راسره شریک کړله په ډوډۍ خوړلو باندي مو پیل وکړ او په ټولو مو یوځای په خوند و خوړه ،دوی مي بیخي چورتوته نه دي پرایښي ،چي و ژاړي یا غم زورورباندي وکړي،شپه مو په دغه رقم سره تیره کړه،سهار مو د نظرجان اکا فاتحه هم واخسته،ختم مو هم پسي و کی،تر یوې هفتې پوري زه د زرغونې سره د شپې او ورځي ومه،اخیر ته د زرغونې مور راته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

تاته نوره اجازه ده اوس موږ یواځي پرېږده،ته به تر څو پوري راسره په تکلیف یې،ته هم خپل کور لرې ،د غومره وخت چي دي راسره تیر کی لا دي کور ودان،خدای(ج) دي خیر درکړي.

ماورته وویل:

تاسو زه څنګه یواځي پریښودلای سم ،ما ته د خپل کور له خوا هیڅ مشکل نسته ،زما د کور له خوا تاسو هیڅ غم مه کوی.

بیا زرغونې راته وویل:

مور مي رښتیا وایي،اوس هم ډیر راسره سرګردانه سوې،ستا دا احسان به زه ټول عمر در ادا نه کړم .

ماورته وویل:

دا خبري خو مه کوه،څه مي درسره کړي دي ،ما خو وعده درسره کړې ده،چي په هر مشکل کي درسره ولاړ یم.

زرغونې وویل:

څه به لا راسره کوې ،څه دي نه دي راسره کړي،ستا او د احمد ښه به زه ټول عمر هیرنکړم.

ماورته وویل:

مخامخ د چا صفت کول ښه نه وي،ښه نو چي تاسو راته وایاست نو به ولاړ سم ،نو مي خدای پاماني ورسره وکړه او له کوره یې را و وتلم،پوره لس دوولس شپې و سوې چي نه وم ورغلی، نویوه ورځ مي ځان بیکاره کی او ورغلمه.

دستي زرغونې راته وویل :

چیري یې د انځر ګله،بیخي ورک ورک یې،موږ خو دي هیر کړي یو.

ماورته وویل:

(c) ketabton.com: The Digital Library

رښتیا هم چي ډیر درته ملامت یم، وار مي نه جوړیدی چي درته راسم یو کارنه یو کاربه راته پیدا سو،ډیره بخښنه غواړم.

زرغونې و ویل:

هسي مسخرې مي درسره کولې،ښه سو چي راغلې موږ هم دیغ سوي وو،بیخي مو نفس ختی ،دا اوس دستي ستا دراتلو له مخه یوه مرکه هم راته راغلې وه ،مورمي ورته و ویل:چي موږ پر دې حال یو،تاسي اوس ولاړ سی موږ به مشوره وکړو.

هغوی ویل:تاسي مشوره وکړی موږ به انشاءالله په یوه هفته کي بیر ته درته راځو،دوی خواران نوزما له عمله څه خبر دي،چي ما څه نه دي کړي.

ما ورته و ویل:چي تا هیڅ هم نه دي کړي،ته به خپل تیرسوی ژوند په ذهن کي لا هم نه در ګرځوې،چي تیر سو هغه هیر سو،په تا خو هغوی نه دي خبر او نه درباندي خبریږي او که درباندي خبر هم سول ،ته به یې نه ورسره منې او نه زه دا کیسه چاته کوم او نه یې په خوله راوړم،د احمد له طرفه هم خاطرجمعه اوسه چي هیچا ته به نه وایې او که څوک خبرهم سول نو موږ به ورته پښېمانه سو،چي دا هسي تور ور باندي لګیدلی دی،نو که ما دوست ګڼې او زما منې نو دغي مرکې ته ځواب مه ورکوه،ځکه اوس خوته هم یواځي یې او مور دي هم یواځي ده،که له ځان او مور سره دي ښه کوې نو زما خبره و منه اودا دوستي له لاسه مه ورکوه ،ژوند بې ملګري نه تیریږي ، له فکرونو به خلاصه سې،له وام او ترس څخه به خلاصه سې،له یواځیتوب څخه به خلاصه سې،له غمو څخه به خلاصه سې،له ناروا څخه به خلاصه سې، که هوس ده هم بالا بس ده، خدای(ج) به دي ژوند ور سره خوشاله کړي تل به خوشاله یې،اوس خو دي پلار نسته او مور به دي هم ستا سره اوسي،تا ته الله(ج)

(c) ketabton.com: The Digital Library

داسي حسن او ښايست درکړی ،چي ليوني به هم درته ځاريږي،هيڅکله به څوک له دې رازه خبر نه سي او که خبر هم سول نه به يې مني ، بيامي د زرغونې مورته هم و ويل: چي ته ورته و وايه چي په دې کار راضي سي.

مور يې هم ورته و ويل: دا چي دوی هم درسره همکاري کوي او درباندي خوشاله دي نو ته څه غواړې او د چا پروا لرې لوري،زه هم خوشالېږم چي ستا ژوند خوشاله او برابر وي،ټول عمر به زه نه يم درسره،يوه ورځ نه يوه ورځ به مړه يم،بيا به بيخي يواځې سې او د کمک لپاره به څوک نه لرې،اوس زه هرڅه درسره کولای سم،زما دعا هميشه در سره مل ده او زما خبره به پر مځکه نه غورځوې لوري ، بيا ورته احساساتي سوه ،چي که دې دا مرکه قبوله نه کړه، خپلې شيدي نه دربخښم.

زرغونې چي د مور دا جدي حالت وليدی، نو يې ورته و ويل:زه دې ستا پښو ته صدقه سم،ستا هري بلاته دي و درېږم موري،ستا هره فيصله ماته منظور او قبول ده، که مي ټول عمر په سره اور هم تير سي ،زه يې ستا له وجي قبلوم ،دا خو زما د ژوند د ښه کيدو خبره ده، که ته راته و وايې چي ځان سره اورته واچوه،زه يې د سر په ستر ګو منم او اورته لوېږم،بلکُل زما ستا فيصله قبوله ده،زما اختيار ستا وو او ستا دی.

ما چي د زرغونې له خولې څخه دا خبري وا ورېدې ډير خوشاله سوم،چي د مور او زما خبره يې و منله،نو مي د زرغونې مور ته و ويل: چي مرکه بيا څه وخت راځي؟

هغې راته و ويل:

چي کيدای سي په دا يوه هفته کي را سي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ماور ته و ویل:

چي تاته يې کور معلوم دی؟ .

هغې راته و ویل:

هو کور يې رامعلوم دی .

ما ورته و ویل:

د پخوانيو خلکو متل دی ،چي پر ښو تلوار او پر بدو تامل،هر څونه چي دا کار ژر سره رسيږي دغومره بهتر دی،نو مي د زرغونې مور ور وا ستوله چي هسي ورسي او دا دوستي سره و رسوي،چي موږ دوستي درسره کوو ،نو هغه غريبه هم دستي را ولاړه سوه او ورغله ،ما او زرغونه يوائي سره پاته سولو،ورته ويل مي :چي که دا دوستي سره و رسېده ډير به ښه سي او زه به ډير درڅخه خوشاله سم،دا به دي پر ما يو لوی احسان وي.

زرغونې راته و ویل:

که داسي وي نو احسان به مي نه هيروې.

ماورته و ویل:

بيخي يې نه هېروم،تر دريو ساعتو پوري ما او زرغونې خبري کولاې او مور يې هم راغله ،ماته يې تبريکي راکړه،چي کار سره و رسېدی او زموږ دوستي يې قبوله کړه،صبا ته له خيره سره راځي ستن او تار وړي.

زه ډير خوشاله سوم نو مي د زرغونې مور ته و ویل:

دا چي پر مادي دا زيری و کی،نو د ستن او تار ټول مصرف زه کوم هغه هم ستا د زيري په بدل کي،دستي را ولاړ سوم بازار ته راغلم او ټول هغه شيان کوم چي ضروری وه هغه مي ورته راوړل،چي دا سبا ته تيار کړی ترڅو چي مو دوستان راځي ،بيا مي له دوی څخه رخصت را

(c) ketabton.com: The Digital Library

واخستې او ورته و مې ويل چې زه بيا سبا راځمه،راغلمه کور ته او د سبا په انتظار وم ،په رښتيا هم چې دا شپه له خوشالۍ څخه راباندې اوږده سوه ،سهار لس بجې وې چې ورغلمه،لومړی مې د زرغونې مور وليده چې ډېره خوشاله مالوميده،پوښتنه مې ځنې وکړه،چې کار سره و رسېدی؟

هغې راته و ويل:

چې هو کار په خير سره و رسېدی، ستن او تار يې يو وړل،کله چې يې دا خبره راته وکړه نو بيخي بې حده خوشاله سوم،نو مې ورته و ويل:

چې ښه سو دا کار هم سره و رسېدی،چيرې ده زرغونه؟

هغې راته و ويل:په خپله خونه کې ده،ته چې راغلې نو له شرمه ننوتله خونې ته.

زه هم خونې ته پسې ورغلم، زرغونې له شرمه څخه راته کتلای نسوای،نو مې ورته و ويل:

چې اوس زما څخه هم شرمېږې ،کله نا کله شرم هم د خوشالۍ سبب ګرځې،تا ته دې ستا خوشالي مبارک وي،مبارکي چې مې ورکړه،نو مې د اخيرې ځل لپاره په غيږ کې ټينګه و نيول او ورته و مې ويل:

چې زما خبرې په ياد لره،پخوانۍ کيسې له ذهنه و باسه ،نه ما ته پېژندلې او نه تا زه پېژندلم، پس له نن څخه د خوشالۍ،سوکالۍ او نيکمرغۍ ژوند او اوږد عمر در ته غواړم.

۰۱-۰۳-۱۳۸٦

پای

(c) ketabton.com: The Digital Library

Y

Y

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**